آیا اسلام صرف دَ مونځ، روژے او دَ نورو څو عباداتو نوم دے یا دَ زندگۍ په ټولو شعبو باندے حاوی یو مکمل دستور حیات
او دَ کامل نظام زندگۍ نوم دے ؟ دَ دے اهم سوال په جواب باندے مشتمل یو عام فهم او جامع کتاب.

# دین کامل

## یعنی

# مکمل نظام حیات

پښتو




مرتب
مولانا مفتی محمد ایاز درانی
صاحب حفظہ اللہ



العلم پبلیکیشنز
العلم پبلیکیشنز

دَ دین اسلام په مفهوم او فلسفه باندے جامع او مختصر کتاب

# د ینِ کامل

## یعنی

# مکمل نظام حیات


**تالیف**: ابو معاویه مولانا محمد ایاز صاحب

**پشتو ترجمه**: قاری فضل کریم عارفؔ


☆☆☆


**ناشر** :

اشاعت اکیډمی محله جنګی پیښور

Mob:0300-9391643

﴿ټول حقوق په حق دَ ناشر محفوظ دی﴾

☆☆☆

دَکتاب نوم: دینِ کامل

مصنف: ابو معاویه مفتی محمدایازصاحب

صفحات: 145

کمپوزنګ اینډ ډیزائننګ: سمیع الله شبقدر خیر آباد چوکی

مترجم: قاری فضل کریم عارفؔ

تعداد: ۱۰۰۰

تاریخ اشاعت: ذی قعده ۱۴۳۱ھ اکتوبر ۲۰۰۹ء

☆☆☆

ناشر:

اشاعت اکیډمی اینډ پرنټنګ ایجنسی

عبدالغنی پلازه محلّه جنګی پیښاور

091-5515698, 0300-9391643

# فهرست مضامین


| | |
|---|---|
| ☆ تمهید | 4 |
| ☆ اسلام څه ته وائی | 5 |
| ☆ **اسلامی نظامِ عقائد** | 9 |
| دَ اسلام اوهم او بنیادی عقائد | 12 |
| دَ عقیدو قسمونه | 13 |
| وجود باری تعالیٰ | 15 |
| توحید | 19 |
| دَ شرک تعریف | 22 |
| دَ شرک اسباب | 25 |
| آخرت باندے ایمان | 30 |
| قبر اوعالم برزخ | 32 |
| رسالت | 34 |
| دَ انبیاؤ بشریت | 34 |
| معجزات | 38 |
| عصمتِ انبیاءصلی اللہ علیہ وسلم | 40 |
| ختم نبوت | 41 |
| صحابه کرامؓ | 44 |
| سلف صالحین او ائمه مجتهدین | 47 |

| | | |
|---|---|---|
| | په ملائیکو باندے ایمان | 50 |
| | په کتابونو ایمان | 51 |
| | په تقدیر ایمان | 54 |
| ☆ | **دَ اسلام نظام عبادات** | 59 |
| | مونځ | 60 |
| | روژه | 63 |
| | زکواة | 66 |
| | حج | 70 |
| | نفلی عبادتونه | 75 |
| | ضروری خبردارے | 76 |
| | جهاد | 79 |
| | دعوت وتبلیغ | 83 |
| ☆ | **دَ اسلام نظامِ اخلاق** | 87 |
| | اخلاق حسنه او سیئه | 88 |
| | دَ تهذیب اخلاق طریقه | 90 |
| | دَ اخلاقو اهمیت | 91 |
| ☆ | **دَ اسلام نظام معاملات ،معاشیات** | 93 |
| | دَ اسلام نظامِ معاش | 96 |
| | دَ معاملاتو شرائط | 98 |
| | دَ اسلامی نظام معاش اصول | 99 |

| | | |
|---|---|---|
| | دَ دولت مستحقین | 101 |
| | دَ سرمائے لگولو صورتونه | 103 |
| ☆ | **اسلامی نظام معاشرت** | 106 |
| | اسلامی معاشره | 107 |
| | خاندان | 114 |
| | خپلولی | 114 |
| | محله۔ گاونډی او شهریت | 115 |
| | جومات | 115 |
| | دَ نبی ﷺ جومات او دَ هغے کردار | 116 |
| | تعلیم | 117 |
| ☆ | **اسلامی نظام سیاست او ریاست** | 119 |
| | اسلامی سیاست | 122 |
| | توحید او رسالت | 123 |
| | خلافت او ریاست | 124 |
| | دَ اسلامی ریاست مقاصد او ذمه داری | 128 |
| | دَ مسلمانانو کوتاهی | 132 |
| | دَ دے طریقه کار | 138 |
| | مراجع | 143 |


☆☆☆

بسم اللّٰہ الرّحمٰن الرّحیم

الحمد للّٰہ الّذی ھدانا لکامل الدین الاسلام والصلوۃ والسلام علی نبیه الّذی شرّح الدین باوضح البیان وعلی اٰله واصحابه ھم معیار الایمان وعلی العلماء الّذین علّموا النّاس دین الاسلام اما بعد!

فاعوذ باللّٰہ من الشیطن الرّجیم

بسم اللّٰہ الرّحمٰن الرّحیم

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا ادۡخُلُوۡا فِى السِّلۡمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوۡا خُطُوَاتِ الشَّيۡطٰنِ اِنَّهٗ لَكُمۡ عَدُوٌّ مُّبِيۡنٌ ﴾ [بقره:۲۰۸]

"اے ایمان والو! په اسلام کښې پوره پوره داخل شئی او دَ شیطان قدم په قدم تلل مه کوئی ، واقعی هغه ستاسو ښکاره دشمن دے۔"

دَ دنیا هر رشتینے او دروغژن مذهب، هر مفید او غیر مفید جماعت او هر ښه او بد تنظیم دَ پاره څه بنیادی اصول او یو څو فکری او اعتقادی بنیادونه ضروری وی کومو سره چه دَ هغے مقاصد او سمت متعین وی ۔ دغه څیزونه دَ دغه مذهب یا جماعت اراکینو او منونکو دَ پاره دَ بنیادی دستور حیثیت لری ۔ کوم سړے چه دَ دغه جماعتونو ، مذهبونو یا انجمنونو رکن جوړیدل غواړی نو هغه مخکښے دغه بنیادی خبرو ته ګوری ، کـه چرے دا هغه ته خوښے راشی ، دَ هغے په درست والی ئے یقین اوشی ، دَ ده ذهن او فکر دغه خبرے قبولے کړی او دَ ده شکوک او شبهات لرے شی نو دے دَ دغه جماعت ممبر جوړیدلو سره دَ هغه په اراکینو او متبعینو کښے شمولیت اختیار کړی۔ دے نه

پس په هغه باندے لازم شی چه دَ دستور مطابق ټول فرائض پوره کړی ، او په خپل طرز او روش سره په بنیادی اصولو باندے دَ خپل ایمان او خلوص ثبوت پیش کړی ، او دَ هغے بنیادی اصول دِ هر وخت یاد ساتی۔ دَ هغے نه خلاف دِ هیڅ کار نه کوی بلکه خپل انداز او اطوار او طرز عمل سره دِ دَ دے جماعت دَ مقاصدو اعلیٰ نمونه جوړ شی او خپل عملی ژوند سره دِ نورو ته په دے جماعت کښے دَ شاملیدو دعوت ورکړی۔

ګویا دَ یو جماعت رکن جوړیدلو معنیٰ دا ده چه رکن دے دَ دغه جماعت نظام سره پوره واقفیت لری ، دَ دے دَ اصولو پابند دِ وی ، دَ دے دَ احکامو اطاعت دِ کوی او خپل پوره ژوند دِ دَ دے مطابق تیر کړی ۔ دا یوه عامه قاعده ده چه دَ دے اطلاق په یو عام مسلمان باندے هم مَن وعَن همدغسے کیږی۔

## اسلام څه شئے دے؟

انسان چونکه کمزورے دے په دے وجه دَ ده عقل دے وسیع و عریض کائناتو ته دَ رسیدلو او دَ ماضی ، حال او مستقبل پیژندلو نه قاصر دے ۔ په دے وجه انسان دَ پاره صحیح راه عمل او متوازن نظامِ حیات صرف هغه ذات وضع کولے شی چا چه دے پیدا کړے دے۔ دے خالق چه دَ ژوند کوم نظام دَ پیریانو او انسانانو کامیابئی دَ پاره وضع کړے دے هغے ته دین اسلام وائی۔ اسلام الله طرف ته دَ بندګانو رهنمائی دَ پاره دَ اخروی ، ابدی او دنیا او آخرت کامیابو ضامن ، دَ هر

دور او هر ملک وملت دَ پاره دَ اصلاح او فلاح جامع نظام او پروګرام (Complet System) دے کوم چه دَ هر دور دَ انسانانو او پیریانو دَ ګذشته،موجوده او آئنده مسائلو حل دے ـ نور رائج الوقت مذهبونه او دَ ژوند نظامونه دَ اسلام لحاظ سره په څه نه څه شان بغیر دَ څه شک او شبهے نامکمل دی کوم چه دَ پوره انساني ژوند احاطه نشی کولے ، حال دا چه صرف اسلام یو همه ګیر او عالمګیر نظام حیات دے کوم چه دَ ژوند هر شعبے او اړخ خواه که هغه نظریات او عقائد وی ، عبادات او معاشرت وی ، معیشت او سیاست وی ، انفرادیت وی یا اجتماعیت وی دَ ټولو په باره کښے یو مکمل او جامع پروګرام لری ـ کوم سړے چه په اسلام کښے داخلیدل غواړی په هغه باندے لازم دی چه دَ ټولو نه مخکښے هغه دَ اسلام عقلی بنیادونه قبول کړی او دَ هغے پوره تصدیق اوکړی دَ پاره دَ دے چه هغه دَ ده عقیده جوړه شی او بیا دِ دَ اسلام احکام په عمل کښے راولی ـ هر کله چه یو سړی دَ پورته ذکر شوؤ عقائدو او احکامو په زړه سره تصدیق اوکړو او په ژبے سره ئے اقرار اوکړو نو دے مسلمان شو ـ ګویا اوس دے دَ اسلامی حکومت حقیقی شهری جوړ شو۔ او ده ته هغه ټول حقوق حاصل شو کوم چه یو مسلمان ته حاصل وی ، او ده دَ هغه ټولو فرائضو ادائیګی قبوله کړه دَ کومو ادا کول چه دَ اسلام ترمخه په یو مسلمان باندے واجب دی۔ اسلام صرف دَ الله دَ منلو او مونځ کولو نوم نه دے څنګه چه دَ بعضے جُهّال او دَ دین دَحقیقی روح نه دَ ناخبرو نام نهادو خیال دے او نه صرف دَ سیاست نوم

دے څنګه چه دَ اقتدار په نشه کښے دَ مَستو اوړو ،دروغژنو مدعیانِ سیاست رائے ده او نه دَ ماده پرستو او دنیا پرستو خلقو دَ خیال مطابق صرف دَ معاشیاتو او دنیا حاصلولو نوم دے بلکه دَ انسانی ژوند ټولو نظریاتو او اعتقاداتو، عباداتو،افعالو او کردار ، معاملاتو او تعلقاتو او دَ معاشرت او سیاست په باره کښے واضحو احکامو باندے مبنی شپږ رکنی نظام :

(۱) عقائد (۲)عبادات (۳) اخلاق

(۴) معاملات(معاشیات) (۵) معاشرت (٦) سیاست او ریاست

باندے مشتمل یو مکمل دین دے۔ دَ کوم چه یو جُز او رکن اختیارول او نور احکام او دَ ژوند شعبے نظر انداز کول دَ اسلام دَ روح نه خلاف ده ۔ غرض دا چه دَ اسلام پیش نظر دنیوی ترقی او کمال سره سره اخروی سعادت او رضائے الهی حاصلول لازمی دی او دا دَ دین او دنیا یو قوی امتزاج دے۔

همدا وجه ده چه دَ اسلام اعتقادی ، عبادتی ، اخلاقی ، معاشی ، معاشرتی او سیاسی نظامونه دَ یو بل نه جدا کولے او بیلولے نشی بلکه ټول دَ یو بل سره لازم او ملزوم دی ۔ لیکن دَ هر عمل ، حکم او رکن او دَ دین پوخوالے، عقائدو سره بهر صورت پیوست دے یعنی عقیده دَ دے ټولو شعبه هائے حیات دَ پاره بمنزله دَ جرړ او بنیاد ده او هر عمل او حکم برګ وبار،دنیوی او اخروی جزا ، عقیدے سره لازمی طور باندے مربوط دی ۔ که چرے دَ چا اعمال او اخلاق ، معاملات ، معاشرت او سیاست په ظاهره درست په نظر راځی لیکن دَ هغه عقیده کومه چه دَ دے تمام نظام دَ اساس او بنیاد حیثیت لری صحیح نه وی نو

دا تمام بے فائدے او ''کبیت العنکبوت'' دی ۔ اوس دَ دے مکمل دین اسلام دَ شعبه هائے حیات ( شپږو ارکانو) ترتیب وار مختصر تذکره کولے شی دَ پاره دَ دے چه مونږه دَ اسلام حقیقی روح او فلسفے نه واقف شو او دَ دے داعیان او قائمونکی جوړ شو۔

☆☆☆

# ﴿دَ اسلام نظامِ عقائد﴾

(Islamic Faith System)

پـه اسـلام کښې عقایدو ته بنیادی حیثیت حاصل دے چه دَ دے نـه بـغیـر دَ اسلام عمارت اوچتیدلے نشی او هیڅ عبادت یا نیک عمل دَ صـحیـح عـقیـدے نـه بـغیر دَ الله رب العزت په دربار کښې قبلوالے نشی حاصلولے ۔ په دے وجه دَ عقائدو درست والے پریښودل او دَ باقی اعمالو او احـکامـو پـه ځائے راوړلو والا انسان مثال په شګه باندے دَ بنیاد ایخودلو انسان پشان دے ۔ دَ دے خبرے وضاحت قرآن پاک داسے کړے دے :

﴿وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا اَعۡمَالُهُمۡ كَسَرَابٍ بِقِيۡعَةٍ يَّحۡسَبُهُ الظَّمۡاٰنُ مَآءً ؕ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَهٗ لَمۡ يَجِدۡهُ شَيۡـًٔـا وَّوَجَدَ اللّٰهَ عِنۡدَهٗ فَوَفّٰٮهُ حِسَابَهٗ ؕ وَاللّٰهُ سَرِيۡعُ الۡحِسَابِ﴾ [النور:۳۹]

”او کوم خلق چه کافران دی دَ هغوی عملونه داسے دی لکه په یـو ډاګـه میدان کښې چه سراب (شګوګل) وی چه تږے ورباندے دَ اوبو ګـمان کـوی ، تر دے پورے چه کله ورله راشی نو هیڅ بیا نه مومی او دَ الـلـه قـضا یعنی مرګ بیا مومی ، نو الله ورله حساب برابر کړو ، او الله تعالیٰ ډیر زر حساب اخستونکے دے۔“

دَ مـوجـوده دور خرابـو شوؤ حالاتو نه تنګ شوؤ ډیرو خلقو او سیاسیانو دا مزاج جوړ شوے دے چه هغوی هر هغه سړے چه دَ انقلاب نـعـره اولـګـوی یا یو لوئے طاقت ته چیلنج ورکړی، نو دَ هغه دَ عقیدے

هر خرابے او دَ افکارو او نظریاتو هر کوږوالے او خرابوالے او انحراف معاف کوی،دَ اسلام خلاف عقیده لرونکو سره اتحاد کوی او دَ عقیدے مسئلے نه بالکل صرفِ نظر کوی، بلکه التہ چه کوم خلق په داسے موقعه باندے دَ عقیدے بحث راپورته کړی او دَ دغه سړی دَ عقائدو په باره کښے څه سوال اوکړی نو دَ ملامته کوی ئے یا په هغوی باندے کله دَ باطل قوتونو سره ساز باز کولو الزام هم لګوی او کله دَ حالاتو دَ نزاکت په آړ کښے دَ عقیدے خبره او اهمیت نظر انداز کړی ۔ دَ دوی دا طرزِ فکر او طرزِ عمل ، عقیدے له اهمیت نه ورکول دینی مزاج او نبوی طریقے سره هیڅ مناسبت نه لری۔

حالانکه دَ عقیدے او عمل خپلو کښے تعلق دَ تخم او اونے پشان دے چه څنګه تخم وی هغسے اونه وی۔ چه عقیده درسته او مضبوطه وی نو عمل به صحیح او قابلِ قبول وی۔ همدغه شان که چرے عقیده غلطه وی نو په اعمالو باندے به اثر پریوځی، دے دَپاره دَ حیات او کائنات په باره کښے د درستے او صحیح عقیدے او تصور حصول دَ انسان بنیادی ضرورت دے ۔ دَ ژوند په باره کښے دَ یوے معاشرے اختیار کرده عقیده او تصور چه څومره جامع او کامل وی هغه هومره به دغه معاشره مضبوطه او پائیداره وی ۔ دَ دے برعکس چه تصور حیات څومره ناقص او عارضی وی هغه هومره به دَ هغے بنیاد باندے اوچتیدونکے معاشره کمزورے ، منتشره او متزلزله وی لهذا دَ اسلام عقیدهٔ حیات وَ کائناتو دَ نورو مذاهبو په مقابله کښے

یقینا یو جامع او کامل تصور زندګی پیش کوی۔

او همدا دَ دے اسلام امتیازی شان او نمایان خصوصیت دے چه په دے کښے عقیده باندے زور او اصرار او دَ تولو نه مخکښے دَ دے دَ حاصلولو تاکید دے ۔ دَ حضرت آدم علیه السلام نه واخله تر خاتم النبین ﷺ پورے تمامو انبیاؤ کرامو علیهم السلام دَ یوے معینے عقیدے کومه چه هغوی ته دَ وحی په ذریعه ملاؤ شوے وه دعوت ورکولو ، او دَ دے مطالبه ئے کوله او دَ دے په مقابله کښے دَ هیڅ قسم مفاهمت یا دست بردارئی ته تیار نه شول ، په خپل دعوت او شریعت کښے ئے هیڅ ترمیم یا تغیر وتبدل ګواره نه کړو ۔ دَ هغوی په نزد دَ مداهنت او دَموقف بدلولو هیڅ ګنجائش چرے هم نه دے پیدا شوے۔ انبیاء علیهم السلام دَ هغه عقائدو،دعوت او پیغام او شریعت باره کښے کوم چه هغوی راوړی وی ډیر غیور او ذکی الحس واقع شوے وی ۔ دَ عقائدو او حدود الله په باره کښے دَ هر دور انبیاء علیهم السلام دَ فولاد نه زیات بے لچک او دَ غر نه زیات مضبوط وی۔ دَ هغوی په نزد دَ بهتر نه بهتر اخلاقی ژوند او اعلیٰ نه اعلیٰ انسانی کردار حامل ، دَ نیکئی او صلاح ، سلامت روئی او معقولیت ژوندے پیکر ، دَ عمل او عباداتو مثالی مجسم (خواه دے سره دَ یو بهتر حکومت قیام ، دَ یو صالحے معاشرے وجود او دَ یو مفید انقلاب ظهور شوے وی) هغه وخت پورے هیڅ قدروقیمت نه لری ترڅو پورے چه هغه دَ دے عقیدے منونکے نه وی کومه چه انبیاؤ علیهم السلام راوړے ده او ترڅو پورے چه هغه

تول کوششونه او کاوشونه صرف دَ همدے عقیدے په بنیاد باندے نه وی دَ کوم دعوت چه دَ هغوی دَ ژوند نصب العین وو۔ همدا هغه حد فاصل او واضح فرق دے کوم چه دَ انبیاؤ علیهم السلام او قومی رهنمایانو،سیاسی لیډرانو اودَ عامو انقلابیانو په مینځ کښے دے۔

## دَ اسلام اهم او بنیادی عقائد:

**ایمان مفصل:** ﴿اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرَ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ﴾

په دے کښے مختصر طور سره دَ اسلام اهم او بنیادی عقائد ذکر دی۔ چه په هغے کښے په الله باندے ،فرشتو باندے، کتابونو باندے، رسولانو باندے ، آخرت باندے، په تقدیر باندے او دَ مرګ نه پس دوباره ژوند باندے ایمان راؤړل ضروری دے۔

په دغه تمامو عقیدو کښے توحید ، آخرت او رسالت ته امهات العقائد یعنی بنیادی عقیدے وائی ۔ دَ دے دریو عقیدو امتیازی خصوصیت دا دے چه انبیاء علیهم السلام چه دَ کوم ژوند پیغام دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه راوړی دَ هغے پوره نظام په همدے دریو بنیادونو باندے قائم وی او هم هغه سړے دغه ژوند خپلولے شی څوک چه دا درے بنیادے عقیدے تسلیم کړی ۔ ګویا دَ اسلامی نظامِ زندګی دا درے فکری او اعتقادی بنیادونه دی ، دے دَ دے وجے نه دَ دے خاص اهمیت دے۔

## دَ عقائدو اقسام:

عقائد په دوه قسمه دی، یا داسے اووائی چه دَ دے دوه درجے دی:

۱: یو هغه چه دَ کومو ثبوت دَ رسول الله ﷺ نه داسے قطعی او یقینی دے کوم کښے چه دَ هیڅ شک او شبهے ګنجائش نه وی او په هر دور کښے دے ته داسے تواتر او داسے عام شهرت حاصل وی چه دَ هغے په وجے سره په دے کښے دَ هیڅ قسم تاویل ګنجائش نه وی ، دَ کومو څیزونو ثبوت چه دَ رسول الله ﷺ نه دَ دے درجے وی، دَ اهل علمو په اصطلاح کښے هغے ته ضروریات دین وائی۔

"امهات العقائد" یعنی توحید ،رسالت،قیامت او آخرت دَ دے رومبی قسم عقیدے دی۔ دَ دے نه علاوه دَ قرآن مجیدد الله کتاب کیدل، په آخرت کښے دَ جنت او دوزخ شته والے ، دَ فرشتو یو مستقل مخلوق کیدل ، همدغه شان دَ رسول الله ﷺ نه مخکښے په دنیا کښے دَ ډیرو پیغمبرانو راتلل او دَ حضور ﷺ خاتم النبیین یعنی دَ ټولو نه آخری نبی کیدل او دَ نبوت سلسله په هغوی باندے ختمیدل،دا ټولے هم دَ همدے درجے عقیدے دی چه دَ دے ثبوت هم دَ رسول الله ﷺ نه همدغسے یقینی او قطعی دے څنګه چه دتوحید ،رسالت او قیامت۔ او دے ته دَ همدے درجے تواتر او په هر دور کښے دَ همدے قسم عام شهرت په امت کښے حاصل شوے دے۔

دَدے وجے دَ دے ټولو خبرو حکم هم دا دے چه په دے کښے دَ

یوے خبرے انکار کولو سره هم سړے مسلمان نشي پاتے کیدے۔ اګرچه دَ ده دا انکار دَ څه تاویل اخستلو سره ولے نه وی۔

۲: دویم قسم عقائد هغه دی دَ کومو ثبوت اګرچه قابلِ اطمینان او پوخ دے لیکن دَ دے درجے قطعیت او داسے تواتر دغه عقائدو ته حاصل نه دے دَ کوم نه پس چه دَ څه احتمال او تاویل ګنجائش نه پاتے کیږی۔

دَ دویمے درجے دَ عقائدو مثال کښے عذابِ قبر،دَ قیامت او آخرت بعضے تفصیلات مثلا میزان،صراط،شفاعت،رؤیت باری تعالیٰ وغیره پیش کیدے شی۔دَ قیامت نه مخکښے دَ دجال ظاهریدل او دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام راکوزیدل او دغه شان بعضے نورے دَ قیامت علامو درجه هم دا ده یعنی دَ دے ثبوت دَ رسول الله ﷺ نه اګرچه قابلِ اطمینان او پوخ دے لیکن دَ "ضروریاتِ دین" دَ معیار نه نه دے ۔ دے دَ پاره دَ څه شبے یا تاویل په بنیاد باندے په دے کښے دَ یو څیز انکار کول اګرچه دَ سختے درجے ګمراهي ده لیکن دے ته کفر یا ارتداد نشي وئیلے کیدے۔

عرض دا چه په دے عقائدو کښے دَ ټولو نه مخکښے ایمان بالله دے چه دَ دے مطلب دا عقیده او نظریه لرل دی چه مونږ له ژوند راکونکے او دَ دے ټول جهان او کائنات پیدا کونکے او په خپل قدرت او حکم سره دَ دے ټول جهان چلونکے یو خالق او مختار ضرور موجود دے کوم چه په خپل ذات ، صفاتو ، افعالو او حکم او فیصله کښے یکتا او واحد لا شریک دے۔

## وجود باری تعالیٰ:

انسـان دَ پـاره دَ الله وجود منل چه دَ دے کارخانه قدرت یو قدیم صـانـع کـوم چـه به همیشه همیشه اوسی دَ دے قائل کیدل یو ضروری امـر دے چه یو داسے ذات کوم چه دَ دے کائنات زمکے آسمان ،حیوان او دَتهول عالم پیدا کونکے موجود دے چه دَ هغه نه بغیر دَ هیڅ څیز وجود نـامـمـکـن دے۔ ولے چه هر کله څوک سلیم العقل انسان یو جوړ شوی څیـز تـه ګـوری نـو دَ هـغـه ذهـن دَ دغـه څیـز جـوړونکی طرفته منتقل کیـږی ، مـکـان تـه کتـلـو سره دَ مـعمار او مشین ته کتلو سره دَ مُوجِد تصور ذهن ته راځی۔ ولے چه مونږ دا سوچ نه شو کولے چه یو مکان یا مشیـنـری دَ معمار او موجد نه بغیر جوړیدے شی۔ بس هم دغه شان په کـائـنات باندے غور کولو سره ضرور دَ هغے جوړونکی خیال به ذهن ته راځـی ځـکـه چـه صـحیـح ذهـن دَ دے خبـرے تصور هم نشی کولے چه دومـره لـوئـے مـنظم او مربوط نظام دَ جوړونکی نه بغیر خود به خود په وجـود کښـے راغـلـے وی ۔ دَ الـلـه وجـود باندے بے شماره عقلی او قرانی دلائـل مـوجـود دی کـوم چه اکثر بیانولے شی لیکن مونږ به دلته په یو نـوی طرز باندے دَ الله دَ وجود دَثبوت په باره کښے خبره کوؤ۔ کوم خلق چـه په وجود باری تعالیٰ باندے یقین لری او کوم خلق چه دَ دے نه منکر دی ، دَ دے دواړو دَ حیثیـت چـه جـدا جدا جائزه واخستے شی نو خبره به پخپله کولاؤ شی۔

☆ هغه خلق یعنی انبیآءؑ چا چه انسانان وجود باری تعالیٰ طرفته دعوت کړی او دَنبوت دعوے ئے کړے ده،دا دعوه کوی چه مونږه الله تعالیٰ سره دَهم کلامی ، انتهائی قرب ، او دَ مناجاتِ حقیقی شرف حاصل کړے دے۔ او دا خبره هغوی دَ څه اندازے او ظن او تخمین په بنیاد باندے نه کوی بلکه دَ انتهائی واضحے ذاتی تجربے او مشاهدے په بنیاد باندے دا وائی کومے سره چه غیر متزلزل یقین او ایمان یو ځائے دے۔ دَ دے برعکس کوم خلق چه دَ وجود الهی نه منکر دی ، هغوی سره دَ دے قسم هیڅ دعویٰ نشته ، هغوی سره دَ عقل نه علاوه بل هیڅ یقینی ذریعه دَ علم هم نشته ، هغوی هره خبره دَ عقل په کسوټئی باندے دَ تلولو کوشش کوی ، کومه خبره ئے چه په پوهه کښے راشی هغه منی او کومه چه په پوهه کښے نه راځی دَ هغے دَ منلو نه انکار کوی۔ دَ هغوی افکار هغوی لره زیات نه زیات ظن او تخمین پورے رسوی۔ هغوی ته پخپله هم په خپلو افکارو باندے غیر متزلزل یقین حاصل نه دے۔

☆ دَ وجود باری تعالیٰ حامی خلق انبیاء علیهم السلام مختلفو زمانو او مختلفو ځایونو ته راغلی دی، څوک عربو ته ، څوک مصر ته ، څوک زر کاله مخکښے ، څوک زر کاله پس، څوک یو وخت کښے او څوک بل وخت کښے، لیکن دا ټول خلق په خپلے دعوے کښے یک زبان دی ، دَ دوی تعلیمات هم بنیادی طور باندے یو شان دی ګویا کښے دوی ټول دَ هم یو ذریعه تعلیم نه مستفید راروان دی۔ دَ دے برعکس دَ وجود

باری تعالیٰ منکرین همیشه مختلف الخیال وی خواه که نژدے نژدے اوسی او که لرے لرے، که یوه زمانه کښے وی یا مخکښے روستو وی ، دَ ټولو نظریات په خپلو کښے مختلف وی، په خپلو کښے ئے هیڅ اتفاق نیشته۔

☆ حضراتو انبیاء کرامو علیهم السلام چه یو ځل کومه خبره اوکړه نو ټول عمر دَ پاره هم هغه ئے تعلیم جوړ شو په هغے کښے چرے دَ تغیر او تبدل ضرورت محسوس نه شو، دَ هغوی هره خبره ایمان او یقین کامل سره وی۔ دَ دے برعکس دَ وجودِ باری تعالیٰ منکرین په مختلفو مسائلو کښے په خپله رائے باندے یقین نه لری ، په هغوی کښے دَ رائے دَبدلوالی مثالونه بے حده کثرت سره ملاویږی۔ دَ هغوی دَ اکثرو مفکرینو حال دا دے چه پرونه پورے ئے کومه نظریه پوره زور سره پیش کوله ، نن هغوی دَ دغه ړومبئی نظریے تردید اوکړو او یو نوے نظریه ئے پیش کړه۔

☆ دَ وجود باری تعالیٰ داعیان په خپل کردار یعنی راستبازئی ، امانت،صداقت،حسنِ خلق په هر څیز کښے دَ خپلے معاشرے ممتاز ترین انسانان دی ، دَ کومے خبرے تعلیم چه ورکوی دَ ټولو نه مخکښے په خپله هغے باندے عمل کوی۔ دَ دے برعکس دَ وجود باری تعالیٰ منکرین دَ کردار په معامله کښے دَ انبیاوکرامو علیهم السلام په مقابله کښے انتهائی کمزوری دی ۔ اکثر داسے شوی دی چه دَکومو نظریاتو پرچار چه هغوی کړے دے پخپله ئےورباندے عمل نه دے کړے۔

☆ دوجود باری تعالیٰ داعیان په دے دنیا کښے دَ خپلو ګاونډیانو او

خپلوانو په مینځ کښې هم انتهائی کامیاب ژوند تیروی،په ظاهره دَ تکلیفونو باوجود انتهائی مطمئن، انتهائی ایثار پیشه او آخر کار په خلقو کښې انتهائی معزز او دانشمند انسانان ګنړلے شوی دی۔ دَ دے برعکس دَ وجود باری تعالیٰ منکرین دَ تمامو دنیاوی آسایشونو حاصلولو باوجود هم انتهائی پریشان حاله او ناکامه په نظر رائحی۔ په دوی کښې ډیر مفکرین داسے دی چه دَ دنیا نه تنګ راغلی دی او خودکشی ئے کړے ده۔

☆ دَ انبیاؤ علیهم السلام په باره کښې دَ انسانیت تاریخ دا متفقه فیصله اوړوی چه دَ ټولو نه زیات هم دوی انسانیت متاثر کړے دے۔ دَ ټولو نه اهم اصلاحی انقلابونه دَ دوی په وجه راغلی دی او په همدے وجه جزیرهٔ عالم باندے دَ دوی دوام ثبت دے۔ دَ دے برعکس وجود باری تعالیٰ دَمنکرینو خلقو دا پوزیشن نه دے ۔ انسانیت دَ هغوی دَ تعلیماتو نه څه زوَر اثر نه دے اخستے او نه هغوی دَ څه اهم اصطلاحی انقلاب باعث جوړ شوی دی۔

اوس که چرے دا ټول نکات مخے ته کیښودے شی نو عقل سلیم به بغیر تردده دَ وجود باری تعالیٰ داعیانو یعنی انبیاؤ علیهم السلام په حق کښې فیصله ورکړی۔ سمه خبره دا ده چه په زرګونو بلکه دَ لکهونو په تعداد کښې دومره عقلمندو، پاک سیرتو او صادق القول خلقو په اتفاق سره تر ننه پورے دَ بلے کومے نظریے تائید په دومره قوت او یقین او ایمان سره نه دے کړے ۔ بل دا چه دَ داسے پاکیزه سیرتو

او دومره کثیر تعداد خلقو په مختلفو زمانو او مختلفو مقاماتو کښې په دې دعوې باندې متفق کیدل چه دغه ټول (نبیانو) سره یو غیر معمولی ذریعه دَ علم ده او هغه وحی ده ، یعنی الله تعالیٰ سره براه راست خبر او پیغام ، او بیا دَ دې ټولو حضراتو هم یو دعوت ورکول ، دَ هم یو تعلیم پرچار کول او دَ هغې دَ پاره انتهائی سخت تکلیفونه برداشت کول حتی چه په دې لاره کښې دَ ځان نه هم لاس وینځل ، ځوک زر میله مشرق کښې دې ، ځوک زر میله مغرب کښې دې ، ځوک زر کاله مخکښې ، ځوک زر کاله روستو ، لیکن هم یو پیغام ، هم یو دعوت ، هم یو تعلیم ، هم هغه توحید ، هم هغه دَ آخرت عقیده ، هم هغه دَ ښو اخلاقو پرچار ! آیا دا محض یو اتفاقی خبره ده؟ دې ته اتفاق خو صرف هغه سړے وئیلے شی چه دَ چا عقل وهلے شوے وی۔

## توحید باری تعالیٰ:

دَ انسان ژوند کښې د الله دَ وجود دَ قائل کیدلو نه پس دَ ټولو نه اهم کار، دَ الله تعالیٰ وحدانیت باندې ایمان راؤړل دی، څومره انبیاء او رسولان علیهم السلام چه انسانیت طرفته لیګلے شوی دی دغه ټولو دَ توحید دعوت ورکړے دے ، لیکن دَ دې باوجود هغه مسئله کومه چه خلقو دَ ټولو نه زیاته کوتاهی کړے ده هغه دَ توحید مسئله ده۔ دَ توحید مسئلے او دَ الله تعالیٰ وحدانیت باندې عقلی دلیل دا دے چه که چرې دَ دنیا پیدا کونکی دوه یا زیات خدایان وې نو هرګز به په دنیا کښې

هیڅ یو څیز هم وجود کښې نه وو راغلے ، او نه راتلے شی او دا ټوله قدرتی کارخانه به بالکل درهم برهم شوے وے څنګه چه په قرآن کښې دی:

﴿لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا﴾ [انبياء:٢٢]

"که چرے زمکه او آسمان کښې یو الله نه سوا نور خدایان هم وے نو دَ زمکے او آسمان دواړو نظام به وران شوے وو۔"

ولے چه یو خدائے به یو کار کولو او بل به دَ هغے نه خلاف بل کار ، مثلا یو خدائے به په دنیا کښې باران ورول غوښتل او بل به دَ هغے خلاف باران بندولو ، یو به یو سړی له ځوئے ورکول غوښتل او بل به ورله لور ورکول غوښتل ۔ علیٰ هذا القیاس ،دغه شان دَ دغه خدایانو په مینځ کښې به دَ جنګ او جګړے سلسله جاری وه څنګه چه دَ دنیا دَ بادشاهانو حال دے ۔ او کله به یو په بل باندے او دویم به په ړومبی باندے غالب راتلو ، او کله به یو دَ بادشاهئی په تحت باندے مستوی کیدلو او کله بل۔

﴿ وَمَا كَانَ مَعَهٗ مِنْ اِلٰهٍ اِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍۭ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ﴾ [مؤمنون :٩١]

"او نیشته دے هغه سره ثوک بل خدائے ، که چرے داسے وے نو هر خدائے به خپل مخلوق ځان له بیل کړے وے او په یو بل به ئے حمله کړے وه۔"

﴿قُلْ لَّوْ كَانَ مَعَهٗۤ اٰلِهَةٌ كَمَا يَقُوْلُوْنَ اِذًا لَّابْتَغَوْا اِلٰى ذِى الْعَرْشِ سَبِيْلًا ○ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يَقُوْلُوْنَ عُلُوًّا كَبِيْرًا﴾ [بنی اسرائیل:٤٢-٤٣]

"ته دوی ته اووایه ! که چرے الله تعالیٰ سره نور خدایان هم وے څنګه چه مشرکان وائی نو په داسے حالت کښې به هغوی ضرور دَ

عرش مالک خدائے طرفته دَ جګړے دَ پاره لاره ویستے وے۔ نو پاک او اوچت دے الله تعالیٰ دَ هغه خبرے نه کومه چه دا مشرکان کوی۔"

بهر حال دَ دنیا دا نظام چه بغیر دَ څه فساد او ورانی نه جاری او ساری دے نو دا دَ الله تعالیٰ دَ وحدانیت دلیل دے۔

پس توحید وائی الله تعالیٰ لره په خپل ذات، صفاتو، اسماؤ، افعالو او فیصله او قانون کښے ایکی یو وحده لا شریک له ګنړلو سره صرف دَ هغه عبادت او اطاعت کول۔ او همدا دَ کلمے طیبے ړومبی جُز لا اله الا الله مطلب او مقصد دے چه دَ الله نه سوا هیڅوک اله ، حاجت روا ، مشکل کشا، دَ عبادت لائق ، عالم الغیب ، حاظر او ناظر ، متصرف، برکات ورکونکے ، غائبانه چغے اوریدونکے ، هر ځائے نه په هر حال کښے ، دَ لرے نزدے نه ، دَهر چا اوریدونکے او کتونکے ، دَ عزت ذلت مالک، دَ رکوع سجدے ، طواف ، نذر ونیاز لائق، اولاد او برکات ورکونکے ، بیماری او تکلیف لرے کونکے ، حاکم او قانون جوړونکے ، دَ حاکمیتِ اعلیٰ حقدار دَ الله نه سوا نوری ، ناری ، خاکی ،فرشته او پیرے ، انسان ، نبی ،ولی،بزرګ هیڅ یو مخلوق هم نه دے۔

دَ قرآن بیان هم دغه دے چه:

﴿وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ج لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَالرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ﴾ [بقره:۱٦۳]

"او ستاسو ټولو اله هم یو اله دے دَ هغه نه سوا بل هیڅوک اله نیشته هغه ډیر رحم کونکے او ډیر مهربان دے۔"

## دَ شرک تعریف:

څیزونه دَ خپلو اضدادو نه پیژندلے کیږی۔ دَ توحید معرفت حاصلولو دَ پاره ضروری دی چه مونږ ته دَ شرک حقیقت هم معلوم وی۔ شاه ولی الله دهلویؒ فرمائی:

﴿وَالشِّرْكُ اَنْ يُّثْبَتَ لِغَيْرِ اللّٰهِ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى شَيْئٌ مِنَ الصِّفَاتِ الْمُخْتَصَّةِ بِهٖ﴾[فوز الکبیر:۲۰]

شرک دا دے چه دَ الله تعالیٰ خاصو صفاتو نه یو صفت غیر الله دَ پاره ثابت کړے شی۔"

دَ شرک معنیٰ صرف دا نه ده چه څوک دَ الله تعالیٰ هَم مرتبه او همسر اوګرځولے شی بلکه دَ شرک حقیقت دا دے چه سړے چا سره هغه کار یا هغه معامله اوکړی کومه چه الله تعالیٰ خپل بلند او بالا ذات سره خاص فرمائیلے ده او کومه ئے چه دعبودیت یعنی بندګئی شعار جوړ کړے دے لکه دَ چا په وړاندے په سجده پریوتل ، دَ چا په نوم قربانی کول، منختے کول ، په مصیبت او تنګئی کښے چا نه غائبانه مدد غوښتل او دا ګنړل چه هغه هر ځائے کښے حاظر او ناضر دے ، عالم الغیب دے ، کائنات کښے ئے متصرف ګنړل۔ دغه شان کائنات کښے دَ اسمانی برجونو ، سیارو تاثیر باندے اعتقاد لرل ، په کائناتو ، نجومیانو او دَ غیب خبرے ښودنکو باندے اعتماد کول ۔ دا ټول هغه څیزونه دی کومو سره چه شرک لازمیږی او انسان دے سره مشرک کیږی خواه که

دَ هغه دا اعتقاد ولے نه وی چه دا انسان، فرشته ، یا پیرے ، نبی یا ولی یا قبر والا دَ چا په وړاندے چه دے په سجده پیروځی یا دَ چا دَ نوم چه قربانی کوی ، منختے منی او چا نه چه مدد غواړی، دا دَ الله تعالیٰ نه دَ ډیرے مرتبے او مقام والا دے ، او خواه که دامنی چه صرف الله تعالیٰ خالق دے او دے دَ هغه بنده او مخلقو دے ، په دے معامله کښے انبیاء ، اولیاء ، پیریان او شیطانان ، بلا اشا تهول برابر دی۔ څوک چه په دوی کښے چا سره هم دا معامله کوی هغه به مشرک ګرځولے شی ، صفا ذهن ، ژور والی او دَ حق دَ تلاش جذبے سره دَ قرآن پاک مطالعے نه دا خبره روښانه کیږی چه دَ رسول الله ﷺ دَ زمانے کافرانو به خپل باطل معبودان دَ الله تعالیٰ سره بالکل همسر او برابر نه ګنړل بلکه هغوی دا تسلیموله چه دوی مخلوق او بندګان دی، دَ هغوی چرے دا عقیده نه وه چه دَ دوی معبودان ګنی دَ الله تعالیٰ نه په قدرت او طاقت کښے په هیڅ شان کم نه دی او دَ دوئ الله تعالیٰ سره یو برابر دی بلکه دَ هغوی کفر او شرک صرف دا وو چه هغوی به خپل باطل معبودان رابلل ، هغوی ته به ئے فریاد کولو ، په هغوی به ئے منختے اچولے ، او دَ هغوی په نوم به ئے قربانئے کولے ، هغوی به ئے مشکل کشا ، کارساز، او دَ الله تعالیٰ په نزد وسیلے او سفارشیان ګنړل ، دے دَ پاره هر هغه څوک چه چا سره هغه معامله کوی کومه چه کفارو او مشرکانو خپلو باطلو معبودانو سره کوله نو ګویا کښے هغه دَ دے اقراری شو چه هغه یو مخلوق او دَ الله بنده دے ۔ په ده کښے او دَ جاهلیت دَ زمانے لوئے نه لوئے بت پرست

او مشرک کښې به په حیثیت دَ مشرک کیدلو هیڅ فرق نه وی۔

همدا بت پرستی ، بذرګ پرستی او شرک ، عالمګیر او طویل العمر او سخت جان جاهلیت دے کوم چه دَ یوے زمانے سره مخصوص نه دے او همدا دَ نوع انسانی قدیم ترین او مهلک ترین مرض دے کوم چه دَ انسانی تاریخ دَ ټولو ادوارو تمدن ، معاشرت ، معیشت او سیاست او تعلیم ټولو تغیراتو او انقلاباتو باوجود هم نوعِ انسانی پسے لګیدلے دے۔ دا هرګز جائز نه دی چه دَ نوؤ اصلاحی او دعوتی تقاضو او زمانے دَ نوؤ ضرورتونو اثر سره دَ تردید شرک اهمیت کم کړے شی او دَ دعوت و تبلیغ بنیادی اصولو کښې دے، دے له ضمنی حیثیت ورکړے شی یا سیاسی اطاعت او دَ انسانانو وضع کړے شوے کوم نظام او قانون قبلول او دَ غیر الله عبادت په یوه درجه کښې اولرلے شی۔

یا دا اوګنړلے شی چه شرک جاهلیت قدیم کله چه انسانی ذهن او علم او تمدن دَ ماشو موالی په دور کښې وو، یوه بیمارئی او خرابئی او دَ جهالت یو بیکاره او خراب شکل وو، کوم چه انسان صرف په غیر ترقی یافته او غیر تمدن دور کښې اختیار ولے شی ، اوس دَ هغے دور ختم شو او انسان ډیره ترقی کړے ده ، اوس یو ذهنی انحراف په نوؤ نوؤ ترقی یافته شکلونو کښے ظاهریږی ۔ دا دعویٰ او طرزِ فکر دَ مشاهدے او تجربے او واقعاتو نه خلاف ده ، او ارشاد نبوی ﷺ سره متصادم ده۔ دَ نبی کریم ﷺ ارشاد دے:

﴿اَلشِّـرْکُ فِـیْ هٰـذِهِ الْاُمَّةِ اَخْـفٰـی مِـنْ دَبِیْـبِ النَّمْلَةِ السَّوْدَآءِ عَلٰی

صِفَاۃِ السَّوۡدَآءِ فِیۡ ظُلۡمَۃِ اللَّیۡلِ﴾

[رواہ ابن سنی فی عمل اللیل والنہار:۱۰۵،مسند احمد]

’’ پـه دې امت کښې شرک پـه داسې پټ شکل کښې راځی څـرنګ چـه پـه تـوره شپه کښې په تو کانړی (ګټ) باندې دَ تور میږی دَ تللو رفتار وی۔‘‘

نـن هـم شرک او بت پرستی په اعلانیه طور باندې موجود ده ، او پـوره پـوره قومونه ، پوره پوره ملکونه حتی چه بعضې مسلمانان په شرک جلی کښې مبتلا دی او د قرآن دا اعلان نن هم صادق دې چه:

﴿وَمَا یُؤۡمِنُ اَکۡثَرُھُمۡ بِاللّٰہِ اِلَّا وَھُمۡ مُشۡرِکُوۡنَ﴾ [یوسف:۱۰۶]

او پـه دوی کښې دَ اکثرو حال دا دې چه په الله باندې یقین سره سره هم الله سره شریکان ګرځوی۔‘‘

## دَ شرک اسباب:

عام طور سره شرک لاندینو اسبابو سره راځی:

### (۱) دَ بزرګانو په تعظیم کښې غلو:

انسـانی تاریخ ګواه دې چه دَ توحید دَ لارې نه اخوا کیدلو او په شـرک کښې دَ ګـرفتـاریـدلـو تولو نـه لوئې سبب دَ انبیـاؤ ، اولیـاؤ او صالـحانـو پـه تـعـظیم کښې انتهـا پسندی او دَ لیونتوب حده پورې محبت دې ۔ همدا محبت شخصیت پرستی او یادګار پرستئی طرفته بـوتلل کوی۔ همدې محبت حضرت عیسیٰ علیه السلام ،رام چندر او

کرشن له دَ بنده نه دَ خدائے مرتبه ورکړه او نن دَ محمد رسول الله ﷺ او دَ حضرت علیؓ او دَ اولیاؤ دَ محبت دعویدارو هم دا حال دے ۔ دا خلق دَ محبت شرعی آدابو نه هڅو واقف نه دی ۔ همدے ړوند محبت ته قرآن غلو فی الدین فرمائیلے دے:

﴿یٰٓاَھۡلَ الۡکِتَابِ لَا تَغۡلُوۡا فِیۡ دِیۡنِکُمۡ﴾ [نسآء:۷۱]

اے اهلِ کتابو! په خپل دین کښے غلو (دَ حد نه تیریدل) مه کوئی۔"

همدے دَ پاره نبی ﷺ امت ته تعلیم ورکولو او اوئے فرمائیل :

﴿لا تطرونی کما اطرت النصاری عیسی بن مریم فانما انا عبده فقولوا عبد الله ورسوله﴾ [بخاری ومسلم]

"څرنګ چه نصاراؤ خپل نبی عیسیٰ علیه السلام دَ خپل حد نه زیات کړے وو ، تاسو ما سره دا معامله او نه کړئی ، پس زه دَ الله بنده یم نو ما ته دَ هغه بنده او دَ هغه رسول ﷺ وائی۔"

## (۲) په صفات الهیه کښے شرک:

یعنے خلق دَ الله په هغه صفاتو کښے کومو کښے چه دَ هغه هیڅوک شریک نشی کیدے ، انسانان شریکوی مثلاً دَ الله صفت سمیع او بصیر کښے مخلوق ، انبیاء ،اولیاء او دَ قبر والا په دے صفت کښے دا شان شریکول چه هغوی هر ځائے کښے دَ لرے نزدے نه هر څوک لیدے شی او دَ هر چا خبره اوریدے شی ۔ همدغه شان دَ کائناتو په امورو کښے تصرف او علم غیب دا صفات صرف دَ الله تعالیٰ سره خاص دی۔

لیکن ډیر خلق دا عقیده لری چه انبیاو ، اولیاء ، پیر او فقیر ،

فرشته او پیرے عالم الغیب دی ، دَ پټو خبرو علم لری او دوی له دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه دومره قوت او اختیار ورکړے شوے دے چه هغوی څه غواړی کولے شی، دَ اولاد او برکتونو ذمه وار دی ، حالانکه قرآن پاک دَ نبی کریم ﷺ چه افضل البشر او سید الرسل دے دَ هغوی باره کښے اعلان کوی:

﴿قُلۡ لَا اَمۡلِكُ لِنَفۡسِیۡ نَفۡعًا وَّلَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ وَلَوۡ كُنۡتُ اَعۡلَمُ الۡغَیۡبَ لَاسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ الۡخَیۡرِ وَمَا مَسَّنِیَ السُّوۡٓءُ﴾ [اعراف:۱۸۸]

" اے پیغمبره ﷺ! دوئ ته اووایه چه زه ( محمد ﷺ) خپل ذات دَ پاره هم دَ څه نفعے او نقصان اختیار نه لرم ، مګر څه چه الله اوغواړی هغه کیږی۔ (او نه عالم الغیب یم ولے چه) که چرے ماته دَ غیب علم وے نو ما به ډیرے فائدے ځان دَ پاره حاصلے کړے وے او ماته به چرے څه نقصان رسیدلے نه وو۔"

**(۳) درمیانی واسطے او وسیلے:**

دَ شرک په اسبابو کښے یو لوئے سبب دا هم دے چه مشرکین وائی چه الله تعالیٰ ته براه راست رسیدل خو ممکن نه دی ، مونږه چونکه ګنهګار یو دے دَ پاره دَ الله قرب حاصلولو دَ پاره ډیرے وسیلے او ذریعے اختیارول پکار دی ۔ په دا شان هغوی انبیاء ، صلحاء او اهل قبور الله تعالیٰ ته دَ رسیدلو واسطه یا وسیله ګرځوی همدا حال دَ مکے دَ مشرکانو وو چه :

﴿مَا نَعۡبُدُهُمۡ اِلَّا لِیُقَرِّبُوۡنَا اِلَی اللّٰهِ زُلۡفٰی﴾[زمر:۳]

" مونږ دَ ددوئ عبادت ځکه کوو چه دوی مونږه دَ الله مقرب

جوړ کړي۔"

حالانکه دَ الله تعالیٰ ارشاد دے چه :

﴿وَنَحۡنُ اَقۡرَبُ اِلَيۡهِمۡ مِنۡ حَبۡلِ الۡوَرِيۡدِ﴾ [ق:۱٦]

" مونږ انسان ته دَ هغه دَ مرے دَ رګ نه هم زیات نزدے یو۔"

نو په دے وجه دَ درمیانی واسطو ضرورت نیشته۔

### (۴) کشف وکرامات:

بعضو خلقو نه کشف او کرامات صادریږی دَ هغوی په نسبت خلقو ته دا خیال راځی چه دا خلق پخپله خو اله او خدائے نه دی لیکن په دوی کښے څه نه څه دَ خدائے شائبه ضرور شته ، او دے خوا دَ طاغوتانو دا ټولګے دَ دوی په باطلو عقائدو کښے دَ دوی رهنمائی کوی کوم چه دَ جوګیانو غوندے ریاضتونه کوی ، منترونو، ټوټکو او دَ سحر اعمالو سره خپل ځان فوق البشر ثابتوی او په څه نه څه طریقے سره دَ ضعیف الاعتقاد خلقو څخه خپل ځان ته تیټوی ۔ که چرے کشف دَ بزرګئی معیار وے نو په جنګ بدر کښے صحابه کرامو رضی الله عنهم ته فرشتے راکوزیدل په نظر نه راتلل لیکن شیطان ته په نظر راتلے، لکه چه په سورت انفال:۴۸ کښے ذکر دی ۔ آیا اوس څوک دا وئیلے شی چه نعوذ بالله شیطان دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم په مقابله کښے زیاته بزرګی لری؟ دغه شان موسیٰ علیه السلام ته دَ خضر علیه السلام دَ کارونو کشف اونه شو ، پس معلومه شوه چه کشف او کرامت دَ بزرګئی او ولایت معیار نه دی ، او نه کرامت دَ ولی اختیاری فعل وی بلکه دَ الله

فعل او دَ الله په ارادې او اختیار سره دَ یو مقبول بنده په لاس باندې ظاهرېږی او هغه صرف دَ هغې مظهر وی څنګه چه دَ عقائدو او تصوف په کتابونو کښې دَ کرامت تعریف داسې شوې دې:

﴿هُوَ فِعۡلُ اللّٰهِ تَعَالٰی خَارِقٌ لِلۡعَادَةِ يَظۡهَرُ عَلٰی يَدِ عَبۡدٍ ظَاهِرٍ صَلَاحَهٗ وَتَقۡوَهُ﴾

''دَ دې مطلب دا شو چه کرامت دَ الله تعالیٰ هغه غیر معمولی او خارقِ عادت فعل دې کوم چه دَ هغه دَ یو بنده په لاس باندې ظاهر شی دَ چا زندګی چه بالکل اعلانیه طور باندې دَ صلاح او تقویٰ زندګی وی۔''

اګرچه کرامات دَ اولیاؤ په خپل ځائې برحق دی لیکن خلقو دَ دې حقیقت او شرعی حیثیت پیژندلو په ځائې دا خدائی ګنړلې ده نو دَ دې شرعی حیثیت نه پیژندلو او دَ دې په باره کښې دَ غلط تصور په وجه خلق په شرک کښې مبتلا کیږی۔

## (۵) تجسیمِ صفات الهیه یا تشبیه او تمثیل:

بعضې خلق دَ الله دَ بعضو صفاتو دَ تجسیم قائل شوی دی او هغه ئې په مستقل وجود کښې اچولې دی او دَ هغې دَ پاره ئې مجسمې تراشلې دی کومې چه دَ بت پرستئی سبب دې۔

دغه شان دَ الله تعالیٰ دَ تمثیل او تشبیه قائل کیدلو سره مخلوق دَ هغه مشابه ګنړی۔ حالانکه دَ الله تعالیٰ ارشاد دې :

﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهٖ شَيۡئٌ﴾ ''دَ الله غوندې هیڅوک نیشته۔''

﴿ فَلَا تَضۡرِبُوۡا لِلّٰهِ الۡاَمۡثَالِ﴾ " الله دَ پاره مثالونه مه بیانوی۔"

## آخرت باندے ایمان:

په کومو خیزونو باندے چه ایمان راؤړل ضروری دی په هغے کښے یو آخرت دے ، دَ دے مطلب دا دے چه دَ انبیاؤ علیهم السلام ښودلے شوے دا حقیقت دے تسلیم کړے شی او په دے دِے ایمان راؤړلے شی چه دَ دے دنیا دَ ژوند نه پس یوه بله زندګی او یو بل عالم راتلونکے دے چرته چه به انسان ته په دے دنیا کښے دَ هغه دَ کړو بدو او ښو عملونو جزا او سزا ملاویږی ۔ ولے چه دلته مونږه وینو چه ډیر خلق ټول عمر غټے غټے بدیانے کوی ، ډاکے اچوی ، دَ غریبانو وینے څکی ، حرام او دَ نورو حق خوری ، په کمزورو باندے ظلم کوی او ټول عمر عیش عشرت کوی او په همدے حال کښے مړه شی ۔دغه شان ډیر خلق ډیر دَ نیکئی ژوند تیر کړی ، په چا باندے ظلم نه کوی ، چا سره دهوکه فریب نه کوی ، دَ چا حق نه وهی ، دَ الله عبادت هم کوی او دَ مخلوق خدمت هم کوی ، دَ دے باوجود دَ هغوی ژوند تنګئی او تکلیف سره تیریږی او هغوی ته دَ دے ښه بدله په دنیا کښے ملاؤ نشی او په همدے کښے دَ دنیا نه لاړ شی ۔ دَ دے مشاهده مونږ په خپلو سترګو سره کوؤ۔

دلته په دنیا کښے نه نیکانو ته دَ هغوی دَ نیکئی صله او انعام ملاویږی او نه مجرمانو او باغیانو ته دَ هغوی دَ ظلم او بغاوت څه مکمل سزا ورکړے کیږی ، نو خود بخود دا خبره په سمجھ کښے راځی

چـه بیـا دَ الله دَ طرنه جزا او سزا په یو بل ژوند کښې ملاویدل پکار دی ، او هـغـه دے دَ آخرت ژوند ، کوم کښې چه به دَ صحیح عقیدے او نیک عـمـل والا خلقو ته دَ ابدی نعمتونو والا ځائے جنت ملاویږی او دَ شرک او کفر او بد عملونو والا خلقو ته به انتهائی اذیت ناک ځائے جهنم ملاؤ شی څنګه چه ارشاد دے:

﴿اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِیْ نَعِیْمٍ وَاِنَّ الْفُجَّارَ لَفِیْ جَحِیْمٍ﴾[انفطار:۱۳]

دے دَ پاره دَ آخـرت راتـلل دَ الله تعالیٰ عین عدل او انصاف او دَ عقل تقاضا ده۔

دَ آخـرت نـه راتـلـل خو به بیا ظلم او بے انصافی وی ۔ دَ آخرت عـقـیـدے لـه پـه انسـانـی ژوند سمولو کښې ډیر دخل دے ، دَ ګنا هونو او بـداخلاقو نه چه انسانانو لره په آخرت یقین او ایمان څومره بچ کوی او بـچ کـولے شـی بـل یو څیز او بل یو انسانی نظام هغه هومره نشی بچ کـولے ۔ بیشکه دَ حکومت قانون او تهذیبی ترقئی یا دَ بدئی او نیکئی احسـاس او دَ نـفـس شـرافـت هـم انسـان لـره دَ بـدو او بداخلاقو نـه بچ کـونـکـی څیـزونه دی لیکن دا دومره مؤثر او کارګر نه دی څومره چه دَ مرګ نه پس دَ جزا او سزا یقین او په آخرت باندے ایمان مؤثر وی۔

دَ آخـرت بـاقی تفصیلات صرف دَنبوت دَ لارے نه معلومیدے شی۔ دے دَ پاره دَ آخرت په ژوند کښې پیښیدونکی واقعات جزا او سزا ، حسـاب او کتـاب ، پُـل صراط ، شفاعت ، میزان او دَ حوضِ کوثر وغیره متـعـلـق قـرآن مـجیـد او نبی اکرم ﷺ تفصیلات بیان کړی دی چه په

هغے باندے یقین لرل هم ضروری دی۔

## قبر او عالم برزخ:

دَ آخرت دَ ژوند دوه مرحلے دی یو خو دوباره ژوندی کیدلو نه پس په میدان حشر کښے جمع کیدلو او دَ حساب کتاب نه پس جنت یا جهنم ته داخلیدل ، او یو دَ دے نه مخکښے مرحله ده چه هغے ته دَ قبر یا برزخ ژوند وائی ۔ برزخ حائل او پردے ته وائی چونکه دا ژوند دَ دنیا دَ ژوند او دَ آخرت دَ ژوند په مینځ کښے حائل او مینځنے ژوند دے کوم چه نه دنیاوی دے او نه مکمل طور باندے اخروی دے ۔ دے دَ پاره دے ته عالم برزخ وائی ۔ انسان چونکه دَ دوؤ څیزونو جسم او روح نه مرکب دے بیا دَ انسان دَ دے دواړو جُزونو په خپلو کښے تعلق په دنیا کښے په دا شان دے چه تکلیف او مصیبت یا دَ راحت او لذت کوم کیفیت چه دلته راځی هغه براه راست په بدن باندے راځی او روح دَ هغے نه تبعا متأثر کیږی مثلا انسان خوږ شی یا په اور اوسوزَی نودَ دے براه راست تعلق بدن سره وی دَ هغے دَ اثر نه روح ته هم تکلیف رسی ، دغه شان خوراک څکاک سره بدن براه راست او روح تبعا لذت حاصلوی ۔ غرض دا چه په دنیا کښے دَ انسان وجود او دَ ده په حالاتو کښے گویا بدن اصل دے او روح دَ هغه تابع دے لیکن په قرآن او حدیث کښے غور کولو سره دَ عالم برزخ معامله دَ دے نه برعکس ده یعنی ښه او بد واردات براه راست په روح باندے وی او بدن به دَ هغه تابع وی ۔ چه دَ دے بهتر مثال خوب دے

، په خوب کښې انسان ډیر لذت یا ډیر تکلیف وینی دَ کوم چه براه راست اثر په روح باندې کیږی او بدن تبعا دَ هغې نه متأثر کیږی ۔ نو دَ مرګ نه پس قیامت نه مخکښې په عالم برزخ کښې ښه او بد ، ثواب او نعمتونه اوعذابونه دَ کومو تفصیلات چه په احادیثو کښې راغلی دی هغه په اصل طور باندې براه راست په روح باندې تیریږی او دَ بدن هغې سره یو قسم تعلق وی کوم سره چه بدن خوشحالی یا تکلیف محسوسوی یعنی بدن به تبعا په هغې کښې شریک وی۔

دَ دې تفصیل نه پس دا خبره هم واضحه شی چه اوس خواه که دَ بنده بدن هر چرته وی قبر کښې وی یا سمندر کښې وی ، دَ کبانو په خیټه کښې وی یا دَ یو درنده په خیټه کښې وی یا په اور کښې سوزیدلے وی بهر حال دَ هغه روح خو محفوظ دې هغه ته به ضرور عذاب یا ثواب ملاویږی۔

دغه شان په دغه عالم برزخ (قبر) کښې منکر نکیر سوال کول هم برحق دی کوم کښې چه د هر انسان نه درې تپوسونه دَ رب (عقیدې) په باره کښې دَ رسالت (سنت او عمل) په باره کښې او دین (قانون) په باره کښې تپوسونه کیږی۔ دَ قبر په ژوند کښې دَ ټولے زنګئی عذاب او ثواب نه ملاویږی سوا دَ هغه یو څو ځیزونو نه دَ کومو تذکره چه په احادیثو کښې راغلے ده۔ ولے چه اوسه پورې دَ آخرت حساب کتاب نه دې شوې نو مکمله بدله څنګه ورکړې شی ۔ بهر حال دَ برزخ او دَ قبر دَ ژوند مثال دَ یو مجرم دَ پاره دَ جیل او سزا وار کیدلو نه مخکښې دَ حوالات غوندې دې۔

## رسالت:

پـه اسلامی عقائدو کښې دَ توحید نه پس دَ رسالت درجه ده ۔ دَ الله تعالیٰ وجود او توحید منلو نه پس مونږ دَ پاره دا ضروری دی چه په دې دنیـا کښې مـونـږ دَ الـله تعالیٰ بندګی او فرمان بردارئی والا ژوندتیر کـړو ۔ نـو مونږ محتاج یو چه په څه شان له مونږ ته دا معلومه شی چه دَ الـلـه تـعالیٰ احکام مونږ دَ پاره څه دی۔ دَ هغه دَ طرفنه دَ کومو کارونو اجازت دې او دَ کـومو کارونو منع والے دې ، ظاهره ده چه الله تعالیٰ هر انسـان تـه بـراه راسـت دا خبرے نه ښائی او کوم لږ شان عقل او پو هه چه انسـان تـه مـلاؤ شوې ده نو هغه دَ دې دنیا امروزه ضرورترونو دَ پاره خو څـه حـده پـورې کافی ده لیکن دا معلومول دَ ده په وس کښې نه دی چه الـلـه تـعالیٰ مونږ نه څه غواړی او هغه په کومو کارونو راضی کیږی او پـه کـومـو نـاراضـه کیږی ۔ نـو مونږ دې ضرورت پوره کولو دَ پاره الله تـعـالـیٰ دَ رسـالـت او نبـوت او پیـغـمبری سلسله او نظام قائم کړو ۔ او دا فیـصـلـه ئې اوکړه چه دَ خپلو خاصو او منتخبو نمائندګانو په ذریعه به عامو بندګانو ته خپل هدایات او خپل قانون رسوم ۔

نـو مـعـلـومـه شـوه چـه نبـوت او شریعت په حقیقت کښې پخپله زمونږه ضرورت دې څنګه چه نمر، هوا او اوبه وغیره زمونږ ضرورتونه دی۔

## دَ انبیاؤ بشریت:

د الـلـه تـعـالـیٰ دا مـنـتـخب نمائندګان یعنی انبیائے کرام علیهم

السلام چه د انسانیت دَ هدایت دَ پاره لیګلی شوی وو هغوی ټول په ټول انسانان او افضل البشر وو ـ په هغوی کښې څوک هم پیرے یا فرشته یا ذاتی او جنسی طور باندے نور نه وو ـ پخپله دَ پیغمبرانو اعلان کښے دا خبر موجود ده کوم چه هغوی دَ خپلقوم دَ دے اعتراض په جواب کښے کوی:

﴿قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ اِنْ نَّحْنُ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَمُنُّ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ﴾ [ابراهیم:۱۱]

"مونږه ستاسو غوندے بنیادم یو ، فرق صرف دومره دے چه الله تعالیٰ په همدغه انسانانو کښے څوک اوغواړی احسان پرے اوکړی او نبوت ورکړی لهذا مونږ له نبوت راکړے شوے دے۔"

دَ نبی کریم ﷺ په باره کښے دَ بشریت اعلان هم په قرآن کښے الله تعالیٰ دَ هم هغوی دَ ژبے مبارکے نه کړے دے:

﴿قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾[کهف:۱۱۰]

"ته دوی ته اووایه چه زه محمد ﷺ ستاسو غندے بشر یم۔"

بهر حال دَ انسان هدایت او رهنمائی دَ پاره ضروری ده چه هدایت کونکے دے دَ انسان دَ حالاتو نه او دَ هغه دَ احساساتو نه په پوره توګه واقف وی او دا خبره چونکه صرف انسان ته حاصلیدے شی دے دَ پاره الله تعالیٰ پیغمبران همیشه انسانان رالیګلی دی ، ولے چه په زمکه باندے مستقل آبادی او خلافت د انسانانو دے او هم دَ دوی هدایت او لار خودنے دَ پاره دَ نبی ضرورت دے نو دا ضرورت خو صرف دَ

انسان نه پوره کیدے شی ولے چه هم دے دَ انسانانو مسائل او دَ هغوی احوال او دَ هغوی طبعے تقاضے په ښه شان سره معلومولے شی ، که چرے په زمکه باندے دَ انسانانو په ځائے فرشتے یا نورانی مخلوق آباد وے نو ځوک فرشته یا نورانی مخلوق به ئے نبی رالیګلے وو:

﴿قُلْ لَوْ كَانَ فِى الْاَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِمْ مِنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَسُوْلًا﴾ [بنی اسرائیل:۹۵]

"ته ورته اوایه چه که چرے په زمکه کښے فرشتے وے چه تګ راتګ او آرام ئے کولے یعنی اوسیدلے نو مونږ به هغوی ته فرشتے پیغمبران رالیګلے دے۔"

همدغه شان په انبیائے کرامو علیهم السلام کښے ځوک هم الله تعالیٰ سره په خدایئی کښے شریک ، او په امورِ عالم کښے حصه دار یا دَ الله نائب او ځوئے نه دے، بلکه هغوی ټول دَ الله تعالیٰ تابعدار او عبادت ګذار عاجزه بندګان وو۔دَ چا اوصاف قرآنِ پاک بار بار دَ عبد په طور بیانوی ۔

بهر حال کله چه یو سړے په یو نبی یارسول باندے ایمان راوړی نو بیا دَ عقل فیصله هم دغه ده چه دَ هغه دَ هرے خبرے تصدیق اوکړے شی او دَ هغه په هره اطلاع باندے اٰمَنَّا وصَدَّقْنَا اووئیلے شی او دَ هغه هر حکم دے دَ الله حکم ګنړلو سره دَ هغه اطاعت اوکړے شی او همدا دَ یو نبی دَ بعثت مقصد وی:

﴿وَمَا اَرْسَلْنَامِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ﴾ [نساء:٦٤]

" مونږه هیڅ یو نبی نه دے رالیګلے مګر دے دَ پاره چه دَ هغه

اطاعت دے اوکړے شی۔"

دَ رسالت دے بحث په سلسله کښے دَ دے خبرے وضاحت هم ضروری دے چه انبیاء کرام علیهم السلام چه دَ چاسردار دَ خاتم النبیین محمد رسول الله ﷺ ذات گرامی دے۔ دیانبیآؤ مخلوق سره او هغه قومونو سره چا طرفته چه هغوی لیگلے کیږی، دَ چهٹی رسان (Post man) او ډاکی غوندے تعلق نه وی دَ چا ذمه داری صرف دا ده چه هغه خطونه او ډاک مُرسَل الیهم ته اورَسوی، بیا ئے دغه خلقو سره هیڅ غم غرض پاتے نشی۔ او دَ دغه خلقو دے درمیانی واسطے او قاصد سره هیڅ غرض پاتے نه وی ، هغه او دغه خلق په خپلو کارونو او اختیاراتو کښے بالکل آزاد وی۔

او دَ دغه قومونو تعلق کوموطرفته چه انبیائے کرام علیهم السلام رالیگلی شوی دی خپلو انبیاؤ او رسولانو سره محض وقتی او قانونی تعلق وی، دَ هغوی دَ دے انبیاؤ سیرت ، طورطریق ، ذوق او رجحان او دَ دوی انفرادی او عائلی ژوند سره دے هیڅ دلچسپی نه وی۔ دا هغه غلط ، بے بنیاده او نیمگړے تصور دے کوم چه په دغه خَلقو کښے رائج وو، ځوک چه دَ نبوت او انبیاؤ دَ اوچت او لوړ مقام نه ناواقفه وو۔ او زمونږ په دے دور کښے هم دا تصور په هغه خلقو کښے خور شوے دے ، څوک چه د مقام سنت نه ناواقفه او دَ حدیث او دَ حدیث دَ حُجت والی نه منکر دی۔ او په چا چه دَ مسیحی مذهب دَ تصوراتو اثر او دَ مغربی طرزفکر غلبه ده لکه منکرینو حدیث فرقه۔

دَ دے برخلاف حقیقت دا دے چه انبیائے کرام پوره انسانیت دَ پاره،اسوۂ کامل،اعلیٰ قابلِ تقلید نمونه او د اخلاقو،ذوق او رجحان،او رد وقبول په باره کښے دَ ټولو نه مکمل او آخری معیار وی۔ دَ هغوی اخلاق او عادات او دَ هغوی دَ ژوند طور او طریق ټول دَ الله په نظر کښے محبوب دی۔ دَ ژوند په طریقو کښے دَ هغوی طرزِ حیات دَ انسانانو او جماعتونو په اخلاقو کښے دَ هغوی اخلاق او دَ خلقو قسماقسم عادتونو کښے دَ هغوی عادتونه دَ الله په نزد پسندیده جوړ یږی۔ پیغمبران چه کومه لاره اختیار کړی هغه لاره دَ الله په نزد محبوبه جوړه شی او هغے ته په نورو لارو باندے ترجیح حاصله شی۔

دَ هغے اختیارول او دَ هغوی دَ اخلاقو جهلک پیدا کول دَ الله په محبت او رضا سره سرفراز کیدلو ډیره نزدے او ډیره آسانه لاره وی۔ ځکه چه دَ دوست دوست ،دوست وی او دَ دشمن دوست دشمن ګڼړلے کیږی۔ لهذا دَ خاتم النبین ﷺ په ثپے سره اوویلے شو۔

﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْلَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ [ال عمران:۳۱]

" اے پیغمبره ( خلقو ته ) اووایه چه که چرے تاسو الله سره مینه لری نو ځما پیروی اوکړئ ، الله به هم تاسو دوستان اولری او ستاسو ګناهونه به معاف کړی او خدائے بخښونکے مهربان دے۔

## معجزے:

کله کله دَ انبیاؤ علیهم السلام په لاسونو باندے داسے غیر

معمولی واقعات ظاهریږی کوم چه دَ هغوی دَ حیثیت او طاقت نه بالا تر وی۔ یعنی دَ هغوی غوندے بل انسان هغه کارونه ښکاره کولے نشی ۔ داسے واقعاتو ته معجزات وائی ۔ دا معجزے دَ دغه نبی ذاتی فعل نه وی بلکه په حقیقت کښے دَ الله فعل وی او الله تعالیٰ دَ دے په ذریعے سره دَ خپل دغه پیغمبر رشتیاوالے ښکاره کوی۔ معجزه هم دَ انسانی ضروریاتو نه ده ولے چه په انسانانو کښے بعضے طبیعتونه داسے غبی او دومره کم فهمه وی کوم چه دَ یو پیغمبر دَ پیغمبری هله قائل کیږی کله چه دَ هغه په رسولانو بعضے داسے غیر معمولی واقعات ظاهر شی ۔

نو الله تعالیٰ داسے غبیانو دَ پاره خپلو پیغمبرانو له معجزات هم ورکوی ۔ او کوم خلق چه ذکی او سلیم الفطرت وی هغوی له دَپیغمبر زندګی او دَ هغه پیغام یوه لویه معجزه وی۔

بهر حال معجزه دَ پیغمبر یا پیغمبری ضرورت نه دے بلکښ دَ غبی انسانانو ضرورت دے۔ په دے وجه دا ممکنه ده چه دَ یو پیغمبر په لاس باندے هیڅ یو معجزه ظاهره نشی ، او همدغه شان دا هم ممکنه ده چه دَ الله یو رسول دَ چا مرتبه چه لویه او اوچته وی هغه له معجزے کمے ورکړے شی او دَ چا چه مرتبه دومره اوچته نه وی نو دَ هغه په قوم کښے دَ غبیانو او بیوقوفانو کثرت په وجه معجزے زیاتے ورکړے شی۔

غرض دا چه معجزه نه خو دَ نبی فعل دے او نه دَ نبوت شرط دے او نه دَ فضیلت معیار دے ، بلکه دَ نبیانو دَ رشتیاوالی شهادت او دَ نخښے په طور دَ ضرورت مطابق ظاهرؤلے شی او کله چه الله اوغواړی

هله ظاهريږي.

زمونږ دَ عقائدو په کتابونو کښې دَ معجزې تعريف عام طور سره همدا کړے شوے دے چه معجزه دَ الله تعالیٰ فعل وی کوم چه دَ هغه دَ ليګلے شوی نبی دَ رشتيا والی او صداقت ظاهرولو دَ پاره دَ دغه نبی په لاس باندے ظاهريږي. قرآن پاک کښے هم انبياؤ عليهم السلام نه دَ قومونو دَ طرف نه دَ معجزې مطالبے او دَ انبياؤ دَ جواب تذکره څه دا شان موجود ده:

﴿وَمَا كَانَ لَنَا اَنْ نَّاْتِيَكُمْ بِسُلْطٰنٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ﴾ [ابراهيم: ۱۱]

"او مونږ تاسو ته معجزه بغير دَ الله دَ حکم نه پيش کولے نه شو."

بهر حال دَ معجزې وجود او ظهور دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه وی او براه راست هم دَ هغه فعل وی نبی ته په هغے کښے هيڅ اختيار نه وی. نبی صرف دَ هغے مَظهر وی.

دَ نبی کريم ﷺ معجزے خو ډيرے دی دَ کومو تذکره چه دَ احاديثو په کتابونو کښے موجود ده ، چه دَ هغے ذکر کول دلته مشکل دی ليکن په مشهورو معجزو کښے دَ معراج واقعه ، شق القمر او قرآن کريم کوم چه دَ حضور ﷺ ژوندئ معجزه ده شامل دی.

## عصمتِ انبياء:

دَ انبياؤ په باره کښے دَ قرآن و حديث په رڼاکښے دَ اهل سنت والجماعت دا متفقه عقيده ده چه ټول انبياء کرام عليهم السلام دَ نبوت ډيوټی باندے مامور کيدلو نه مخکښے او دَ هغے نه پس دَ هر قسمه

وړو او لویو ګناهونو نه پاک دی۔

﴿اَلَانبِیَآءُ مُنَزَّهُوْنَ عَنِ الْکَبَائِرِ وَالصَّغَائِرِ قَبْلَ النُّبُوَّتِ وَبَعْدَهَا﴾[کتب عقائد]

ولے چه انبیاء علیهم السلام دنیا ته دَ الله تعالیٰ پیګام او قانون بانـدے دَ عمل کولو ، دعوت ورکولو او نافذ کولو دَ پاره راځی او خلق دَ الله تعالیٰ تابعدار جوړولو او دَ هغه دَ احکامو دَ نافرمانئی نه بچ کولو دَ پاره مبعوث کیږی ۔ کـلـه چه هغوی پخپله دَ الله په حکمونو باندے عـمـل کـونـکی نه وی او نافرمان وی نو هغوی به نور خلق څنګه دَ الله تابعدار جوړ کړی ۔

بهر حال انبیاء علیهم السلام دَ الله تعالیٰ تابعدار ،دَ وحی او احکامو کاربند ، دَ ګناهونو نه معصوم ، او دَ شیطانی اعمالو او نفسانی خواهشاتو نه محفوظ وی ۔ دَ دے خلاف او برعکس عقیده لرل ګمراهی ده۔

**ختم نبوت:**

دَ حضرت آدم علیه السلام نه چه دَ نبوت کومه سلسله شروع شوے وه هغه په حضرت مـحـمـد مصطفیٰ ﷺ باندے ختمه شوه۔ په هغـوی ﷺ بـانـدے جامع ، مکمل او همیشه پاتے کیدونکے شریعت او کتاب قرآن مجید نازل شو او هغوی ﷺ ته کامل شریعت ورکړے شو۔

نبـی ﷺ دَ الـلـه تـعـالیٰ آخری نبی دے دَ هغوی ﷺ نه پس حـقیـقـی یـا ظـلـی یـا بـرزوی هیڅ قسم بل نوے نبی به نه پیدا کیږی ۔ قیـامـت تـه نزدے چه به عیسیٰ علیه السلام راځی نو هغه نوے نبی نه

دے بلکه هغه به دَ محمد ﷺ دَ راوړلی شوی شریعت پابند وی ۔ دَ ختم نبوت عقیده دَ قرآن او سنت نه ثابته ده او په دے باندے دَ ټولو صحابه کرامو ؓ او دَ امت دَ عالمانو اجماع ده ۔ لهٰذا څوک چه دَ ختم نبوت منکر وی یا دَ نبی ﷺ نه پس دَ نبوت دعوه دار وی لکه غلام احمد قادیانی وغیره هغه دَ قرآن او حدیث او اجماع امت نه منکر او کافر دے ۔ څنګه چه الله تعالیٰ صفا فرمائی:

﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمًا﴾[احزاب:٤٠]

" خلقو! محمد( ﷺ ) ستا سو په سړو کښے دَ هیچا پلار نه دے لیکن هغه دَ الله رسول دے او خاتم النبیین ( یعنی آخری نبی) دے او الله دَ هر څیز علم لرونکے دے۔ "

لهٰذا دَ نبی کریم ﷺ نه پس دَ بل نبی راتلو هډو ضرورت پاتے نشو ولے چه دَ نبی لیګلو دَ پاره قرآن صرف څلور صورتونه او حالات بیان کړی دی چه دَ هغے په بنا باندے پیغمبران لیګلے کیږی۔

**اول:** دا چه یو قوم کښے هیڅوک نبی نه وی راغلے یا بل قوم کښے دَ راتلونکی نبی پیغام هم هغوی ته نه وی رسیدلے۔

**دویم:** دَ نبی ضرورت هغه وخت وی چه دَ مخکښنی پیغمبر تعلیم هیر کړے شوے وی یا په هغے کښے تحریف شوے وی او دَ هغه دَ نقش قدم پیروی ممکن نه وی پاتے۔

**دریم:** دَ مخکښے تیر شوی نبی تعلیم او هدایت مکمل نه وی او دَ

دين تکميل دَ پاره دَ نورو پيغمبرانو ضرورت وی۔

**څلورم:** يو نبی سره دَ هغه دَ مدد دَ پاره دَ يو بل نبی حاجت وی۔

ظاهره ده چه په دے کښے يو ضرورت هم دَ نبی کريم ﷺ نه پس باقی پاتے نه شو ۔ ولے چه دَ هغوی ﷺ په ژوند کښے دَ هغوی دعوت ټولو قومونو ته رسيدلے شو او اوس هم هر وخت رسيدلے شی ۔ لهٰذا دے نه پس بيلو بيلو قومونو ته دَ پيغمبرانو راتللو هيڅ حاجت نه پاتے کيږی۔ او په دے باندے هم قرآن او حديث او سيرت ګواه دے چه دَ نبی ﷺ راؤړلے شوے تعليم او کتاب بالکل په خپل صحيح صورت کښے محفوظ دی په دے کښے هيڅ بدلون او تحريف نه دے شوے او نه تر قيامته پورے کيدلے شی۔ دے دَ پاره دويم ضرورت هم ختم شو ۔ همدغه شان دَ نبی ﷺ په ذريعه دَ دين تکميل اوکړے شو لهذا دَ دين تکميل دَ پاره هم اوس زياتی څوک نبی ته ضرورت پاتے نه شو ۔ او څلورم ضرورت هم پاتے نه شو ولے چه که چرے دَ رسول الله ﷺ دَ پاره دَ بل کوم نبی مدد او نصرت پکار وے نو هغه به دَ هغوی ﷺ په زمانه کښے راغلے وو او ظاهره ده چه کله دَ هغوی ﷺ په ژوند کښے مقرر نه کړے شو نو اوس دَ هغوی ﷺ دَ وفات نه پس خو ضرورت پاتے نه شو ۔ اوس هغه پنځمه وجه کومه ده چه دَ هغے دَ وجے نه دَ رسول الله ﷺ نه بعد دَ بل نبی ضرورت وی؟ که چرے څوک اووائی چه قوم خراب شوے دے ، په دے وجه دَ اصلاح دَ خاطره دَ يو نبی ضرورت دے، نو مونږ به دَ هغه نه تپوس اوکړو چه محض اصلاح دَ پاره نبی دنيا ته کله

راغلے دے چه نن صرف دے کار دَ پاره راشی ۔ او س خو دَ اصلاح دَ پاره صرف دَ مُصلحینو او مجددینو ضرورت باقی دے ، نه چه دَ انبیاؤ ۔ دَ ختم نبوت عقیده امت دَ پاره دَ الله تعالیٰ یو لوئے رحمت دے چه دَ هغے په وجه دَ دے امت یو دائمی او عالمګیه برادری جوړیدل ممکن شوی دی او دے څیز مسلمانان دَ داسے هر بنیادی اختلاف نه محفوظ کړی دی کوم چه په هغوی کښے دَ مستقل تفریق سبب جوړیدے شی ۔ لهٰذا نوے نبوت به دَ دے امت دَ پاره دَ لعنت او افتراق او انتشار سبب وی۔

دے سره په دے خبره پو هیدل هم ضروری دی چه څو مره انبیاء علیهم السلام په دنیا کښے راغلی دی سوا دَ عیسیٰ علیه السلام نه ټولو په دنیا کښے خپل عمر او ډیوټی پوره کړے ده او وفات شوی دی۔ دَ وفات نه پس دغه ټولو انبیاؤ ته دَ یو خاص قسم اعلی زندګی حاصله ده کوم چه نه دنیاوی حیات دے او نه مکمل طور باندے اخروی،بلکه هغه برزخی حیات دے۔

## صحابه کرامؓ:

دَ انبیاؤ علیهم السلام نه پس په دنیا کښے بهترین ترین خلق دَ نبی کریم ﷺ دَ شاګردانو جماعت صحابه کرامؓ دی۔ دا حضرات دَ دین بنیادی او دَ اسلام رومنئے تعلیم یافته نرسری ده دَ چا تربیت چه براه راست صاحبِ نبوت ﷺ کړے دے۔ الله تعالیٰ هم دَ خپل محبوب نبی ﷺ دَ صحبت دَ پاره همدا حضرات منتخب کړی دی او دوی ئے امت دَ پاره دَ اتباع نمونه جوړه کړه ۔ که چرے قرآن او سنت من حیث الجماعت

دَ یو پوره په پوره جماعت تقدیس کړے دے نو هغه دَ صحابه کرامؓ جماعت دے ۔ ولے چه دوی ته ئے مجموعی طور باندے کامل ایمان والا ، هدایت یافته ، جنتیان ، راضی او مرضی او راشد او مرشد فرمائیلی دی:

﴿اُولٰٓئِکَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا﴾[انفال:٤]

” همدا (صحابه کرامؓ ) رشتنئی او پاخهٔ مسلمانان دی۔“

﴿اُولٰٓئِکَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾[البقره:٥]

” همدا خلق کامیاب دی“

﴿اُولٰٓئِکَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ﴾” همدا خلق رشد او هدایت والا دی“

﴿رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْ عَنْهُ﴾ [توبه:١٠٠]

” الله دوی نه راضی دے او دوی دَ الله نه “

﴿اُولٰٓئِکَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ الَّذِیْنَ یَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ﴾ [مؤمنون:١١]

” همدا خلق دَ جنت الفردوس میراث حاصلونکی دی۔“

په همدے وجه استمرار سره دَ امت مسلمه دا اجماعی عقیده ده چه ﴿اَلصَّحَابَةُ کُلُّهُمْ عُدُوْلٌ﴾ ټول په ټول صحابه کرام عادلان دی۔ همد اوجه ده چه دَ هغوی اجماع شرعی حجت دے۔ دَ دوی منکر دَ اسلام دائرے نه خارج دے۔ او دَ همدوی اتباع امت مسلمه دَ هرے ګمراهی نه بچ کولے شی ۔ دلته په دے خبره پو هیدل ضروری دی چه دَ صحابه کرامو ؓ شان صرف دَ قرآن پاک ، صحیح احادیثو او سیرت نه پیژندلے او معلومیدلے شی ۔ کومو خلقو چه دا معیار پریخے دے او صحابه کرامؓ ئے دَ تاریخ په تله تللی دی نو هغوی ګمراه شوی دی۔ دَ

رسول الله ﷺ ملګری صحابه کرامؓ په دے معامله کښے دَ عامے دنیا دَ افرادو او رجالو پشان نه دی چه دَ هغوی مقام یا دَ هغوی باره کښے فیصله دے صرف دَ تاریخ او دَ هغه دَ بیان کړو حالاتو تابع کړے شی بلکه صحابه کرامؓ دَ یو داسے مقدسے ډلے نوم دے کومه چه دَ رسول الله ﷺ او دَ عام امت په مینځ کښے دَ الله تعالیٰ عطا کړے شوے یو واسطه ده چه دَ هغے په وجے سره هغوی یو خاص مقام او دَ عام امت نه امتیاز لری ۔ دَ دے واسطے نه بغیر نه امت ته قرآن په لاس راتلے شی او نه دَ قرآن هغه مضامین کوم چه قرآن دَ رسول الله ﷺ بیان (او وضاحت) ته پریخی دی ، نه دَ رسالت او دَ هغے دَ تعلیماتو چاته دَ دے واسطے نه بغیر علم کیدے شی، دا مقام او امتیاز هغوی ته دَ قرآن او سنت په نصوصو او تصریحاتو سره عطا کړے شوے دے ، او همدے دَ پاره په دے باندے دَ امت اجماع ده۔ دا قدوسی جماعت دَ رسول الله ﷺ دَ ژوند ملګری او دَ هغوی ﷺ تعلیمات دَ ټولے دنیا نه او دَ خپل زن و فرزند او دَ خپل ځان نه زیات ګران لرونکی ، او دَ نبی ﷺ په پیغام باندے خپل ځانونه قربانولو سره دَ دنیا په ګوټ ګوټ کښے خورونکی دی۔ دَ هغوی سیرت دَ رسول الله ﷺ دَ سیرت جز دے ۔ دوی دَ عامے دنیا په شان صرف دَ تاریخ کتابونو سره نه پیژندلے کیږی څنګه چه دَ روافضو ، شیعه ګانو او دَ صحابهؓ دَ دشمنانو روش همیشه داسے راروان دے بلکه دا عظیم الفطرت هستیانے دَ قرآن نصوصو او دَ رسول الله ﷺ په حدیث او سیرت سره پیژندلے کیږی۔

دوی دَ تاریخ دَ صحیح او سقیم روایاتو په انبار کښې وُرکولے نشي۔ که چرے کوم روایت دَ حدیث په ذخیره کښې هم دَ دوی دا مقام او شان مجروح کوی نو هغه به هم دَ قرآن و سنت صریح نصوصو او دَ اجماع امت په مقابله کښې متروک وی، پاتے لا تاریخی روایات۔

## سلف صالحین او آئمه مجتهدین:

دَ صحابه کراموؓ تذکره کولو نه پس دَ سلفو صالحینو تذکره هم ضروری گنړم، ولے چه نبی کریم ﷺ درے قرونو او زمانو ته دَ خیر زمانے وئیلے ٥۔ یو دَ صحابؤ، دویم دَ تابعینو او دریم دَ تبع تابعینو۔ دے زمانو ته خیر القرون وئیلے کیږی۔

دا حضرات هم دَ دین دَ سند حیثیت لری۔ همدغه شان ائمه مجتهدین چا چه دَ قرآن او سنت تشریح او په فروعی مسائلو کښې اجتهاد کولو سره په امت باندے احسان کړے دے۔ ولے چه څه مسائل خو هغه وی چه په قرآن یا سنت رسول الله ﷺ کښې په صفا توګه موجود دی دَ هغے په باره کښې خو دَ اجتهاد څه سوال نه پیدا کیږی لیکن دَ دے نه علاوه ډیر داسے حوادث او واقعات پیش راځی دَ کومو حکم چه په قرآن یا حدیث کښې واضحه نه ملاویږی، نو دَ هغے په باره کښې مجتهدین دَ اجتهاد نه کار اخلی، یعنی دغه حضراتو چه دَ قرآن او حدیث نه دَ تشریح او قانون سازئ کوم اصول او دَ هغے کوم بنیادونه معلوم کړی دی هغوی په هغے سره دَ دغه نوؤ حوادثو او واقعاتو حکم راؤباسی: په حدیث کښې هم راځی:

﴿عَنْ مَعَاذٍ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ لَمَّا بَعَثَهٗ اِلَی الْیَمَنِ قَالَ اَرَأَیْتَ اِنْ عُرِضَ لَكَ قَضَاءٌ کَیْفَ تَقْضِیْ قَالَ اَقْضِیْ بِكِتَابِ اللّٰهِ ، قَالَ فَاِنْ لَّمْ یَكُنْ فِیْ كِتَابِ اللّٰهِ قَالَ فَبِسُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ قَالَ فَاِنْ لَّمْ یَكُنْ فِیْ سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ قَالَ اَجْتَهِدُ رَائِیْ﴾ [سنن دارمی ۷۱/۱،احمد،ترمذی]

کله چه رسول الله ﷺ حضرت معاذ رض لره دَ یمن قاضی او والی جوړ کړو او لیګلو ئے نو دَ هغوی نه ئے تپوس اوکړو چه ستا په وړاندے کوم مقدمات او مسائل راشی نو دَ هغے فیصله به ته څنګه کوے؟ هغوی عرض اوکړو چه مخکښے خو به زه دَ کتاب الله طرفته رجوع کوم او دَ هغے نه پس به ستا سو سنت طرفته یعنی ستاسو طرزِ عمل او ستاسو ارشاداتو او فیصلو طرفته رجوع کوم ۔ او که چرے دَ دواړو ځایونو نه ماته دَ دے معاملے حکم ملاؤ نه شو نو بیا به زه اجتهاد کوم نو نبی ﷺ دَ هغوی دَ جواب نه ډیر خوشحاله شو او شابسے ئے ورکړو او دَ الله حمد او شکر ئے ادا کړو ۔" داحدیث دَ مجتهدینو دَ اجتهاد بنیاد دے۔

کومو صحابه کرامو رض ته چه دَ رسول الله ﷺ په تعلیم او تربیت کښے دَ فقاهت مقام حاصل شوے وو هغوی ټولو به حسبِ ضرورت اجتهاد کولو۔ بیا دَ وړومبے صدئ په آخره کښے او په دویمه صدئ کښے او دَ هغے نه پس هم داسے ډیر شخصیتونه پیدا شول چا چه دَ خپل ژوند سرمایه په دے کار باندے اولګوله او هغوی دَ دین همدا خاص خدمت اوکړو چه په قرآن او حدیث کښے او دَ فقهاؤ ،صحابه ؤ په طرزِ عمل کښے ئے غور اوکړو دَ تشریح اصول ئے راؤویستل او بیا ئے دَ

هغے په رنړا کښے دَ هغه مسائلو دَ حکم معلومولو کوشش اوکړو دَ کومو چه په قرآن او حدیث کښے واضحه بیان مونږ ته نه ملاویږی او دغه شان دَ اسلامی شریعت فقه مرتب او مدونه شوه۔ دَ دین دا خدمت او کوشش ډیرو مجتهدینو کړے وو لیکن په هغوی کښے دَ څلورو امامانو ( امام ابو حنیفهؒ ، امام مالکؒ ، امام شافعیؒ او امام احمدؒ ) فقه غالبا دَ زیات مرتب والی او جامع والی په وجے سره زیاته مقبوله شوه۔

دَ اعتماد په سلسله کښے دا خبره هم دَ یاد لرلو ده چه دا دَ هر چا کار نه دے۔ کومو بزرګانو چه دا کار کړے دے،دَ هغوی دَ کتاب او سنت علم ډیر زیات وسیع وو ۔ هغوی هغه خلق لیدلی وو ، بلکه هم دَ هغوی نه ئے علم حاصل کړے وو چا چه دینی تعلیم او تربیت براه راست دَ صحابه کرامؓ نه یا دَ هغوی دَ خاصو شاګردانو نه حاصل کړے وو ۔بیا دَ دے مستند او وسیع علم او دَ دغه تعلیم او تربیت نه علاوه په هغوی کښے تعلق بالله او تقویٰ دَ اعلیٰ درجے وه۔ په اصل کښے دا کار هم دَ هغوی وو چه الله ترینه واخستو۔ لیکن نن اجتهاد داسے معمولی خبره ګنړلے شوے ده چه بعضے خلق دَ دین باره کښے دَ اردو یو څو رسالے اووائی یا زیات نه زیات دَ قرآن او حدیث چهاپ شوے ترجمے اوګوری او خپل ځان دَ اجتهاد حق دار ګنړل شروع کړی ۔ او دَ امامانو تقلید شاته غورزولو سره مسلمانانو کښے انتشار جوړ کړی۔ او په مسائلو کښے بالکل مجتهدانه انداز کښے رائے زنی کوی۔ دَ همداسے خلقو باره کښے حدیث شریف کښے راغلی دی چه:

﴿ضَلُّوۡا وَاَضَلُّوۡا﴾ [بخاری،مسلم،مشکواة]

''دوی پخپله هم گمراه دی او نور خلق هم گمراه کوی۔''

دَ صحابه کرامو او سلفو صالحینو او مجتهدینو امامانو دا تذکره دَ رسالت سره ضمنا اوکړے شوه۔

## په ملائکو باندے ایمان:

دَ ایمان په سلسله کښے فرشتو باندے ایمان راوړل هم ضروری دی چه هغوی دَ الله تعالیٰ تابعدار مخلوق دے۔ الله تعالیٰ هغوی په بعضو کارونو باندے مامور کړی دی کوم چه هغوی دَ الله دَ حکم مطابق چلوی او نافذ کوی۔ فرشتے دَ انسان پشان په خپلے ارادے او اختیار سره هیڅ کار نه کوی بلکه هغوی مجبور محض دی ، دَ الله دَ حکم مطابق چلیږی او کار کوی او نه هغوی نافرمانی کوی :

﴿ لَا یَعۡصُوۡنَ اللّٰهَ مَا اَمَرَهُمۡ وَیَفۡعَلُوۡنَ مَا یُؤۡمَرُوۡنَ﴾

'' الله تعالیٰ چه هغوی ته کوم حکم ورکړی دَ هغه نافرمانی نه کوی او هم هغه کوی دَ کوم چه ورته حکم ورکړے شی۔''

دَ فرشتو په باره کښے خلقو کښے افراط او تفریط موجود دے، چا دوی دَ الله تعالیٰ نائبانے او لونړه اوګنړلے نو چا دَ هغوی دَ معصومیت او بزګئی نه انکار اوکړو او چا خو دَ هغوی دَ وجود نه مطلقا انکار اوکړو۔

اسلام دا افراط او تفریط غلط اوګرځولو او دَ هغوی صحیح حیثیت ئے واضح کړلو چه په هغوی کښے هیڅوک هم دَ الله تعالیٰ نائب او حصه دار نیشته ، او نه هغوی دَ الله تعالیٰ لونړه دی ۔ ولے چه

په هغوی کښې نر او ماده نیشته بلکه دا ټول نوراني مخلوق دے ، دَ الله جل شانه حکمونه په ځائے راؤړی،دَ نافرمانئ صلاحیت نه لری ، هغوی هر وخت دَ الله کریم په عبادت کښې مشغول اوسی۔

## په کتابونو باندے ایمان:

دَ هر قوم یا ملک په خپل قوم یا ملک کښې دَ ژوند تیرولو دَ پاره او په خپل مینځ کښې دَ پیښیدونکو معاملاتو حل دَ پاره یو آئین ، دستور او قانون وی چه هغه قبیله ،قوم یا ملک والا دَ هغے پابند وی۔ همدغه شان الله تعالیٰ هم دَ انسانیت دَهدایت او په دنیا کښې دَ ژوند تیرولو دَ پاره وقتا فوقتا خپل قانون، آئین او دستورِ حیات دَ کتابونو په شکل کښې په مختلفو انبیاؤ علیهم السلام باندے نازل کړے دے۔ چه په هغے کښې څلور غټ کتابونه تورات په حضرت موسیٰ علیه السلام باندے، زبور په حضرت داؤد علیه السلام باندے، انجیل په حضرت عیسیٰ علیه السلام باندے او آخری او ابدی کتاب قرآن کریم په حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ باندے نازل کړے دے ۔ دَ دے نه علاوه ډیرے صحیفے دَ وړو وړو کتابچو او سیپارو پشان وے چه په هغے کښې دَ نصیحت خبرے ذکر او اذکار وو ۔ اوپه دغه څلورو کتابونو کښې دَ دے نه علاوه دَ ژوند تیرولو قوانین هم موجود دی۔ دغه ټول کتابونه په خپله خپله زمانه کښې دَ هدایت سرچشمے وے کومے چه به دَ پیغمبر ﷺ دَ دنیا نه تللو نه پس هم دَ هدایت اصل منبع وے۔ لیکن دَ قرآن نه علاوه په باقی کتابونو کښې خلقو تحریف او ردوبدل اوکړو

کوم چه اوس په اصلي شکل کښې ملاویدل ناممکن دي ـ صرف قرآن تر قیامته محفوظ او غیر محرف ، غیر مبدل عالمګیر او جامع کتاب دے ـ کوم چه دَ هر دور دَ پاره یو شان قانونِ حیات دے ـ اوس به عمل صرف په قرآن باندے وي ولے چه قرآن دَ هدایت ذریعه ده کوم کښې چه دَ مکمل دینِ اسلام او انساني ضروریاتو حل موجود دے ، په باقي اسماني کتابونو باندے صرف ایمان راؤړل ضروري دي عمل پرے نیشته، ولے چه دَ قرآن غوندے مکمل آئین راتلو نه پس په دغه کتابونو باندے دَ عمل کولو ضرورت باقي پاتے نه شو ، نو دَ قرآن نه علاوه ټول کتابونه او شریعتونه منسوخ شوي دي۔

دَ دے مثال داسے اوګڼړے چه یو ملک دے دَ هغے اوسیدونکي ډیر کمزوري او لاندے حالت کښے دي ، غربت هم دے ، جهالت هم دے ، صحتونه هم خراب دي نو حکومت هغوي دَ پاره ډیر سپک قوانین مقرروي او ډیر رعایتونه او سهولتونه ورله ورکوي۔ لیکن کله چه څه موده پس ملک ترقي اوکړي او دَ خلقو حالت څه ښه شي نو بیا دَ هغه حالت مطابق نوے قانون جوړ کړے شي ـ اوس دَ دے نوي قانون نه پس که چرے څوک انسان په هم هغه مخکښني قانون باندے چلیږي او نوے قانون نه مني نو هغه به مجرم او دَ سزا قابل وي ولے چه دے دَ حکومت نافرماني کوي او دَ حکومت امتیازي اختیارات پخپله استعمالول غواړي۔

بس دَ انبیاؤ علیهم السلام راؤړلو شوؤ شریعتونو حال هم

همدغسے اوګنړۍ ۔ الله تعالیٰ دَ یو قوم او یوے زمانے خلقو دَ حالت مطابق دَ خپل یو پیغمبر په ذریعه یو قانون راؤلیګلو ، بیا یو مودے نه پس چه کله حالات څه بدل شو او بل پیغمبر راولیګلے شو نو په قانون کښے هم څه تبدیلی اوکړے شوه ۔ نو داسے وخت کښے دَ بندګانو فرض دا دے چه ایمان خو په مخکنو پیغمبرانو باندے هم راؤړی او احترام دَ ټولو دَ راؤړلے شوؤ قوانینو اوکړی ولے چه دا ټول دَ الله قوانین دی لیکن په هره زمانه کښے به پابندی دَ هم هغه قانون کولے شی کوم چه دَ هغه وخت دَ نبی په ذریعه دَ هغه زمانے دَ پاره دَ الله دَ طرفنه راؤړلے شوے وی۔ بالفرض که چرے نن دَ مخکښے زمانے ځوک پیغمبر هم دَ خپل قبر نه راپاسی او روستونئی زمانے ته راشی نو هغوی به هم دَ دغه روستو والا قانون او شریعت پیروی او پابندی کوی۔ دَ دے وجے نه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:

﴿لَوْكَانَ مُوْسٰی حَيًّا مَا وَسَعَهٗ اِلَّا اتِّبَاعِیْ﴾[مشکوة]

" یعنی که چرے دَ الله جلیل القدر پیغمبر موسیٰ علیه السلام هم نن موجود وے نو هغه به هم صرف ځما دَ شریعت پیروی کوله۔"

همدا وجه ده چه په آخره زمانه کښے هر کله عیسیٰ علیه السلام دَ صحیحو احادیثو دَ اطلاع مطابق دے دنیا ته دوباره تشریف راوړی نو دَ هغوی عمل به په شریعت محمدی ﷺ باندے وی ولے چه دَ دے زمانے او دے دور دَ پاره حکم الهی همدغه دے او مخښکنی شریعتونه او مخکښنی الهی قوانین پخپله الله تعالیٰ منسوخ

ګرځولی دی۔ اوس په هغے باندے تلل ګویا دَ الله نافرمانی ده۔

## په تقدیر باندے ایمان:

هر مسلمان دَ پاره په تقدیر باندے ایمان راؤړل هم ضروری دی۔ دَ تقدیر لفظی معنیٰ ده اندازه کول۔او دَ شریعت په اصطلاح کښے تقدیر دَ الله تعالیٰ هغه فیصلے ته وائی کومه چه هغه دَ کائنات په باره کښے او په دے کښے دننه ټولو مخلوقاتو خاصکر دَ انسان په باره کښے کړے ده یا آئنده به کوی ۔ دَ تقدیر مثال داسے دے چه هر کله څوک انسان یو کور جوړوی نو مخکښے هغه په زمکه یا کاغذ باندے دَ هغے یوه نقشه جوړه کړی چه په دے مکان کښے څومره کمرے، برنډے جوړول وی، چه څومره دروازے کھړکئی لګول وی، غسل خانے او باورچی خانے جوړول وی دَ هغے ټولو ځائے دَ مخکښے نه مقرر کړے شی بیا دَ دغے جوړے شوے نقشے مطابق ټول مکان جوړ کړے شی ، او کله که ضرورت وی نو په هغے کښے سړے جزوی ترمیم هم اوکړی لیکن پوره نقشه هم هغه وی ۔ همدغه شان الله تعالیٰ چه کله دَ دے ټول کائنات او انسان پیدا کولو اراده اوفرمائیله نو دَ هغے څه اصول ، څه قاعدے ئے جوړے کړے ، په هر مخلوق باندے ئے دَ هغه دَ فطرت مطابق کار او ذمه واری مقرر کړله ۔ اوس دَ همدغه اصول او قاعدے او فطرت مطابق دَ دے پوره کائنات نظام لګیا دے چلیږی په دے کښے یو ذره قدرے فرق نه راځی ، او س په دے کښے دَ الله نه علاوه بل څوک هیڅ قسم تبدیلی یا دَ یو سیکنډ فرق نشی راوستے ، دَ نمر سپوږمئی

راختـل، دَ شپے ورځ تـلـل راتـلـل ، دَ زمکے ګردش ، دَ هوا اوبو او فضاء کیـفیـت او افـادیـت ، دَ انسان دَ بدن جوړخت دَ هغه دَ اندامونو مختلف صـلاحیتـونـو او دَ هـغـه پـه ژونـد او مـرګ وغیره کښے دَ الله تعالیٰ نه عـلاوه هیـڅـوک یـو ذره قـدرے تبـدیلی نشی راوستے ، که چرے دَ دنیا لـوئے نه لوئے طاقت دَ نمر راختلو او ډوبیدلو او دَ ده په حرکت کښے او دَ زمـکے پـه ګـردش کښے دَ یو سیکنډ هومره فرق راوستل اوغواړی نو نشـی راوستے، که دَ لوئے نه لوئے ډاکټر دَ سترګے نه دَ خبرو کولو، دَ ژبے نـه دَ لیـدلـو ، دَ غـوږ نـه دَ بـویـؤلو او دَ پوزے نـه دَ اوریدلو کار اغستل اوغـواړی نـو دا کـار هـغـه نشـی کولے ، الله تعالیٰ چه څوک په کام کار بـاندے لګولے دے هغه دَ یو ویښته هومره هم نشی اخوا کیدے۔ غرض دا چـه دا هـر څه دَ الله تعالیٰ دَ جوړے کړے قاعدے او اصول لاندے لګیا دے کیـږی پـه دے کښے چـه هـغـه څـه غـواړی تبـدیـلی کؤلے شی، بل هیـڅـوک څـه نـه شی کـولے ۔ لیـکـن دَ دے هرګز دا مطلب نه دے چه انسان بالکل مجبور محض دے بلکه الله تعالیٰ ده لره دَ ارادے مالک او دَ ښــه او بـد کـار کـولـو اختیــار ورکـړے دے، او ورسره ئے دا هم دَ خپلو کتابونو او پیغمبرانو په ذریعه خودلی دی چه دا کارونه نیک او ستاسو دَ فـائـدے دی او دا بـد او نقصانی دی ۔ په انسان او نورو مخلوقاتو کښے بـنیـادی فـرق هـمـدا دے چه نورو مخلوقاتو ته څه قدرے اراده او اختیار ورکـړے شـوے دے ، لیـکـن دَ عقل او شعور او فکری قوت نه ئے محروم سـاتـلـی دی لیـکـن انسان له الله تعالیٰ ارداه او اختیار هم ورکړے دے او

عقل او شعور او دَ سوچ او پوهے صلاحیت هم ورکړے دے ۔ اوس دے په خپلے ارادے او اختیار سره ښه کارونه هم کوی او بدکارونه هم ۔ دا کارونه الله تعالیٰ په ده باندے په زور سره نه کوی یا په ده باندے ئے نه مسلط کوی بلکه دا دَ ده دَ خپل اختیار او ارادے نتیجه وی۔

چونکه الله تعالیٰ ته دَ ماضی، حال او مستقبل علم دے لهذا دَ دغه علم مطابق چه فلانے سړے به دا نیک کار په خپلے ارادے سره کوی یا فلانے بدکار قتل او زنا وغیره به په خپلے ارادے سره کوی۔ نو الله تعالیٰ دَ ده دا فعل مخکښے نه دَ خپل ازلی علم مطابق لیکلے دے، ګویا کښے تقدیر صرف همدا نه دے چه فلانے سړے به فلانے ښه یا بد کار کوی بلکه په تقدیر کښے دا ټوله خبره ده چه فلانے سړے به په خپلے ارادے او اختیار سره داسے اوکړی بیا به دَ هغے نه دا نتائج پیدا کیږی او بیا به هغه ته دا جزا یا سزا ملاویږی۔

لهذا دَ تقدیر په وجے سره نه خو مونږه مجبور یو او نه زمونږه دَ اعمالو ذمه داری په الله تعالیٰ باندے راځی۔ همدغه شان دَ کومو مقاصدو دَ پاره چه مونږه کوم کوششونه اوکوم تدبیرونه کوؤ، په تقدیر کښے هم زمونږه دغه مقاصد همدغه تدبیرونه او کوششونو سره وابسته کړے شوے دی۔

په تقدیر کښے صرف دا نه دی چه فلانی سړے ته به فلانے څیز حاصل شی بلکه کوم کوشش او کوم تدبیر سره چه هغه څیز په دے دنیا کښے حاصلیدونکے وی په تقدیر کښے هم هغه څیز همدغه

تـدبیـر سره تړلے شوے دے ۔ په دے ضمن کښے په دے هم پو هیدل پکار دی چه تقدیر په دوه قسمه وی یو ''تقدیر مُبُرَم'' او بل ''تقدیر مُعَلق'' ۔
یـقـدیـر مُبـرم خـو اټل وی په هغے کښے هیڅ تبدیلی نه کیږی البتـه دَ تقدیر معلق تعلق عام طور سره دَ انسان عمل او دعاګانو سره وی ۔ الـلـه تـعالیٰ دَ هغه دَ ښو یا بدو کارونو په نتیجه کښے یا بیا دَ هغه دعا سره په هغے کښے تبدیلی کوی۔
بـرسرِ مطلب دا یو څو اهم عقائدو وو چه دَ هغے بیان مختصر طـور سـره اوشو ، اوس که چرے څوک مسلمان دَ دے بنیادی خبرویعنی عـقـائـدو نـه انـکار اوکړی په دے کښے شک کوی یا دَ یو داسے فرض نه انـکـار اوکړی دَ کوم په فرض والی باندے چه ټول امت مسلمه اتفاق دے یادَ یو داسے حرام کار دَ حرمت نه منکر شی کوم چه ټول مسلمانان حرام منی ، یا دَ قرآن مجید نه انکار اوکړی خواه که دا انکار دَ یوے کلمے ولے نـه وی نـو پـه دے سره بـه دَ دیـن نـه خـارج شی او مرتد به اوګنړلے شی۔ مـرتـد کیـدل پـه اسـلامی نقطه نګاه سره دَ ټولو نه لوئے جرم دے څنګه چـه دَ مـوجـوده قـرائیـنـو ترمخه خیانتِ عظمیٰ یعنی دَ قومی یا ملکی رازونـو غلا یا دَ ملک او قوم سره غداری وغیره ده ۔ مرتد که چرے توبه اونـه بـاسـی او په خپل جرم باندے ټینګ اوسی نو دَ هغه سزا مرګ دے۔ هـمـدغـه شـان ایـمـان تـقسیمدے نشی که چرے یو مسلمان یو کم سلو (۹۹) عـقیدو باندے ایمان لری او دَ یوے نه انکار کوی نو دے به کافر شی چـونـکـه پـه اسلام کښے داخلیدلو دَ پاره په ټولو ایمانیاتو او ضروریاتِ

دین بانـدے ایـمـان راؤړل ضـروري دي لیـکن دَ اسلام نه دَ خارجیدلو او کـافـر جـوړیدلو دَ پاره دَ دغه ټولو منکر کیدل ضروري نه دي بلکه کافر کیدلو دَ پاره په هغے کښے دَ یوے انکار هم کافي دے۔

دا هـم مـمـکـنه ده چه یو سړے په ظاهره مسلمان وي لیکن په حقیقت کښے بے ایمان وي لکه یو سړے په یو جماعت کښے شامل شي ، دَ هـغے په اجتماعاتو کښے شرکت کوي لیکن په حقیقت کښے هغه دَ هغے اصـول په زړه سره تسلیم کړي نه وي او دَ هغے دَ صحیح والي په زړه سـره قـائـل نـه وي، بـلکه دے په دغه جماعت کښے دَ جاسوسئ په غـرض سـره یـا دَ هغے جماعت دَ کارونو خرابولو دَ پاره شامل شوے وي ، نو داسے مسلمان ته به منافق وئیلے کیږي کوم چه په ژبے سره خو کلمه طیبـه وائـي ، دَ مـونـځ روژے پابند دے ، لیکن په زړه سره مؤمن نه دے ، نـو دَ ده نـجـات بـه نـه کیـږي ، اګـر چه په ظاهره او دنیوي اعتبار سره به مـونـږه هـغـه تـه مسـلـمان وایو ۔ ولے چه انسان خو دَ چا ظاهري حالت کتـلـے شـي او پـه هـمـدغه حالاتو باندے دَ هغه باره کښے خپله فیصله ورکولے شي ، دَ زړه رازونه خو صرف الله تعالیٰ ته معلومه دي۔

☆☆☆

# دَ اسلام نظامِ عبادات

(Islamic Warships System)

اسلامی نظامِ عبادات دَ دین او مذهب په بنیادی ضرورتونو کښې یو لازمی امر دے ، کوم چه دَ عقیدے درست والی نه پس په دویم نمبر دے ۔ دَ دے نه مراد هغه اعمال دی دَ کومو په ذریعه چه بنده دَ الله تعالیٰ دَ رضا او رحمت طلبگار جوړ شی او دَ هغه دَ الوهیت او خپلے بندگئی عملی اظهار کوی۔ عبادات دَ دے نظریے او دَ توحید دَ عقیدے عملی ثبوت دی چه زه الله تعالیٰ خپل خالق ، مالک ، حاکم منم ، ددے دَ پاره دَ هغه په وړاندے سر په سجده یم، او دَ هغه دَ حکم مطابق خپل ځان او مال قربانولو دَ پاره تیار یم ۔

لکه چه مونځ ، روژه، حج،زکوٰة،صدقات،ذکر،دعا ،تلاوت، جهاداو قربانی وغیره دا ټول عبادتونه او اعمال دَ روحانی پاکیزه والی او تقرب الهی حاصلولو او دَ الله دَ معبود والی ،او دَ هغه دَ عظمت او لوئے والی گواهی ورکولو دَ پاره ادا کولے شی۔

دَ اسلام نظامِ عبادات په درے قسمه عباداتو باندے مشتمل دے یو خالص جسمانی عبادات لکه رکوع ، سجده ، دَ الله تعالیٰ دَ کور طرف ، مونځ او روژه وغیره ۔ دویم خالص مالی عبادات لکه انفاق فی سبیل الله ، صدقه او خیرات ، زکواة ، نذر الله او قربانی وغیره ۔ او دریم قسم عبادت دَ دواړو (مال او جان) نه مرکب لکه حج ، عمره ، جهاد

وغیره ۔ دَ اجمالی خاکے نه پس په یو څو اهمو عباداتو باندے مختصر بحث لوستونکو ته وړاندے کوؤ۔

## مونځ:

مونځ یو داسے عبادت دے چه په ټولو اسمانی دینونو کښے دَ دے حکم وو، څنګه چه علماء فرمائی :

﴿کَانَتِ الصَّلٰوۃُ لِجَمِیۡعِ الۡاُمَمِ﴾ همدغه شان په اسلامی شریعت کښے هم دَ اسلامی عقائدو لکه توحید ، رسالت او آخرت وغیره شهادت ورکولو نه پس دَ ټولو نه ړومبئے او دَ ټولو نه اهمه فریضه کومه چه په بنده باندے دَ الله دَ طرفنه عائد کړے شوے ده هغه مونځ دے ۔ په قرآن مجید کښے ګنړ ځایه دَ ایمان او توحید نه پس دَ اولین عملی فریضے حیثیت سره دَ مونځ ذکر کړے شوے دے ۔ الله تعالیٰ دَ متقیانو صفات بیانوی فرمائی:

﴿اَلَّذِیۡنَ یُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡغَیۡبِ وَیُقِیۡمُوۡنَ الصَّلٰوۃَ﴾[بقره:۳]

یعنی دَ الله نه یریدونکی داسے خلق دی چه یقین کوی په نالیدلو څیزونو باندے او مونځ قائم لری۔"

بهر حال په اسلام کښے دَ ټولو نه ړومبے او اهمه مطالبه دَ مونځ ده ۔ دَ نبی کریم ﷺ دستور وو چه په اسلام کښے به ئے هر نوی داخلیدونکی نه دَ توحید اقرار اغستو نه پس دَ مونځ لوظ اخستو ۔

﴿وَکَانَ النَّبِیُّ ﷺ اَوَّلَ مَا یَشۡتَرِطُ بَعۡدَ التَّوۡحِیۡدِ اِقَامَةَ الصَّلٰوۃِ﴾[فتح الباری]

حقیقت دا دے چه دَ کلمے تصدیق کولو نه پس دَ الهی

احکامو پابند کیدلو او دَ شریعت کامله اتباع کولو سره چه څنګه اسلامی ژوند تیرول یو مؤمن دَ پاره ضروری کیږی، نو مونځ دَ داسے ژوند مهیا کولو ذریعه ده۔ ګویا همدا مونځ دَ ایمان او اسلامی ژوند په مینځ کښے ګړئ ده، دے دَ پاره دَ دے درجه دَ ایمان نه پس دَ باقی اعمالو نه مخکښے ده ۔ که چرے دَ تمثیل په طور باندے ایمان تخم او بیخ او باقی عملی نظام دَ دے ښاخونه اوګرځوؤ نو دَ مونځ حیثیت به دَ هغه اونے دَ تنے وی کومه چه پخپله اګرچه دَ تخم نه پیدا کیږی لیکن دَ دے قوت باندے ټولو کیدونکی ټول شاخونه او ګلونه پاڼړے دَ همدے تنے نه راؤځی او هم په دے باندے قائم وی۔

﴿اما الصلوٰة فهی المعجون المرکب من الفکر المصروف تلقاء عظمة الله ...ومن الادعیة المبینة اخلاص عمله لله وتوجیه وجهه تلقاء الله وقصر الاستعانة فی الله ومن افعال تعظیمة کالسجود والرکوع یصیر کل واحد عضد الاخر ومکمله ولمنبه علیه﴾ [حجة الله البالغه: ۷۳/۱]

مونځ یو معجون مرکب دے کوم کښے چه دَ الله تعالیٰ په عظمت کښے غور او فکر هم شته او داسے دعاګانے هم شته کومے چه عمل خالص الله تعالیٰ دَ پاره ګرځوی او نفس لره الله تعالیٰ طرفته متوجه کوی او هغه سره ئے وابسته کوی ۔ او هغه تعظیمی افعال رکوع او سجدے وغیره هم دی کومے چه دَ دے حالت معین او مددګار دی ۔ دے دَ پاره مونځ هر خاص او عام دَ پاره مفید دے او داسے قوی التاثیر تریاق دے کوم چه هر چاته دَ هغه دَ استعداد او صلاحیت په

اندازه فائده رسوی او ترقی ورکوی۔ مونځ مؤمن دَ پاره په منزله دَ معراج دے کوم چه ده لره دَ آخرت دَ تجلیاتِ باری تعالیٰ دَ برداشت دَ پاره تیارَوی۔ څنګه چه دَ رسول الله ﷺ ارشاد دے:

"چه عنقریب به تاسو دَ خپل پروردګار زیارت کوی لهٰذا دَ سحر او مازیګر په مونځونو کښے کوتاهی مه کوئ ،مونځ دَ حق تعالیٰ محبت پیدا کولو او دَ هغه دَ رحمت نازلولو دَ پاره لوئے تاثیر لری۔"

عرض دا چه مونځ دَ ژوند په ټولو حالاتو او دَ شریعت په احکامو باندے محیط دے مثلا اودریدل ، کیناستل ، ټیټیدل، څملاستل،دَ یو حالت نه بل حالت ته منتقل اومتحرک کیدل۔ نو په مونځ کښے دغه تمام حالتونه جمع کړے شوی دی ۔ په هر حال کښے دَ الله کریم یاد ، عظمت او کبریائی ، دَ الله دَ اطاعت او بندګئی مشق ، دَ توحید او رسالت شهادت وغیره ، دا ټول په مونځ کښے شامل دی ۔ علی هذا قبله رو اودریدلو سره یو قسم دَ حج یادګار هم دے کوم چه دَ مونځ شرط دے ، همدغه شان په مونځ کښے دَ خوراک څکاک ممانعت کوم چه دَ روژے خاصه ده ، همدغه شان دَ مونځ په اوقاتو کښے دَخپل کاروبار او کسب او معاش سلسله بندولو سره چه مونځ ګذار کوم مالی نقصان برداشت کوی دا په مونځ کښے دَ مالی قربانئی (زکواة) حصه ده ۔ بیا همدغه شان په جماعت کښے ټولو سره یو ځائے اودریدل او خپل دینی حیثیت نه اوچت سړے خپل امام جوړولو سره دَ هغه اقتداء کول دَ اجتماعی ژوند متعلق دَ دین اهم احکامات دَ

اخوت،مساوات،دَ مشرانو عزت او اطاعت فی المعروف او اطاعتِ امیر، التزام جماعت او دَ نظم و نسق مشق دے کوم چه په هر مونځ کښے کیږی ۔ په همدے بناء باندے نبی ﷺ فرمائیلی دی:

﴿اَلصَّلوٰةُ عِمَادُ الدِّیْنِ﴾ " مونځ دَ دین ستن ده"

﴿لَا دِیْنَ لِمَنْ لَّا صَلوٰةَ لَهٗ﴾ " دَ کوم سړی چه مونځ نه وی دَ هغه دین نشته۔"

په یو بل حدیث کښے دی چه پنځه مونځونه الله تعالیٰ فرض کړی دی چا چه په ښه شان سره دَ هغے دَ پاره اودس اوکړو او په خپل وخت باندے ئے هغه اوکړل او رکوع او سجده ئے هم چه څنګه کول پکار وی هغسے ئے اوکړل او دَ خشوع صفت سره ئے ادا کړل نو داسے سړی دَ پاره دَ الله تعالیٰ وعده ده چه هغه به دے اوبخښی او چا چه داسے اونه کړل نو هغه دَ پاره دَ الله هیڅ وعده نیشته خواه که بخښی ئے او که سزا ورکوی۔ [ مشکوٰة ]

## روژه:

روژے ته په عربئی کښے صوم وائی چه دَ دے معنیٰ ده بندیدل، بازراتلل۔ او په اصطلاح کښے صبا صادق نه واخله تر نمر پریوتلو پورے دَ خوراک څکاک او نورونفسانی خواهشاتو نه دَ بچ کیدلو نوم روژه دے۔ دَ الله تعالیٰ ارشاد دے:

﴿یَـا اَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا کُتِبَ عَلَیۡکُمُ الصِّیَامَ کَمَا کُتِبَ عَلَی الَّذِیۡنَ مِنۡ قَبۡلِکُمۡ لَعَلَّکُمۡ تَتَّقُوۡنَ﴾[بقره:۱۸۲]

"اے مـومـنـانـو! تاسو باندے روژه فرض کړے شوے ده څرنګ چـه تاسو نه مخکښے خلقو باندے فرض کړے شوے وه ، دَ پاره دَ دے چه تاسو پرهیزګاران جوړ شی۔"

په حدیث شریف کښے دی که:

﴿مَنۡ صَامَ رَمَضَانَ اِیۡمَانًا وَّاِحۡتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنۡ ذَنۡبِهٖ﴾

"چا چـه دَ رمـضـان روژے مـحض دَ الله دَ پاره دَ ایمان (صحیح عـقیدے) په بناء باندے او دَ احتساب ( اصلاح نفس ) دَ پاره اونیوے نو دَ هغه مخکښنی ګناهونه به بخښلے شی ۔"

غـرض دا چـه روژے نـوؤ سره بے شـمـاره جسـمانی ، روحانی ، مـعاشرتی او اخلاقی فائده وابسته دی۔ روژه هر کال پوره یوے میاشتے پـورے مسـلـمـانـانـو افـرادو تـه فـردا فردا او مسلمانے سوسائیټئی ته په حیثیت مجموعی دَ تقویٰ ، ایثار، مساوات ، غریبانو سره دَ همدردئ ، دَ قـانـون الهـی دَ پـابـنـدئ ، دَ ضبط ، تزکئے،صبر و استقلال او محنت او جفاکشی تربیت ورکوی۔

شاه ولی الله دهلویؒ دَ روژے باره کښے فرمائی:

﴿الـصـوم تـریاق عظیم یقوی الایمان ویقع الة صالحة الشعبد ویـنـفـع من البلاء وفتنة القبر وفتنة جهنم ویوصل الی باب الریان ویکسر حجاب الطبع کسرا عظیما﴾

" روژه یو عظیم تریاق دے کوم چه ایمان لره قوی کوی او دَ عبادت گذارئی یوه بهترینه طریقه ده کومه چه دَ بلا او فتنے دَ قبر نه او فتنے دَ جهنم نه حفاظت کوی او دَ جنت خصوصی دروازے ریّان ته رَسول کوی او دَ طبیعت حجاب په پوره توگه ثیرے کوی ثنگه چه ارشاد نبوی ﷺ دے چه روژه دۀ دَ پاره ډهال دے۔ او دَ معرفت طرف ته حجاب ثیرے کوی ولے چه دا دَ قوی علمیه پوره تنقیه (صفائی) کوی او هر کله چه دَ شعائر الهی نه شمار شوه نو دَ رسمونو اثراتو نه بچ کول کوی۔ او کله چه روژه پوره ملت لره په صحیح لاره باندے قائم لرلو دَ پاره ده نو لا محاله دا به داسے مودے لره وی چه نه لږه وی او نه زیاته وی ، کومه کښے چه ټول مسلمان په شریکه ذکر الله ،تلاوت،صدقه او دَ مونځ کثرت اوکړی او دا دے دَ پاره چه دا خبره دَ دوئ دَ وَس نه بهر ده چه دوی مطلقا په دے حالت باندے مداومت اولری نو ضروری شوه چه په دے مخصوصه موده کښے په دے حالت باندے مداومت اولری ۔ که چرے دَ کل حصول اونشی نو چه دَ کل ترک دے هم اونشی همدا معنیٰ دَ روژے دَ ډهال کیدلو ده۔

او هر کله چه دَ پوره ملت کار په دے طرز باندے مشتمل شو نو دا خبره رشتیا شوه چه په رمضان کښے شیطانان تړلے کیږی او دَ جهنم دروازے بندے او دَ جنت دروازے کولاؤ شی۔ او دَ روژے حقیقت دَ خوړلو ثکلو او جماع درے واړو لزتونو نه بچ کیدل دی ، دَ صبا ظاهریدل او دَ صبا پَلوَشو خوریدلو نه واخله تر نمر پریوتلو پورے ۔ او روژے نیولو په

وجــه ســره دَ دروغــو او غیبت او خپـلـو کښې دَ کـنـځـلـو او بـدوردو دَ پریښودلو پوره تاکید اوشی۔ [البدور البازغه:۳۱٦]

## زکواة:

دَ زکواة مـعـنـیٰ ده پاکوالے یعنی زکواةورکـولو سره مال پاک شی ۔ په قرآن کریم کښې ارشاد دے:

﴿وَاَقِیۡمُوا لصَّلٰوۃَوَاٰتُو الزَّکٰوۃَ﴾[بقره:٤٣]

” مونځ قائم کړی او زکوٰۃ ادا کړی۔“

دَ خلیفه اول ابوبکر صدیق قول دے چه:

﴿وَاللّٰهِ لَاُقَاتِلَنَّ مَنۡ فَرَّقَ بَیۡنَ ا لصَّلٰوۃِ وَالزَّکٰوۃِ﴾

”قسم په الله چا چه په مونځ او زکوٰ ۃ کښې فرق اوکړو نو زه به ضرور هغه سره جهاد کوم۔“

بهـر حال اسلام په صاحبِ حیثیت مسلمان باندے سالانه ( یو خاص مـقـدار) مـقـرر کـړے دے دَ پاره دَ دے چه مسلمانانو کښې دَ مالی ایثـار پـه ذریـعـه په خپلو کښې دَ همدردئ او تعاون جذبه پیدا شی۔ او دَ دولـت ګـردش صرف مالدارانو پورے محدود پاتے نشی بلکه غریبان هم دَ دے نه مستفید شی او په خپلو کښې طبقاتی کشمکش نه وی۔

دَ زکواة فـرضیـت تهذیب نفس ، اصلاح اخلاق ، په مال کښے بـرکـت پیـدا کـولو دَ پاره ، معاشرتی بدئی ، نفسانی شرونه (لرے کولو دَ پاره) دَ مال تزکیے او غریبانو دَ پاره دے۔

شاه ولی الله دهلویؒ دَ زکوٰۃ په سبق کښے فرمائی چه : دَ زکوٰۃ

فرضیت کښې دَ دوؤ مصلحتونو لحاظ ساتلے شوے دے دَ یو مصلحت مآل تزکیه نفس او تهذیب نفس دے او هغه دا دے چه زکوٰ ة سره دَ بخل ازاله کیږی او بخل دَ ټولو نه بد عادت دے چه دَ دے په وجه سره به سړے په آخرت کښې نقصان او ضرر کښې اوسی ۔ بخیل سړے چه کله مری نو دَ هغه زړه په مال کښې انختے وی چه دَ هغے په وجے سره هغه له عذاب ورکولے شی۔ او کوم سړے چه دَ زکوٰ ة عادی وی او دَ دے په ذریعه دَ خپل ځان نه دَ بخل ماده اوباسی نو دا دَ هغه دَ پاره فائده مند وی۔ په آخرت کښې دَ انابت الی اللـه نه پس دَ ټولو نه زیات سود مند عادت سخاوتِ نفس دے۔ ځرنګ چه انابت الی الله په نفس کښې عالم جبروت بانـدے دَ مطلع کیدلو هیئت استعداد پیدا کوی همدغه شان سخاوت په نفس کښې دَ خسیس دنیاوی هیئتونو نه دَ بری کیدلو استعداد پیدا کوی ۔

دَ دویم مصلحت مآل شهری ، ملی او قولی منافع دی او هغه دا چه په ښار او قوم کښې لا محاله کمزوری او حاجت مند خلق هم ضروری وی ، دَ زمانے حوادث په یو قوم باندے راځی او په بل قوم باندے تیر شی ، که چرے په دوی کښې دَ فقیرانو او مسکینانو او حاجتمندو دَ همدردئ او خیر خواهئی دستور نه وی نو هغوی به هلاک شی او دَ فقر او لوږے نه به مړه شی ۔ او بل دا چه ملکی او قومی نظام هم په مال او سرمایه بانـدے موقوف دے کوم سره چه دَ محافظینو او مدبیرینو او سیاسیینو او حکامو ، عمالو روزینے (تنخواه ګانے) ورکړے کیږی۔

هر کله چه دا خلق دَ ملک او قوم په وجے سره په مفیدو ضروری کارونو کښے مشغول دی او دَ معاش کسب ئے پریخے دے نو ضروری ده چه دَ دوی دَ معیشت بوج هم په قوم باندے پریوځی۔ او چونکه دَ مشترکه اخراجاتو تحمل بعضو دَ پاره اسان نه وی او بعضے خلق په دے باندے قادر نه وی نو ضروری شوه چه دَ رعیت نه دَ مالونو جمع کولو څه دستور او قاعده وی۔ هر کله چه دا خبره مشکله وه او دَ مصلحت موافق نه وه چه یو مصلحت بل مصلحت سره ملاؤ کړے شی نو شریعت یو به بل کښے داخل کړو۔

بیا ضرورت دَ دے پیښ شو چه دَ زکواة مقدار متعین کړے شی ۔ که چرے دا تعیین نه وے شوے نو دَ دے په ادا کولو کښے به دَ افراط او تفریط نه کار اخستے کیدو او ظالم به په خپل ځان ظلم کولو ۔ او دا هم ضروری ده چه دغه مقدار نه دومره کم وی چه دَ هغے پرواه نه وی او دَ بخل ازاله اونه کړی او نه دومره زیات وی چه ادا کول ئے هغوی دَ پاره ګران شی۔ او موده هم دومره اوګده نه وی چه هغے سره دَ بخل ازاله نشی کیدے او محتاجانو خلقو ته اوګد انتظار کول ختم نه وی ۔ دَ مصلحت موافق همدا وه چه دے دَ پاره هغه موده کیښودے شی کومه کښے چه بادشاهان دَ خپل رعیت نه عموما ټیکس وصلولوی۔ [حجة الله البالغه:۱/۳۶]

## نظام زکواة:

مولانا ابو الکلام آزادؒ لیکی چه:

کوم خلق فردافردا زکواة په خپل سمی ورکوی نو ما مخښکے هم وئیلے وو چه دا درست نه ده ۔ یقین اوکړے چه په تاسو کښے کوم خلقو داسے زکوٰة ورکوی هغوی دَ اسلام احکامو مطابق زکواة نه ورکوی اسلام دَ زکواة رقم په اجتماعی توګه دَ خرچ کولو حکم کړے دے او تاسو ئے په انفرادی لاسونو خرچ کوے۔ دَ اسلام حکم ، دَ صحابه کرامؓ عمل او دَ تاریخ پاڼړے دا ښائی چه زکواة رقم دے په اجتماعی توګه خرچ کړے شی۔ دَ انفرادی توګه دَ خرچ دا بدعت دَ خلفائے راشدینو نه بعد راغلے دے ۔ ځه تاسو ته نن په تاکید سره وائیم چه خپل اعمالو کښے دَ اجتماعیت صورت پیدا کړے ۔ پاسے په هر هر کلی، محله کښے کم از کم دَ پنځو سړو یوه کمیټی جوړه کړے ۔ شپږ دے هم نه وی ، صرف پنځه ۔ چه هغوی دَ زکوٰة تحصیل او تنظیم کوی او دا په پوره ذمه واری او باقاعدګی سره خرچ کړی۔ تاسو به اوګورے چه ډیر زر په پوره محله بلکه پورا ښار ستاسو دَ کیمټی ممبران جوړ شی او دا به یوه نمونه وی چه دَ هغے تقلید سره به دَ خیر او برکت تالاش کونکی خپل سعادتونه او رک شوے مال دولت او حشمت وعزت اولټوی۔ نو آیا په تاسو کښے داسے پنځه زړونه شته چه ځما خبره دَ زړه په غوږونو واوری۔ [ارکان اسلام-حقیقت زکواة]

## حج:

حج دَ اسلام په اهمو ارکانو کښې دے کوم چه دَ استطاعت خاوند باندے په ټول عمر کښې یو ځل فرض دے ۔ فرمان الهی دے:

﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا﴾[العمران:۹۷]

''الله دَ پاره دَ خلقو په ذمه دَ هغه دَ مکان حج کول دی۔''

حدیث شریف کښې دی چه :

''چا سره دَ حج دَ سفر ضروری سامان وی او هغه ته سورلی میسر وی چه بیت الله ته ئے اورسولے شی او بیا هم دے حج نه کوی نو هیڅ فرق نیشته چه دے یهودی مری یا نصرانی مری۔ ''

حج دَ اسلامی مساواتو نمونه ده ، امیر غریب ، بادشاه ، فقیر ټول په یو لباس ( احرام) کښې ملبوس شی او دَ بیت الله طواف کوی ۔ په کال کښې یو ځل دَ دنیا ګوټ ګوټ نه مسلمانان جمع شی دَ خپل ملی تشخص ، دَ اتحاد او اتفاق او دَ مرکز یت عملی ثبوت ورکوی او دَ دے په ذریعه یو بل سره ملاویدلو سره دَ اخوت او همدردئی جذبات پیدا کیږی ۔ غرض دا چه دَ حج بیت الله څو اهم حکمتونه دی :

**(۱) فرشتو سره مشابهت:** دَ حج په ورځو کښې حاجی ته دَ حیوانیت او نفسانیت ټول خصلتونه بالکل دَ پریښودلو حکم ورکړے شو ، او د انسانیت جو هر نمایاں کولو سره فرشتو سره دَ مشابهت او مسابقت پوره موقع ورکړے شوه ده ۔ ارشاد ربانی دے:

﴿اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ﴾ [بقره:۱۹۷]

”دحج میاشتے مقرر دی نو کوم سړے چه په دے کښے خپل ځان باندے حج لازم کړی نو هغه دے خپلے ښځے سره دَ میل لاپ کولو نه ، دَ ګناه کولو نه او دَ جنګ جګړے نه بچ اوسی۔“

**(۲) دَ بندګئی اجتماعی اعتراف او اعلان:** په ازل کښے الله تعالیٰ دَ ټولو انسانی ارواحو نه په میدان عرفات کښے دَ خپل ربوبیت او وحدانیت اقرار اخستے وو چه هغوی به په دنیا کښے ټول ژوند دَ بندګئی سره په اطاعت او فرمان بردارئی کښے تروی او همدا دَ ایمان اصل تقاضا ده ، اوس هر کال دَ حج په موقعه باندے په عرفات دَ دے سالانه عظیم الشان ملی اجتماع نه مقصد دَ دغه اقرار او اعتراف او لوظ یاد دهانی ده ، او دَ خدائے پرستو دَ طرفنه دَ دغه لوظ او اقرار پاسداری او ادائیګی ده ځنګه چه په روزِ ازل کښے مونږه دَ رب العزت دَ ربوبیت ، خالقیت او حاکمیت اعتراف کړے وو ، چه مونږه دَ الله تعالیٰ په فضل و کرم سره په هغے باندے قائم یو ، او دَ الله تعالیٰ په بندګئی او اطاعت او فرمان بردارئی کښے دَ استطاعت او قدرت موافق مصروف او مشغول یو ، او ځو مره کمی او کوتاهی چه زمونږ نه سرزد شوے ده په هغے باندے خپیمانه او شرمنده یو او دَ خپل عجز او قصور معترف او دَ مغفرت او معافئی خواست مند یو ۔

**(۳) دَ آخرت دَ سفر یاد دهانی:** دَ حج سفر په حقیقت کښې دَ آخرت یاد دهانی ده ، دَ حج دَ سفر په هره موقعه باندې دَ آخرت دَ سفر نمونه په نظر راځی ، دَ حج ارادې سره دَ کور نه دَ وتلو وخت کښې ټول عزیزان او خپلوان او دوستان ، احباب او مال و دولت پریښودل او دَ بل وطن مخه کول ګویا دَ مرګ یاد دې ۔ څنګه چه دَ مرګ وخت کښې دا هر څه پریښودل وی او آخرت ته رُخ کول وی۔ احرام تړل دَ کفن یاد دهانی ده ۔ دَ بیت الله طواف په آخرت کښې دیدارِ الهی رایادوی ۔ دَ صفا مروه په مینځ کښې دَ پریشانئی په حالت کښې سعی کول دَ قیامت په ورځ دَ قبرونو نه دَ پریشانئی په حالت کښې راپاسیدل ظاهروی ۔ دَ عرفات میدان او اجتماع دَ حشر دَ میدان پوره او صحیح نقشه ده وغیره۔ غرض دا چه څومره یو انسان دَ حج سفر په عقل او شعور او فهم او تدبر سره پوره کړی هغه هومره به ورته دَ آخرت په سفر کښې سهولت او اسانتیا وی ۔ ولې چه دَ دواړو سفرونو اصل زادِ راه ( دَ لارې توښه) دَ تقویٰ او پرهیزګارئ او خدا پرستئی او خداترسئی زندګی ده کوم چه دَ زندګئی اصل مقصود دې۔

**(۴) دَ محبت خداوندی عامه جلوه:** دَ انسان تعلق الله رب العزت سره په دوه قسمه دې یو دَ بندګئی او غلامئی چه هغه ذات پاک مالک دې، خالق دې، احکم الحاکمین دې او دا بنده مملوک او دَ هغه مخلوق دې ۔ دَ دې تعلق مظهر مونځ دې کوم چه سراسر په

بـنـدګـئـی او غـلامئی او نیاز مندئ باندے مشتمل دے ۔او دَ دے تعلق پوره تعمیل زکوا ة سره کیږی چه دَ مالک عطا کړے شوے مال دَ هغه په حکم سره دَ هغه نادارو بندګانو باندے خرچ کړے شی۔

دویم تعلق دَ محبت دے چه په جمال او کمال باندے مئین توب دَ انسان فطری تقاضا ده ، دَ دے تقاضے او جذبے پوره کولو دَ پاره دَ بیت الله حج مقرر کړے شو۔

دَ غـلامـئـی اعتراف او دَ بندګئی ادا دَ پاره دَ څه څیز پریخودلو حاجت نـه وو ، کـور نـه وتلو نه بغیر ئے دَ بندګئی فریضه او دَ غلامئی شیـوه ادا کـړه ، بـارګاه خداوندی کښے ئے حاضری ورکړه او بس لیکن دَ محبت پـه لاره کښے هر څه پریښودل او هر شی ته به خیر باد وئیل وی ولے چه دا دَ محبت دَ لارے اولنے شرط دے ۔ بندګئی نه آراسته کیدل دَ کور په کوټ کښے دی نو دَ مینے او محبت تکمیل دَ پاره دشته او ویرانه پکار ده ، دَ محبوب په طلب او لټون کښے ئے دَ لیونو پشان دَ محبوب دَ پاره رُخ اوکړو او کـلـه چـه دَ یار محبوب ته نزدے اورسیدو نو دَ هر قسم زیب وزینت ، آرائش او زیبائش نه آزاد شو ، نه په سر باندے ټوپئی ، نه پـه بـدن بـاندے قمیص نه په خپو کښے پرتوګ ، ولے چه دیوانه مُحب دَ لباس او آرائش او زیبائش دَ قید او بند نه آزاد وی ، په خپل مجنونانه هیئت کښے مست او سرشار وی ، همدغه دَ احرام حقیقت دے ۔

ے
چشم تر خاک بسر چاک گریباں دل زار
عشق کا ہم نے یہ دنیا میں نتیجہ دیکھا

غرض دا چه کله دَ محبوب کوڅے نه نزدے پراګنده حال ، زړه بیتابه ، حالت زار ، سترګے دَ اوښکو نه ډکے ، خیرن خیچن ،دوړو وهلے ، محبانه شکل او مجنونانه هیئت سره اورسیدو ځکه چه دَ محبت دستور همدا دے او همدا دَ انسانیت اصل کمال او دَ بندګئی اعلیٰ مقام دے ۔ دَ عاشقانو شیوه او دَ لیونو دستور آه وفغان هم وی دے سره بے قراره زړه ته یو قسمه تسکین اوشی ۔ همدے دَ پاره حج کونکے مستانه وار لبیک وئیلو سره چغے سورے وهی او دَ لیونو پشان دَ محبوب په لټون کښے دَ هغه خصوصی تجلی ګاه طرفته ځی ۔ بیا چه کله ئے دَ محبوب کور خانه کعبه باندے نظر پیروځی نو زړه ئے بے قابو شی ، عقل ئے مبهوت شی ، دَ هیڅ ننګ ونام آن شان پرواه ئے پاتے نشی او دَ هیڅ ضابطے او قانون پابند پاتے نشی ، بے اختیاره دَ محبوب دَ کور نه چاپیره تاویږی۔ همدا دَ کعبے طواف دے ، او دَ هغے درودیوار ښکلوی ، دَ هغه دُرشل سره سترګے مږی او په هغے باندے تندے مږی۔ دَ کعبے دَ طواف ابتداء هم دَ حجر اسود ښکلولو نه کیږی کوم چه دَ محبوب دَ لاس مبارک قائم مقام ګرځولے شوے دے دَ پاره دَ دے چه دے انتساب سره دَ زړه بَل شوی اور ته تسکین اوشی ، چه دَ هغے دَ لذت او حلاوت احساس صرف محب مهجور کولے شی۔ دَ خانه کعبے درشل او پرده نیول سر او سترګے ورسره لګول ، دَ کعبے رب ته بار بار چغے وهل هم دَ دے محبانه ادا یو جهلک دے چه دَ محبوب لمن سره وابستګی هم دَ محبت نااشنا انداز دے۔ علی هذا القیاس

## نفلی عبادتونه :

دَ دغه ذکر شوؤ عبادتونو او ارکانو نه علاوه هم څه اهم او نفلی عبادتونه دی دَ کومو په کولو سره چه بنده ته دَ الله تعالیٰ په نزد تقرب حاصلیږی او هغه ذکر و اذکار ، دعا ، تلاوت او نفلی مونځ او روژه وغیره وی ۔ په حدیث شریف کښے راځی نبی کریم ﷺ فرمائی چه:

﴿وَمَا يَزَالُ عَبْدِیْ يَتَقَرَّبُ اِلَیَّ بِالنَّوَافِلِ حَتّٰی اُحِبَّهٗ﴾[بخاری]

” همیشه ما ته یو بنده دَ نفلی عبادتونو په ذریعه لګیا وی رانزدے کیږی حتی چه زه ده لره محبوب جوړ کړم ۔“

ذکر اذکار ( یادِ الهی) یو داسے عبادت دے کوم دَ پاره چه څه وخت وغیره خاص نه دے بلکه انسان هر وخت دَ اودس په حالت کښے او بغیر اودسه ، په ناسته ،پاسته،ملاسته هر حالت کښے کولے شی کوم سره چه دَ زړه زنګ لرے کیږی ، ذکر اذکار سره دَ الله تعالیٰ نه طلب توبه یعنی استغفار هم کول ضروری دی ولے چه دَ نبی کریم ﷺ ارشاد دے چه :

﴿يَآ اَيُّهَا النَّاسُ تُوْبُوْآ اِلَی اللّٰهِ وَسْتَغْفِرُوْاهُ فَاِنِّیْ اَتُوْبُ فِی الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةً﴾ [بخاری]

” اے خلقو! الله ته توبه اوباسئی او دَ خپلو ګناهونو بخښنه غواړی ولے چه زه په ورځ کښے سل ځلے خپل رب نه استغفار طلب کوم ۔ “

دے سره سره نبی کریم ﷺ باندے درود لیګل حدیث شریف کښے دی چه :

﴿مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ وَاحِدًا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا﴾[بخاری]

" څوک چه په ما باندے یو ځل درود لیګی نو الله تعالیٰ په هغه باندے لس ځلے رحمت لیګی۔"

دَ دے نه علاوه دَ نورو مسنون اذکارو پابندی کول هم ډیر ضروری دی ۔ دے سره سره الله تعالیٰ نه دعا غوښتل هم یو عبادت دے ولے چه انسان دَ الله محتاج دے ارشاد باری تعالیٰ دے چه :

﴿اُدۡعُوۡنِیۡۤ اَسۡتَجِبۡ لَکُمۡ﴾[مؤمن:٦٠]

" ما رابلئی ، مانه غواړئ زه به ستاسو دعاګانے قبلوم۔"

دے سره سره دَ قرآن پاک تلاوت کول هم معمول جوړول پکار دی ولے چه دَ صحابه کرامو رض معمول وو چه چا به قرآن پاک په یوه میاشت کښے چا به په یوه هفته کښے ختمولو ، تلاوت سره سره قرآن کریم په خپله ژبه کښے زده کول هم ضروری دی دَ پاره دَ دے چه انسان ته دا معلومه شی چه زه څه وائم او دَ زده کولو نه پس بیا دَ دے بیانول هم دَ قرآن یو ډیر لوئے حق دے۔

## ضروری خبردارے:

دَ دے تمامو عباداتو ، مونځ ، روژے ، حج ، زکوٰة ، صدقے او خیرات ، ذکر او دعا کولو کښے دَ سنت پابندی او دَ نبی ﷺ په طریقه باندے ادا کول شرط دی ۔ کوم عمل چه دَ نبی ﷺ دَ سنت خلاف په خپلے طریقے رسم و رواج او بدعاتو باندے اوکړے شی هغه الله تعالیٰ ته منظور نه دے څنګه چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی:

﴿لَیۡسَ مِنَّا مَنۡ عَمِلَ عَمَلاً بِغَیۡرِ سُنَّتِنَا﴾ [جامع صغیر]

" هغه کس زمونږ نه نۀ دے چا چه زمونږ دَ سنت طریقے نه بغیر څه عمل اوکړو۔"

دے دَ پاره په اعمالو کښے دَ بدعاتو دَ کولو او سنت نه خلاف طریقو نه بچ کیدل پکار دی او دَ هر عمل کولو نه مخکښے دَ نبی کریم ﷺ طریقے معلومول پکار دی او بیا دَ هغے مطابق عمل کول ضروری دی۔

بهر حال دَ دین دَ خدمت او دَ احیائے دین دَ سلسلے بنیادی کار دا دے چه دَ عقائدو نه پس دَ اسلام په دے ارکانو کښے روح او حقیقت پیدا کولو کوشش دے اوکړے شی ، او دَ امت ،مونځونه ، روژے، زکاتونه او حجونه دے دَ ظاهر او باطن په لحاظ سره دَ نبی کریم ﷺ مونځ، روژے، زکواة او دَ حج منهاج باندے راوستلو دَ پاره کوشش اوکړے شی۔

مولانا ابو الکلام آزاد لیکی:

څه دَ پوره دیرش کاله غور وفکر نه بعد ، چه په دے اوګده زمانه کښے هیڅ یو نمر او دَ دَ دے هیڅ یو صبا او مابنام داسے نه دے تیر شوے چه ځما دَ غور او فکر نه خالی وی او چه ما په پوره توجه او پوری دل سوزئی سره غور وفکر نه وی کړی۔

دَ مسلسل غور وخوض نه بعد څه په دے تتیجه اورسیدم چه دَ مسلمانانو اجتماعی فلاح وصلاح بغیر دَ دے نه په بله معامله موقوفه نه ده کوم چه دَ قرآن په هره پاړه لیکلے شوے ۔ تاسو وینے اَقِیۡمُو الصَّلٰوۃَ وَاٰتُو الزَّکٰوۃَ یعنی دَ مونځ قیام او دَ زکوٰۃ ادائیګی۔ هم دا دوه مسئلے داسے دی چه تاسو دَ ټولو نه زیات دا غفلت ته حواله کړی

دی ۔ قرآن کریم په دے مسئلے دَ تهولو نه زیات زور ورکړے دے ۔ لیکن نن تاسو دَ تهولو نه زیات دا دوه مسئلے پس پشت غورزولی دی۔ دَ تهولو نه زیات غفلت ،اګرچه دا غفلت انکار خو نه دے لیکن قریب انکار ضرور دے، حالانکه دَ کفر او اسلام دَ امتیاز په سلسله کښے هم دا مونځ او زکواة معیار مقرر کړے شوے دے ۔ که چرے تاسو دَ خپل ختم شوے وقار او دَ رک شوی دولت دَ واپسئ په خیال ئے تر دَ بیخ بنیاد او دَ اصل دَ شادابئی فکر اوکړے یعنی په خپلو مونځونو قائم شے او په اجتماعی شکل کښے دَ زکوٰة تنظیم او تقسیم باندے قائم او عامل شئ چه هم دا دوه عمله اصل او بنیاد دے او په دے باندے په مضبوطے سره قائم کیدلو او عامل کیدو سره دَ رک شوی دولت دَ واپسئی مدار او انحصار دے۔ [حقیقت زکوۃ]

دا خو دَ عباداتو مثبت اړخ او حصه وه بل منفی اړخ یعنی منهیات دی ۔ هغه دا دی چه بعضے مخصوص کارونه دے اونه کړے شی ۔ دا هغه کارونه دی چه دَ هغے په بدوالی او دَ هغے په بندولو باندے دَ دنیا تمام عقل مند خلق متفق دی مثلا دَ څه جواز نه بغیر انسانی قتل ، دَ نورو په حقوقو باندے لاس اوګدول ، هر قسم ظلم ، هره هغه نشه چه عقل سلب کوی ، زنا چه دَ خاندانونو دَ عزت او شرافت جنازه اوباسی او په نسب کښے دَ ګډون سبب جوړیږی۔ همدغه شان سود ، دروغ ،دهوکه بازی او ملاوټ کول ، لوظ ماتول ، فوجی خدمت نه تیښته دا ټول ناجائز او ممنوع کارونه دی دَ دے نه هم زیات دَمور پلار نافرمانی ،په دروغه قسم او په دروغه ګواهی وغیره داسے جرائم دی کومو نه چه اسلام په

سختئی سره منع کوی او دَ دے نه علاوه ټول بدکارونه دَ کومو په بدوالی او ناروا والی باندے چه انسانی عقلونه متفق دی۔

که چرے څوک مسلمان عملی اعتبار سره کوتاهی کوی دَ بعضو فرائضو په ځائے راؤړو کښے کوتاهی کوی یا دَ بعضو ناجائزو کارونو ارتکاب کوی لیکن دَ فرائضو واجب العمل کیدلو او دَ حرامو کارونو دَ حراموالی اعتراف کوی نو دے به مسلمان وی اګر چه ګنهګار (او فاسق) به وی۔ که چرے بیا خپیمانه شی توبه اوباسی او الله تعالیٰ نه معافی اوغواړی نو الله تعالیٰ به ئے معاف کړی او که چرے توبه ئے اونه ویسته او په خپل غلط رَوِش قائم وو نو بیا به هم دے مسلمان شمارلے کیږی لیکن ګناهګار به وی او په آخرت کښے به دَ سزا مستحق وی۔ لیکن دا عذاب به تر یوے مودے پورے وی دَ کافر غوندے ابدی عذاب به ورباندے نه وی۔

## جهاد:

دا دَ اسلام شپږم رکن دے ۔ په حدیث شریف کښے دی چه :

﴿ذَرْوَةَ سَنَامِهِ اَلْجِهَادُ﴾ [مشکواۃ]

"دَ اسلام دَ قب او چتوالے (شان او شوکت) جهاد دے۔"

اسلام دَ امن او شفقت دین دے لیکن کله چه په حقوق الله او حقوق العباد باندے ډاکے پریوتل شروع شی، انسان دَ خپل فِطری حقونو نه محرومول ،غلام جوړول ، دَ هغه مال ، ځان او عصمت په

خطره کښې پریوځی، په انسانیت باندې ظلم او دَ هغه تذلیل او توهین شروع شی نو قدرتی طور باندې دَ جنګ حالت پیدا کیږی۔ اسلام په همدې حالت کښې ظالمانو سره قطع تعلق سره سره دَ امن او سلامتیا قیام ،دَمذهبی،معاشرتی او سماجی حقونو بحالی دَ فتنې وفساد بیخ کنی او دَ ظلم او ستم لار بنده ولو دَ پاره بامرِ مجبوری دَ تورې او طاقت استعمالولو اجازت ورکوی۔ ولې چه: ﴿اَلْفِتْنَۃُ اَکْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ﴾ [بقره]

"فتنه (فساد،کفر او شرک) دَ قتل نه هم لویه ګناه ده۔"

په همدې وجه قرآن کریم کښې ارشاد دې :

﴿ وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰی لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ۔ ﴾

" دوی سره جنګیږئ تردې پورې دې چه فتنه او فساد باقی پاتې نشی۔"

په همدې بنیاد باندې نبی کریم ﷺ په خپل لس کلنی مدنی ژوند کښې تقریبا ۷۵ غزاګانې کړی دی۔ په دې بناء باندې په مسلمانانو جهاد فرض دې۔ قرآن پاک کښې ارشاد دې:

﴿وَجَاهِدُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ﴾[بقره]

" او دَ الله په لاره کښې جهاد کوئ" او په حدیث پاک کښې راغلی دی چه:

﴿اَلْجِهَادُ مَاضٍ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ﴾

"جهاد به تر قیامته پورې جاری وی"

لیکن نن دَ اسلام ، جهاد او مسلمانانو مجاهدینو خلاف ډیره زهریله پروپیګنډه کولې شی چه اسلام او جهاد دهشت ګردی ده،

مجاهدین دهشت گرد او انتها پسند دی بلکه جهاد دهشت گردی او بربریت ختمونکے عمل دے، او نه خو مجاهدین دهشت گرد دی او نه دقیانوس،نه فسادیان ،نه لیونی بلکه په ټوله دنیا کښے دَ امن خواهشمند دی ـ دا مجاهدین ورځ دَ اس په شا باندے تیرونکی او شپے په مصلی باندے، دَ ورځے په رنړا کښے کافران مقابلے ته رابلونکی او دَ شپے په خاموشی کښے دَ خپل رب په مخکښے اوښکے بهیونکے دی۔ دَ دوی په ژبو باندے تلاوت وی او په لاسونو کښے آتشین وسله، په سترگو کښے ئے حیا او په تندوئے دَ ایمان چمک،په زړونو کښے دَ جذباتو چپے او په دماغونو کښے دَ عالمِ اسلام دَ تندی نه دَ ذلت او بزدلئی داغ وینځلو عزم ، مجاهدین حادثاتی طور باندے همداسے نه پیدا کیږی بلکه دَ دوی په تلاش کښے آسمان په کلونو گرځی۔ او نرگس په زرگونو کاله ژاړی۔

لیکن ناقدرو خلقو هغوی اوبیلل۔ دوئ دَ عفت او عصمت او عظمت او ایثار گرځنده شاهکار دی، دَ دوی هیڅ ذاتی مفادات نیشته ، دوئ دَ اسلام او مسلمانانو دَپاره ژوندی دی ـ او دَ دوی مفاد به څه وی؟ دوی خپل راحت او دَ خوشحالئی ژوند ،مال او دولت، ښځه بچی ملک او متاع پریخودلو سره په غرونو ، چټانونو او دَمشکلاتو ژوند خپلولو سره دَ خپلو عزیزانو او اقرباؤ،دَ خپلو دوستانو او وطن دارو نه په زرگونو میله لرے تللو سره کوم مفاد حاصل کړو؟ دهشت گرد خو هغه خوفناک دیوان او دَ کفر پلیت مگرمچان دی چا چه په خپلو جبرو کښے

دَ افغانستان نه تر چیچنیا پورے او دَ کشمیر نه فلسطین او عراقه پورے مظلوم مسلمانان دَ فقر او لوږے په حالت کښے ترلی دی۔ چا چه مسلمانان دَ کیوبا او عراق (ابوغریب) جیلونو کښے دَ حیوانیت نه بدتر سلوک سره ساتلی دی، دهشت گرد خو هغه دی چا چه په خپل ظلم سره دَ تاتاریانو تاریخ شرمنده کړو۔ دهشت گرد هغه دی چه دَ سمندر دَ بلے غاړے نه راغلی دی او دَ مسلمانانو په ملکونو ،املاکو،تیلو،معدنیاتو وغیره باندے ئے قبضه کړے ده، چا چه په بیکسه مظلومانو ،بے گناه عوامو باندے کروز میزائیل ،ډیزی کټر او کلسټر بمونه اوویشتل ،په زرگونو ښځے ئے کونډے کړے ،بچی ئے یتیمان کړل ، او په بوډا گانو او ضعیف العمر خلقو باندے ئے ظلم او تشدد اوکړو۔ هائے دے مظلومانو څه دهشت گردی کړے وه، دَ دنیا ئے کفر یهودو او نصاریٰ ؤ ئے څه نقصان کړے وو، دشمن ته خپله دا دهشت گردی په نظر نه راځی لیکن کله چه څوک مجاهد مسلمان دَ خپل ملک او وطن او دین اسلام دَ دفاع خبره کوی ، دَ دے ظلم او فرعونیت خلاف آواز پورته کوی دَ دے کونډو ،یتیمانو او بیکسانو سهاره جوړیږی دَ خپل ملکیت او خپل حق مطالبه کوی نو هغه ته دهشت گرد وئیلے کیږی۔ که چرے دنیائے کفر خپل خود ساخته قوانین ، دَ حیوانیت نه بدترین تهذیب ، کوم کښے چه مادر پدر آزاد ده (لور،خور څوک نه پیژنی) کوم کښے چه زنا کاری ، شراب خوری ،لواطت غوندے ذلیله حرکات قانونا جائز دی ، دَ دوی اخلاقی بدحالی دے ځائے

پورے رارسیدلے ده چه ښځه ښځے سره او سړے سړی سره خپل جنسی خواهشات پوره کولو دَپاره علی الاعلان نکاح کولے شی ، په کومه معاشره کښے چه خپل مور پلار په ضعیف الحالئی کښے پریخودے شی، او دَ هغوی خدمت دَپاره تیار نه دی ، دَ دے قسم بربریت او حیوانیت نه ډک قانون نافذ کولو کښے خو دوی آزاد دی ، دا دَ دوی حق گنړلے کیږی ، نو دا دهشت گردی نه ده لیکن دَ الله تعالیٰ یو بنده که چرے دَ خپل خالق او مالک دَبهترین امن وامان او دَ انصاف ضامن قانونِ شریعت نافذ کولو نوم اخلی نو هغه دهشت گرد او فسادی دے؟ کفار خو دشمنان دی لیکن افسوس په هغه خلقو باندے دے کوم چه خپل گنړلے کیږی دَ هغوی په خوله کښے هم دَ کفارو ژبه وئیلے کیږی۔ دَ دوی ذهن ته دا خبره ولے نه راځی چه کوم څه مونږه دَ خپلو مسلمانانو خلاف وایو یا ئے کوؤ، دوی هم دَ دشمن غلامان او نقالان جوړیدلو سره هم هغه خبرے کوی۔

## دعوت و تبلیغ:

دَ جهاد تذکره کولو سره دَ دعوت وتبلیغ دَ اهمے فریضے ذکر پریخودل دلته مناسب نه دی ۔ که جهاد دَ اسلام قب او شان وشوکت او قوت دے نو دعوت او تبلیغ دَ اسلام دَ مَلا دَتیر په شان دے۔ که چرے دعوت نه وی نو حق دین به څنګه خورشی۔ دے دَ پاره قرآن او سنت په دعوت وتبلیغ او امر بالمعروف او نهی عن المنکر باندے ډیر زور ورکړے دے ۔ دا دَ ټولو انبیاؤ علیهم السلام متفق علیه کار دے ، نبوت

ختم شو لیکن کارِ نبوت باقی دے او ترقیامته به جاری وی ۔ اوس دَ انبیاؤ علیهم السلام نه پس دا زمه واری په امت محمدیه ﷺ باندے اچولے شوے ده ۔ دَ الله تعالیٰ ارشاد دے:

﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾[العمران:]

ولے چه دَ نبیانو په ذمه دوه کارونه وو ، یو دَ وحی په ذریعه دَ الله تعالیٰ نه دَ دے ژوند تیرولو طریقه او دَ دے هدایت علم حاصلول، او بل داعلم نورو ته رسوَل،خودل،زده کول او هغوی لره په دے باندے دَ چلولو کوشش کول۔ په دے کښے روميے کار خو دَ نبوت سلسلے ختمیدلو سره ختم شو۔ دَ ختم نبوت مطلب همدا دے چه دَ الله تعالیٰ دَطرفنه دَ محمد ﷺ دَ بعثت نه پس به اوس هیچا ته دا مقام او منصب نه ورکړے کیږی چه دَ وحی په ذریعه ورباندے دَ دین او شریعت احکام نازل شی او هغه لره دَ نبی منلو په طور دَ هغه اطاعت او تابعداری کول خلقو دَپاره ضروری وی۔

دَ محمد رسول الله ﷺ راوړلی شوی دے هدایت او شریعت کوم چه تر قیامته پورے دَ پیدا کیدونکو ټولو انسانانو رهنمائیٔ دَ پاره کافی دے او دَکوم چه تر آخرے زمانے پورے دَ محفوظ پاتے کیدلو دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه انتظام هم کړے شوے دے۔ نودا ضرورت روميے ئے همیشه دَ پاره ختم کړو لیکن دَ نبوت دَ سلسلے دویم کار یعنی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه راغلے دا هدایت بندګانو ته رسؤل او هغوی لره په دے باندے دَ چلولو کوشش کول باقی او جاری دی۔او دَ امت محمدی ﷺ

داخاص شرف دے چه دَ رسول الله ﷺ په نیابت کښے هغه دا مقدس مشن تر قیامته پورے دَ جاری لرلو او دَ دے کار نبوت تر سره کولو ذمه دار دے۔

په دے بنا بانـدے امر بالمعروف او نهی عن المنکر دَ دین اهم رکـن دے کـوم سره چه دَ دین ټول څیزونه وابسته دی۔ امر بالمعروف یو عـالـمګیـره شعبـه ده ، دے دَ پـاره خـاص طـور دا شعبـه دے امت مـحمدیﷺ ته الاټ کړے شوے ده۔ د امت محمدیه ﷺ دَ فضیلت او اوچتوالی وجه چه تلاش کړے شی نو معلومیږی چه دَ دے امت په ذمه یـو اعـلیٰ او اوچت کـار حـواله کړے شوے دے چه دَ هغے په وجه ورته دَ خیر الامم معزز خطاب ورکړے شوے دے۔

دَدیـن وتبـلیـغ کـار یـو داسے شعبه ده کومه چه الله تعالیٰ دے امت ته حواله کړے ده، دا دَخدمت خلق جذبه هم ده ، امت لره دوزخ نه دَ بـچ کـولـو کـار هـم او دَ دے امـت جاله دَ دے دعوت په ښاخ باندے ده۔ په حـقیـقـت کښے دَ پیـدائـش اصـل مـقـصـد دَ الله تعالیٰ دَذات او صفاتو مـعـرفـت دے او دا تـر هغه وخته پورے ناممکنه ده تر څو پورے چه بنی نـوع انسـان دَ بـدیـانـو او ګـنـدګـو نـه پاک نه کړے شی او په نیکیانو او خـوبیـانـو سره آراسته نه کړے شی ۔ دے دَ پاره اوفرمائیلے شو چه فلاح او بهبود هم هغه خلقو دَ پاره دے څوک دا کار ترسره کوی ۔

دَ دے امت بعثت دَ حضور ﷺ دَ بعثت خورؤلو نه ده ۔دے دَ پاره دَ دیـن دا اشـاعـت ذمـه واری او بـاګ دوږ دَ امـت په لاس کښے ورکړے شوے دے۔ دَ دے په کولو کښے کامیابی ده او په نه کولو کښے ئے دوه نقصانه دی:

۱: اولاخپـل ځان نااهلـه ګـرځول او په خپل سر باندے لوئے الزام اخستـل دی۔ الـلـه تعالیٰ چه انسان کوم کار دَ پاره پیدا کړے دے هغه نه کوی او دَ دے نه علاوه که زر کارونه هم کوی نو بیکاره به وی۔

۲: دویـم نـقـصـان دا دے چـه انسـانیت مرګی حال دے او باقی ټول کـارونـه لـګیـا دی کیـږی۔ صـرف دعـوت او بیـان حـق او رَدّ منکرات نه کیـږی ولـے چـه دا مـحـاذ کـومـو سپـاهیانو ته سپارلے شوے وو هغوی دَخپـل ځـائـے نه اخوا شوی دی،دَ دے وجے نه پخپله هم دَ دے مذهب نه او دَ دے نه ملاویدونکو فائدو نه محروم شول۔دَ دے اهمیت په بنا باندے هـر مسـلـمـان لـه داعی جوړیدل ضروری دی۔ چونکه دَ دعوت صورتِ حـال سـره مـخـامـخ تیـا کـول وی او صورتِ حال همیشه بدلیږی ، دے دَ پـاره دَ دعـوت پـه کـار کښـے داعـی دَ پـاره دَ حـاضر کلامئی او حـاضر دماغـئی دواړو ضرورت دے۔

ورسـره دا چـه دعـوت پیـش کـونکو لـه دَ انسانی نفسیاتو سره ژور واقـفیـت او دَ هغه په خوړیدونکو رګونو او دَ سوسایټئی په کمزورو اړخـونـو بـانـدے ګـوتـه ایـخول وی او ښودل وی چه دَ دوی حل دَقرآن او سـنـت پـه رنـړا کښـے څـه دے؟ دے دَ پاره ضروری ده چـه داعی دے پـه مـعـاشـرے بـانـدے کلک نظر لری کوم ځائے چه خرابی او منکر ورته په نـظـر راشی دَ هغـے سدّباب کولو سره دے صحیح لاره اوښائی۔ او ورسره داعی دَ پاره په هغه اصولو باندے پو هیدل او مدّنظر ساتلو سره ه دعوت او تبلیغ کول وی کوم چه قرآن او سنت هغه دَ پاره وضع کړی دی۔

# ﴿اسلامی نظام اخلاق﴾

## (Islamic Mannerism System)

په اسلام کښې دَ عقائدو او عباداتو نه پس په اخلاقو باندې ډیر زور ورکړې شوې دې۔ اخلاق دَ اسلامی نظرئیې ترمخه دَ څه بیل څیز نوم نه دې بلکه دا دَ دین حصه ده ۔ په انسان کښې اخلاقی حسن یو فطری حُسن دې کوم چه بعضې صفات خوښوی او بعضې ناخوښه ګرځوی۔ مجموعی طور سره دَ انسان شعور دَ اخلاقو بعضو اوصافو باندې دَ خوبئی او په بعضو باندې دَ بدئ همیشه یو شان حکم لګولې دې۔ رشتیا، انصاف، پاسداری ، امانت ، همدردی ، رحم ،فیاضی ، فراخ دلی ، صبر وتحمل ، استقلال او بُردباری ، اولوالعزمی او شجاعت ، ضبط نفس ، خود داری ، شائستګی او ملنساری ، فرض شناسی، وفاداری ، کفایت شعاری، مستعدی ، احساس ذمه داری ، نظم او انضباطی ، تعاون ، امداد باهمی ،پاکدامنی ،خوش ګفتاری ، نرم مزاجی او خیر اندیشی ، راست بازی او کهرا والې ،په معاملاتو کښې اعتبار او صفائی ، ظاهر او باطن او قول او فعل کښې مطابقت،دَ مور پلار خدمت ، دَ خپلوانو امداد، ګوانډیانو سره ښه سلوک ، دوستانو سره ملګرتیا ، دَ یتیمانو خبر ګیری ، دَمریضانو تیمارداری او دَ مصیبت وهلو خلق اعانت وغیره دا قسم اوصاف همیشه په انسانی اخلاقیاتو کښې دَ تعریف مستحق ګڼړلی شوی دی۔

په اسلام کښې دَ الله رالیګلو شوؤ پیغمبرانو دَ نیکئی ، بدئ تصور وړاندے کولو سره او دغه ښه اوصاف خپلولو سره انسانانو ته دَ دے اوصافِ حسنه خپلولو حکم کړے دے او دَ دے مقابل هغه بدو اوصافو نه ئے نفرت ورکړے دے او دَ هغے نه دَ بچ کیدلو تاکید ئے کړے دے کوم چه انساني فطرت همیشه دَ ژوند په محاسنو کښې نه شماری ۔ لکه دروغ ، ظلم ، بے لوظی ، خیانت ، خود عرضی ، سنګدلی ، بخل او تنګ نظری ، بے صبری ، زړه تنګی ، سستی ، کم حوصلګی او بزدلی ، دَ نفس بندګی ، کم ظرفی ، بدتمیزی ، بد نظمی ، انتشار او تفرقه ، بے ضابتګی ، بے اتفاقی ، دَ یو بل بد خواهی ، ظلم او ناهمواری ، غلا،زنا،قتل ، ډاکه ، جعلسازی او رشوت خوری او بدزبانی ، مردم آزاری ، غیبت ، چغل خوری ، حسد، بهتان تراشی او فساد انګیزی ، مکر ، تکبر ، ریا کاری ، منافقت ، هټ دهرمی (په غلطه ټنګیدل) او ضد او حرص وغیره۔

## دَ اخلاق حسنه او سیئه مبادی:

غرض دا چه کوم افعال دَ خیر مبادی دی هغه اخلاق حسنه دی او کوم افعال چه دَ شر مبادی دی هغه اخلاق سیئه دی ۔ دَ اخلاق حسنه منشا یو څو امور دی ۔

(۱) دَ فطرت پاکیزه والے ۔ (۲) دَ عادت ښه والے

(۳) دَ عقل راست والے (۴) ایمان بالله (۵) توحید باری تعالیٰ۔

همدا هغه اسباب دی کومو نه چه دَ اخلاقِ حسنه ظهور

کیږی او اخلاق حسنه چه څومره اضداد دی هغه ټول په ټوله سیئه دی ـ دَ اخلاق سیئه منشا هم یو څو امور دی ـ

(۱) دَ طینت خباثت (۲) دَ جِبّلت فساد

(۳) بد عادت (۴) بد صحبت ـ

دا هغه اسباب دی کومو نه چه اخلاق رذیله پیدا کیږی ـ دَ دے بدو اخلاقو بد اثرات په دے ژوند باندے هم پریوځی او دَ آخرت ژوند ورسره هم خرابیږی ـ

زمونږه شیخ القرآن مولانا محمد طاهرؒ دَ سورت اعراف :۳۳

﴿قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّیَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْاِثْمَ وَالْبَغْیَ بِغَیْرِ الْحَقِّ وَاَنْ تُشْرِکُوْابِاللّٰهِ مَا لَمْ یُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَی اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ﴾

په تفسیر کښے فرمائی چه په دے آیت کښے الله تعالیٰ دَ استکمالِ نفس او تهذیب اخلاق دَ پاره دَ څلور بنیادی صفاتو تذکره کړے ده کوم چه دَ تمامو اخلاقو بنیاد دے او دَ دے خپلولو سره سړے کامل انسان جوړ شی ـ

(۱) **عفت:** دَ کوم طرفته چه په ﴿حَرَّمَ رَبِّیَ الْفَوَاحِشَ﴾ کښے اشاره ده ـ

(۲) **حلم:** دَ کوم طرفته چه ﴿وَالْبَغْیَ بِغَیْرِ الْحَقِّ﴾ کښے اشاره ده ـ

(۳) **شجاعت:** دَ کوم طرف ته چه ﴿وَاَنْ تُشْرِکُوْا بِاللّٰهِ﴾ کښے اشاره ده ـ

(۴) **علم:** دَ کوم طرف ته چه ﴿مَا لَا تَعْلَمُوْنَ﴾ کښے اشاره ده ـ

## دَ تهذیب اخلاق طریقه:

الله تعالیٰ په انسان کښې مختلف قوتونه ایښې دي او دَ هر یو میدان عمل او طبعي رجحان جدا دے۔ دَ علم اخلاق عالمانو په دے کښې درے قوتونه اصل گرځولي دي دَ باقي قوتونو اعتدال په همدوئ باندے موقوف دے:

یو قوتِ شهوانیه دے بل قوتِ غضبیه دے او بل قوتِ ملکیه دے۔ په دے کښې دَ ړومبنو دوؤ قوتونو تعلق انساني خواهشاتو او جذباتو سره دے چه څومره په دوی کښې زیاتوالے وي په خواهشاتو او جذباتو کښې به ئے هم زیاتوالے وي۔ صرف دَ آخري قوت (ملکیه) تعلق روحاني نشوونما سره دے، ړومبي دوه قوتونو همیشه بدئ او شر طرفته راخکل کوي۔ او دَ دریم قوت کشش نیکئي طرفته وي۔ تر څو پورے چه ړومبي دوه قوتونه په کمال باندے اوسي تر هغه وخته پورے دا ممکنه نه ده چه انسان دَ معصیت او بدئ نه بچ شي او اخلاق حسنه سره آراسته شي، ولے چه دَ دوی قوت ملکیه مضمحل او کمزورے دے او کله چه په قوت ملکیه کښې کمال پیدا شي او دومره حده پورے قوت حاصل کړي چه دے ړومبني دوه قوتونه مغلوب کړے شي نو مخکښني دواړه قوتونه مضمحل او کمزورے شي او دَ بدئ او معصیت دوئ کښې همت پاتے نشي۔ قوت ملکیه دوئ لره نیکئي طرفته مائله کوي او نفس لره دَ اخلاق حسنه ؤ نه آراسته کوي۔

نو دَ تهذیب اخلاق طریقه صرف دا ده چه قوت ملکیه عروج

او کمال ته اورسولے شی دَ پاره دَ دے چه دا غالب راشی او روښنی دواړه قوتونه مغلوب او مقهور کړی او په دوی باندے حکمرانی اوکړے شی ۔ او قوت ملکیه ته عروج ،کمال صرف روحانیاتو او ایمانیاتو سره حاصلیږی ، ترڅو پورے چه دَ روحانی خوندونو نه ناواقفه وی تر هغے پورے مادی خوندونه په هیڅ شان سره نشی پریښودے۔

## په اسلام کښے دَ اخلاقو اهمیت:

دَ اخلاق حسنه دعوت او تعلیم دَ اسلام خاص الخاص موضوع ده ۔ په قرآن او حدیث کښے دَ اخلاقو یو داسے مکمل ، جامع او معتدل دَ انسانی فطرت سره داسے مطابق نظام دے چه که چرے انسان په دے باندے عامل شی نو هغے به په دے زمکه باندے انسانی صورت کښے نورو دَ پاره رحمت وی او دَ دے نمونه پخپله دَ نبی کریم ﷺ ذات اقدس وو۔

دَ حضرت عائشےؓ مشهور ارشاد دے چه :

﴿کَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآنَ﴾ یعنی دحضور ﷺ اخلاق هم هغه دی کوم چه دَ قرآن تعلیم دے ۔ قرآن کریم پخپله دَ نبی کریم ﷺ دَ اخلاقو په باره کښے اوفرمائیل چه: ﴿اِنَّكَ لَعَلٰی خُلُقٍ عَظِیْمٍ﴾

بے شکه ته دَ بهترینو اخلاقو والا ئے۔ دے دَ پاره مسلمانانو ته دَ نبی کریم ﷺ اخلاق خپل ځان دَ پاره دَ نمونے جوړولو حکم ورکړے شوے دے ۔ ارشاد باری تعالیٰ دے چه:

﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾

بے شکه تاسو دَ پاره دَ الله دَ رسول ﷺ په ذات کښے بهترینه

نمونه ده۔ " په اسلام کښې حسن اخلاق ته مرکزی حیثیت حاصل دے
۔ ارشاد نبوی ﷺ دے چه: ﴿اِنَّمَا بُعِثْتُ لِاُ تَمِّمَ مَکَارِمَ الْاَ خْلَاقِ﴾
"زه دَ ښو اخلاق تکمیل دَ پاره رالیګلے شوے یم۔"
همدغه شان وے فرمائیل چه:
﴿اِنَّ اَثْقَلَ شَيْیءٌ يُوْضَعُ فِی الْمِيْزَانِ الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُلُقٌ حَسَنٍ﴾[ابوداؤد]
"دَ قیامت په ورځ به دَ مؤمن په تله کښې دَ ښو اخلاقو نه زیات وزنی بل څیز نه وی۔"

☆☆☆

# ﴿دَ اسلام نظام معاملات او معاشیات﴾

(Islamic economics system)

اسلام یو همه گیر دین دے کوم کښے چه دَ ژوند تمام ضروریات پوره کولو دَ پاره اصول او قواعد موجود دی ۔ په همدے بناء باندے اسلام کښے دَ معاملاتو او معاشیاتو یو معتدل ، جامع او دَ انسانیت دنیوی او اخروی فائدو باندے مشتمل نظام دے۔

په اسلامی نظام معاشیاتو باندے بحث کولو نه مخکښے دا پیژندل ضروری دی چه دَ اسلام په نظر کښے معاشی مسئلے ته یو مرتبه او مقام حاصل دے لیکن دَ اسلام په نظر کښے معاش او دَ دے ترقی دَ انسانی بنیادی مسئله او دَ ژوند مقصد نه دے۔ څنګه چه په نورو نظامونو سوشلزم ، کمیونزم او کیپټل ازم کښے ګڼړلے کیږی بلکه دا یو ضرورت او راه ګذر دے ۔ اسلام دَ رهبانیت یعنی ترک دنیا مخالف دے او د انسانی معاش سرګرمئی جائز بلکه بعضے اوقات ضروری ګرځوی ، او حلال کسب دَ ده په نظر کښے دَ فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ حیثیت لری څنګه چه ارشاد نبوی ﷺ دے چه:

﴿طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيْضَةِ﴾[مشکوٰة]

” حلاله ګټه تلاش کول دَ فرضو نه پس یو فرض دے “

لیکن بل طرفته دنیاوی ژوند دَ پاره دَ ”مَتَاعُ الْغُرُوْر“ الفاظ هم قرآن کښے په نظر راځی۔ دے تهولو څیزونو دَ پاره دَ الدنیا لفظ ملاویږی

کوم چه دَ خپلے لغوی معنے په اعتبار سره څه ښه تاثر نه ورکوی کوم سره چه دَ دے حقیر والے په ذهن کښے راځی۔

دَ دے ټولو خبرو حقیقت دا دے چه دَ قرآن په نظر کښے دنیا ، او دِ دے وسائل معاش دَ انسان ضرورت او دَ راه ګذر مراحل دی څنګه چه ارشاد نبوی ﷺ دے چه:

﴿کُنْ فِی الدُّنْیَاکَاَنَّکَ غَرِیْبٌ اَوْ عَابِرِیُ سَبِیْلٍ﴾[بخاری]

" ته په دنیا کښے داسے اوسیږه لکه چه ته اجنبی مسافرئے بلکه په لارے تلونکی پشان دنیا کښے اوسیږه"

همدغه شان یو ځل دَ نبی کریم ﷺ په خوا کښے یو سړے تیر شو صحابه کرامؓ اولیدل چه دے دَ رزق په حاصلولو کښے ډیر متحرک دے او پوره دلچسپی اخلی ۔ نو نبی ﷺ ته ئے عرض اوکړو چه "اے دَ الله رسوله ﷺ! که چرے دَ ده دا منډه تړه او دل چسپی دَ الله په لاره کښے وے نو څومره ښه به وے"

﴿فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِنْ کَانَ خَرَجَ یَسْعٰی عَلٰی وَلَدِهٖ صَغَارٌ فَهُوَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَاِنْ کَانَ خَرَجَ یَسْعٰی عَلٰی نَفْسِهٖ یَعُفُهَا فَهُوَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَاِنْ کَانَ خَرَجَ یَسْعٰی رِیَاءً وَّمُفَاخِرَةً فَهُوَ فِیْ سَبِیْلِ الشَّیْطَانِ﴾ [ترغیب بحواله طبرانی]

وے فرمائیل چه که چرے دے دَ خپلو وړو بچو پرورش دَ پاره دوړ دهوپ کوی نو دا به دَ الله په لاره کښے شمارلے کیږی، او که چرے دَ بوډاګانو والدینو پرورش دَ پاره کوشش کوی نو دا به هم فی سبیل الله کښے شماریږی۔ او که چرے دَ خپل ذات دَ پاره کوشش کوی او مقصد ئے دا وی

چه دَ خلقو په وړاندے لاس نیولو نه بچ اوسی نو دا کوشش به ئے هم فی سبیل الله کښے شماریږی۔ البته که چرے دَ ده دا محنت دے دَپاره وی چه زیات مال حاصل کړی او په خلقو باندے خپل اوچتوالے ئے غرض وی او خلقو ته ځان ښائی نو دا ټول محنت به دَ شیطان په لاره کښے شماریږی۔“

بهر حال دَ انسان دَ ژوند اصل منزل او مقصد دَ اسلام وړاندے دَ کردار اوچتوالے او دَ دے په نتیجه کښے بهبود او تحصیل دَ خیر دے ۔ لیکن دا دواړه منزلونه دَ دنیا شاهراه باندے تیریدلو نه بغیر حاصلولے نشی۔ دے دَ پاره هغه ټول څیزونه هم انسان دَ پاره ضروری کیږی کوم چه دَ ده دنیاوی ژوند دَ پاره ضروری وی۔ لهٰذا تر څو پورے چه دَ معاش وسائل دَ انسان اصل مقصد او منزل دَ پاره راه ګذر کار ورکوی نو دا فضل الله او خیر او زینت الله دی لیکن چرته چه انسان په دے راه ګذر کښے اونخلی او دا خپل اصل اوګنړی یعنی وسائلِ معاش لره د راه ګذر جوړولو په ځائے دَ خپل منزل مقصود په لاره کښے رکاوټ جوړ کړی ، آخرت هیر کړی او صرف دنیا حاصلولو پسے اولګی نو بیا همدا معاش ، دولتِ دنیا ، متاع الغرور،فتنه او عدو جوړ شی ۔

قرآن مجید دا حقیقت په یو مختصره جمله کښے بیان فرمائیلے دے:

﴿وَابۡتَغِ فِيۡمَاۤ اٰتٰىكَ اللّٰهُ الدَّارَ الۡاٰخِرَةَ وَلَا تَنۡسَ نَصِيۡبَكَ مِنَ الدُّنۡيَا وَاَحۡسِنۡ كَمَاۤ اَحۡسَنَ اللّٰهُ اِلَيۡكَ﴾[قصص:۷۷]

”تاله چه الله تعالیٰ څومره مال حال درکړے دے په هغے کښے دَ آخرت دَ ژوند لټون هم اوکړه او دَ دنیا نه خپله حصه هیره وه مه ، او

څرنګ چه الله تا سره احسان کړے دے ته هم احسان کوه۔"

## اسلامی نظامِ معاش:

اسلام دَ یو متوازن معیشت حامی دے کوم چه دَ افراط او تفریط نه پاک وی۔ نه خو دے افرادو لره په خپل محنت سره دَ راجمع کړی ملکیت نه محرومولو اجازت ورکوی لکه کمیونزم چه هغه دَ محنت باوجود په مشکل او تنګ دستئی کښے عمر تیروی، نه دَ سوشلزم دَ نظریے مطابق بغیر محنته په عیش او عشرت کښے دَ اوسیدو، او نه دَ سرمایه دارانه نظام په شان دَ مار پشان په دولت باندے دَ ناست اوسیدو۔ بلکه اسلام دا انتهاګانے ختموی او دَ اعتدال لاره اختیاره وی۔

اسلامی نقطه نظر سره زمکه او دَ دے پیداوار او ټول څیزونه الله تعالیٰ دَ بنی نوع انسان فائدے دَ پاره پیدا کړی دی۔ دَ دے نه فائده پورته کول او رزق حاصلول دَ ټولو انسانانو برابر پیدائشی حق دے، چا باندے دَ پابندئ لګولو اجازت نیشته چه فلانے دَ رزق وسائل استعمالولو حقدار نه دے یا یوه مخصوصه طبقه او نسل دَ دے اجاره دار جوړ شی او نور خلق محروم کړی۔ دَ اسلامی نظریے مطابق دَ معیشت په میدان کښے هر هغه سړے چه دَ خپل محنت او استعداد مطابق براه راست ابتداء دَ قدرت دَ وسائلو خزانے نه څه څیز واخلی او په خپل محنت او قابلیت سره دا کار آمده جوړ کړی هغه دَ دغه څیز مالک دے بل هیڅوک په هغے باندے قبضه نشی کولے۔

دَ اسلام په نظریے کښے جائز شرعی مالکانه حقوق بهر حال دَ

احترام لائق دی او کوم ملکیتونه چه دَ شریعت تر مخه جائز نه وی هغه بیشکه ختمیدل پکار دی ۔ که چرے ملکیتونه شرعا صحیح وی نو هیڅ یو حکومت او مجلس قانون ساز دَ اجتماعی بهترئ نوم اخستلو سره هغه سلب کؤلے نشی ، لیکن دَ قرآن مجید دَ تصریح مطابق دولت خواه که هر شکل کښے وی ، هغه دَ الله پیدا کرده دے او اصلاً هم دَ هغه ملکیت دے ۔ انسان ته چه په یو څیز باندے دَ ملکیت کوم حق حاصل وی هغه دَ الله په عطا سره وی ، یعنی دَ الله ملکیت اصلاً دے او ر دَ انسان ملکیت تبعاً دے ۔ قرآن مجید کښے ارشاد دے :

﴿اٰتُوۡهُمۡ مِنۡ مَالِ اللّٰهِ الَّذِیۡۤ اٰتٰکُمۡ﴾ [نور:۳۳]

" دَ الله دَهغه مال نه هم دوی له ورکړئ کوم چه ئے تاسو له درکړے دے۔"

هر کله چه په دولت باندے اصل ملکیت دَ الله دے او هغه انسان له په هغے کښے دَ تصرف حق ورکړے دے نو دے دَ پاره الله ته دا حق حاصل دے چه هغه دے په دے دولت باندے دَانسان تصرفات دَ خپلے مرضئی او دَ خپلو مصالحو پابند جوړ کړی ۔ په دے وجه انسان ته په خپل زیر تصرف څیزونو باندے ملکیت خو حاصل دے لیکن دا ملکیت آزاد، خودمختاره او بے لګامه نه دے بلکه په دے دولت باندے دَ اصلی مالک (الله تعالیٰ) دَ طرفنه څه حدود او قیود او قوانین او پابندئ عائد دی۔ کوم ځائے کښے چه هغه دَ خرچ کولو حکم ورکړے هلته خرچ کول او کوم ځائے چه دَ خرچ کولو نه ممانعت ورکړے هلته بندیدل لازمی دی۔ دَ کومو ذریعو نه چه دولت حاصلول دَ الله تعالیٰ

دَطرفنه صحیح ګرځولے شوی دی دَ هغے نه حاصلول او کومو ذریعو نه چه حاصلول منع کړی شوی دی دَ هغے پریښودل ضروری دی لکه حرام ، دهوکه ،ملاوټ سود او رشوت وغیره۔

## په اسلام کښے دَ معاملاتو شرائط:

دَدے وجے نه په اسلام کښے دَ معاملاتو دَ پاره دا لاندینی شرائط مقرر دی۔

**(۱) تراضی:** یعنی دَ فریقینو رضامندی مثلا دوکاندار اوخریدار دواړه په خپلو کښے په دغه معاملے باندے راضی وی، په مزدور او مالک کښے چه کومه معامله هم فیصله شی نو دَ دواړو رضامندی ضروری ده ، که چرے په دوئ کښے یو هم راضی نه وی نو اسلام دغه معامله ناجائزه ګرځوی، لیکن دَ دے رضامندئ نه شرعی رضامندی مراد ده۔

**(۲) معامله دے باطله نه وی:** یعنی په معامله کښے دے څه حرام څیز نه وی مثلا دَ یو داسے تجارت یا زراعت معامله کومه کښے چه دَ سود ګډون وی یا دهوکه وی یا دروغ وی یا مَبیعه (دَ خرڅولو څیز ) یا ثمن (قیمت) کښے یو څیز حرام وی نو اسلام داسے معاملات هم حرام او باطل ګرځوی۔

**(۳) معامله فاسد هم نه وی:** یعنی فریقین خپلو کښے راضی وی او معامله هم باطله نه وی لیکن دَ بعضو خارجی اسبابو په بناء باندے دغه معامله شرعا صحیح نه وی لکه دَ بیع ارکانو یعنی ایجاب او قبول کښے څه نقص وی مثلا خرید وفروخت کښے ثمن یا مبیعه مجهوله

نامعلومه وی وغیره یا دَ میوے راتلو نه مخکښے باغ خرڅ کړے شی وغیره ۔ په بیع فاسد کښے که چرے خریدار په سودا باندے قبضه اوکړی نو بیع به نافذه شی لیکن دَ سودی معاملے په حکم کښے به وی ۔

## دَ اسلامی نظام معاش اصول:

دَ اسلامی نظام معاش درے بنیادی اصول دی:

(۱) کفالت عامه (۲) دَ محنت قدر (۳) دَ بے ځایه استحصال یعنی ارتکازِ دولت بیخ کنی۔

## (۱) کفالت عامه:

دَ دے مطلب دا دے چه دولت اصلا ملکیت دَالله تعالیٰ دے او هم هغه دَ دے دَ استعمال قوانین مقرروی ۔ دے دَ پاره په اسلام کښے دَ دولت حقدار صرف دَ پیدائش عاملین نه وی بلکه هر هغه سړے هم مستحق دے چا ته رسؤل چه الله تعالیٰ ضروری ګرځولی دی لهذا په معاشره کښے فقیران ، مسکینان ، ناداران او بیکسه کسان هم دَ دے حقدار دی۔ قرآن مجید کښے ارشاد دے:

﴿وَالَّذِيْنَ فِیْ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٍ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُوْمِ﴾ [معارج:۲٤،۲٥]

"او دَ چا په مالونو کښے چه حصه مقرر ده دَ سوالګر او دَ محروم" یعنی په زکواة ،عشر،کفارات،صدقۂ فطر، نفقات، وراثت، خراج او جزیه وغیره دے دَ دوی مدد اوکړئ شی۔

## (۲) دَ محنت قدر:

دَ اسلامی معیشت دویم خصوصیت دَ محنت قدردانی ده ۔ اسلام دَ محنت او مشقت ،کسب معاش او رزق حلال دَ تلاش ترغیب ورکوی ۔ او داسے نظام نافذ ؤل غواړی کوم کښے چه انسان دَ جبر او تشدد په ځائے قدرتی طور باندے دَخپل استعداد ، دَ خپل اختیار او خوښے مطابق خدمات ترسره کړی دے دَ پاره چه دَ ده خدمات زیات مؤثر ، مفید او صحت مند شی او دَ مستاجر یعنی آجر او اجیر (مالک او مزدور) په مینځ کښے صحیح رشته قائمه وی او دَ یو بل حقوق محفوظ وی۔

## (۳) بے ځایه استحصال یعنی دَ ارتکازِ دولت بیخ کنی:

دَ تقسیم دولت دریم اصول دَ کوم چه په اسلام کښے ډیر اهمیت دے هغه دا دے چه دَ دولت ذخیره څو خلقو یا څو لاسونو کښے دَ راغونډیدو په ځائے په معاشره کښے دے زیات نه زیات وسیع پیمانه کښے گردش اوکړی او په دا شان دَ امیر او غریب تفاوت چه کومه حده پورے فطری او قابلِ عمل وی کم کړے شی او دَ دولت چه کوم ماخذ وی یعنی کانونه ، ځنګلونه ،غیر مملوک شاړه زمکه، اوبه ، ښکار په خپله تهو کیدونکے وابنه ،دریاب او سمندر ، مال غنیمت وغیره باندے دَیو فرد یا جماعت پهره نه کینی بلکه دَ معاشرے هر فرد دَ دے نه دَ استفادے مساوی حقدار دے او ده ته اختیار دے چه دَ خپل کسب او عمل مطابق فائده اوچته کړی۔ قرآن مجید کښے ارشاد دے:

﴿کَیۡ لَا یَکُوۡنَ دَوۡلَةً بَیۡنَ الۡاَغۡنِیَآءِ مِنۡکُمۡ﴾[حشر:۷]

" دَ پاره دَ دے چه دغه (مالِ فئی) ستاسو دَ مالدارانو په قبضه کښے رانشی"

او کوم سړے چه په خپل کسب او عمل سره یو دولت حاصلوی نو دَ هغه دَ کسب او عمل احترام کولو سره دَ هغه ملکیت تسلیم کړے شوے دے ۔ قرآن مجید کښے ارشاد دے چه:

﴿نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَیۡنَهُمۡ مَعِیۡشَتَهُمۡ فِی الۡحَیَاةِ الدُّنۡیَا وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٍ دَرَجٰتٍ﴾ [زخرف:۳۲]

" او په دنیاوی ژوند کښے دَ دوئ روزی مونږه تقسیم کړے ده او مونږه یو له په بل باندے درجو کښے اوچتوالے ورکړے دے۔"

دَ تقسیمِ دولت په دے مقاصدو کښے ړومبے مقصد اسلامی معیشت لره دَ اشتراکیت نه جدا کول دی او دویم مقصد دَ سرمایه دارانه نظام نه او دریم مقصد دَدواړو نظامونو نه امتیاز کول دی۔

## دَ دولت مستحقین :

اوس په اسلامی نظام کښے دَ تقسیم دولت ترمخه دَ دولت مستحقین په دوه قسمه دی ۔ یو اولین مستحقین یعنی هغه خلق کوم چه دَ څه عمل پیدائش نه روستو بلا واسطه دَ هغے مستحق وی ، دا مستحقین عوامل دَپیداوار دی چا چه دَ یو پیداوار دَ پیدائش عمل کښے حصه اغستے وی ۔ دویم ثانوی مستحقین یعنی هغه خلق کوم چه براه راست دَ پیدائش عمل کښے شریک نه وو لیکن دَ عاملین پیدائش په ذمه لازم کړے شوی دی چه هغوی په خپل دولت کښے دوی

هم شریک کړی مثلا غریبان او مسکینان وغیره۔

څنګه چه اوښودلے شو چه دَ دولت اولین مستحقین عوامل پیداوار دی لیکن دَ عواملِ پیداوار تعین ، دهغوی اصطلاحات او په هغوی باندے دَ تقسیم دولت طریقے په اسلام کښے هغه نه دی کومے چه په سرمایه دارانه او اشتراکی نظام معیشت کښے مقرر کړے شوے دی۔

په اسلام کښے دَ پیدائش عوامل درے دی :

(۱) سرمایه (۲) زمکه (۳) محنت

دَ درے عواملو مشترکه عمل سره چه کوم پیداوار اوشی هغه اولاً په دے دریو باندے په دا شان تقسیم کړے شی چه دَ دے یوه حصه په سرمایه ته په شکل دَ منافع (نه چه په شکل دَ سود) ملاویږی۔ او دویمه حصه زمکے ته په شکل دَکرایه او دریمه حصه به محنت ته په شکل دَ اجرت ملاویږی۔(کوم کښے چه جسمانی محنت او تنظیم او دَ منصوبه بندئ ذهنی او فطری محنت ټول داخل دی) حالانکه په سرمایه دارانه نظام کښے دَ دے درے واړو نه علاوه څلورم عامل آجر یا تنظیم دے کوم چه مذکوره بالا درے واړه عوامل یو ځائے کوی او دا په کار کښے لګوی او دَ نفع او نقصان خطره په سر اخلی ( لکه دَ نن صبا سودی بینکونه وغیره) ۔ په سرمایه دارانه نظام کښے دَ دے څلورو عاملین پیداوار مشترکه عمل سره چه کوم پیداوار کیږی هغه په همدے څلورو باندے په دا شان تقسیمؤلے شی چه یوه حصه سرمایه دَ سود په شکل کښے ، دویم حصه محنت ته دَ اجرت په شکل کښے ، دریمه حصه زمکے ته دَ

لګان یا کرایے په شکل کښے ، او څلورمه حصه آجر، تنظیم یا بینک ، کمپنی ته دَ منافع په شکل کښے ورکړے کیږی۔

دَ دے برعکس په اشتراکی نظام معیشت کښے چونکه سرمایه او زمکه دَ چا انفرادی ملکیت کیدلو په ځائے قومی ملکیت وی ، آجر هم په اشتراکی نظام کښے په ځائے دَ فردِ واحد پخپله حکومت وی ۔دَ دے وجے نه دَ لګان او منافع هډو سوال نه پیدا کیږی ۔ اوس صرف محنت پاتے کیږی او په اشتراکی نظام کښے دَ دولت هم هغه مستحق دے کوم چه ده ته دَ اجرت په شکل کښے ملاویږی۔

## دَ سرمایے لګولو صورتونه:

په اسلام کښے په یو کاروبار کښے دَ سرمایے لګولو درے صورتونه دی۔(۱) انفرادی کاروبار (۲) شرکت (۳) مضاربت

او څلورم صورت سودی کاروبار دے ۔ کوم چه شریعت ناجائز او دَ الله او رسول ﷺ سره دَ جنګ مترادف ګرځولے دے ۔ دغه شان شراب ، نشه راوستونکی څیزونه ، فخش کاری ، رقص وسرور ۔ جواری ، سټه بازی ، لاټری ، رشوت ، حرام او پردی حق وغیره سره حاصله شوے سرمائے هم منع او حرامه ګرځولے دی۔ په دے وجه الله تعالیٰ دَ پاک او حلال خوراک حکم ورکوی:

﴿یٰٓا اَیُّهَا النَّاسُ کُلُوْا مِمَّا فِی الْاَرْضِ حَلٰلاً طَیِّبًا﴾ [بقره:۱٦۸]

''اے خلقو! خورئ دَ زمکے څیزونه حلال پاکیزه''

بل ځائے کښے ئے ارشاد فرمائیلے دے چه:

﴿وَلَا تَاْكُلُوْا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوْا بِهَا اِلَى الْحُكَّامِ لِتَاْكُلُوْا فَرِيْقًا مِنْ اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ﴾ [بقره:۱۸۸]

"او مه خورئ دَ یو بل مالونه په خپلو کښے او مه ئے رسوئ حاکمانو ته چه اوخورئ یوه حصه دَ مالونو دَ خلقو نه په ظلم سره او تاسو ته ښه معلومه ده۔"

نبی کریم ﷺ فرمائی چه:

﴿اِنَّ اللّٰهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ اِلَّا طَيِّبًا ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يَطِيْلُ السَّفَرَ اَشْعَثَ اَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ اِلَى السَّمَآءِ يَارَبِّ وَمَطْعَمُهٗ حَرَامٌ وَّمَشْرَبُهٗ حَرَامٌ وَغُذِّيَ بِالْحَرَامِ فَاَنّٰى يُسْتَجَابُ لِذَالِكَ﴾ [مسلم]

الله تعالیٰ پخپله پاک دے او صرف پاک مال قبلوی۔ بیا ئے دَ یو سړی ذکر اوکړو څوک چه لرے لرے سفرونه کوی په دے حال کښے چه دَ هغه دَ سر ویښته ببر وی او دَ سر نه دَ خپو پورے په دوړو کښے ککړ وی او آسمان طرفته ئے دواړه لاسونه اوچت کړی وی او په عاجزئ سره دعا غواړی او وائی چه اے څما ربه! اے څما ربه! لیکن دَ هغه خوراک څکاک حرام وی او په حرام مال سره دَ هغه پرورش شوے وی نو په دے حالت کښے به دَ هغه دعا څرنګے قبوله شی۔ "

په یو بل روایت کښے دی چه:

﴿مَنِ اشْتَرٰى ثَوْبًا بِعَشْرَةِ دَرَاهِمَ وَفِيْهِ دِرْهَمٌ حَرَامٌ لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ تَعَالٰى لَهٗ صَلٰوةً مَا دَامَ عَلَيْهِ﴾ [مشکوٰۃ]

"چا چه دَ لسو درهمو یوه کپړه واغستله او په هغو لسو

درهمو کښې یو درهم حرام وی نو تر څو پورې چه دا سړې دغه کپړه استعمالوی الله تعالیٰ به دَ هغه هیڅ مونځ نه قبلوی۔"

دا خو دَ تقسیم دولت د او لینو حقدارو متعلق خبره وه اوس دَ تقسیم دولت ثانوی مستحقینو په باره کښې مختصر خبره داده چه دا معاشرې کمزورو عنا صرو قوی کولو او بیکاره افراد دَکار قابل جوړولو د پاره په اسلام کښې یو با قائده نظام مقرر دې چا سره چه به په لاندینو مدونو زکوٰه عشر ، کفاراتو ، صدقه الفطر ، نفقاتو ، وراثت ، خراج او جزیې سره تعاون کولې شی ۔

☆☆☆

# ﴿دا سلام نظام معاشرت﴾

(Islam Dealing System)

دَ شاه ولی الله دهلویؒ د قول مطابق انسان مدنی الطبع دے یعنی انسان په خپل ژوند کښې د جماعتی زندګی محتاج دے ـ اجتماعیت نه بغیر ده دپاره ژوند تیرول نا ممکن دی، ولے چه دے دَ خپل پیدائش نه واخله تر مرګه پورے د سماج ( یعنی معاشرے ) محتاج دے ـ

په دنیا کښې راتلو سره دے یو خاندان کښې سترګې پرانزی او پرورش دپاره ده ته د نورو خلقو ( مور ، پلار ، رور، خور ، رشته دار ) ضرورت پیښیږی ـ بیا هوش سنبالولو سره د ده سوسا ئټی ، برادرئ ، محلے، بستئی،ښار، قوم ،نظام تمدن او تهذیب سره واسطه پر وځی ، دے سره سره په خپلو ضروریاتو مثلا خوراک ، لباس ،مکان او د زندګی په هره شعبه کښې د جماعت محتاج دے ـ

که چرے د ده تمام تعلقات ختم کړے شی کوم چه د جماعت ، سماج او معاشرے په وجه ده ته حاصل وی نو بیا ده سره هیڅ هم نه پاتے کیږی او د ده حیثیت به ختم شی ـ غرض دا چه د معاشرے بے شماره روا بط کومے چه انسانان دَ یو بل سره یو ځائے کړی دی، د همدے په مضبوطیا باندے دیو فرد، معاشرے او مجموعی طور باندے دَ ټولو انسانانو د فلاح او کامیابئ دارو مدار دے ـ په دے وجه د اسلام په نظر کښې د معاشرے ډیر زیات اهمیت دے ـ الله تعالیٰ د معاشرت درست

والی دپاره مستقل سورتونه نازل کړی دی لکه سوره النساء ، حجرات ، احزاب وغیره ۔او رسول الله ﷺ دے ته د اسلام مدار فرمائیلی دی وے چه اسلام یو جامع نظامِ حیات دے او د دے یو ډیر اهم جُزحسن معاشرت هم دے ۔

## اسلامی معاشره :

اسلام انسانانو دَ پاره یو صحیح منصفانه او پائیدار نظام معاشرت لری دَ کوم اصول او ضوابط چه مستقل او محکم او په عدل او انصاف باندے مبنی دی۔ دا یو داسے جامع او همه گیر نظام دے کوم چه دَ ژوند ټولے شعبے او هر قسم سرگرمئی په خپله لمنه کښے راټولے کړی دی ۔ دا دَ انسان زړه او ضمیر او دَ ده دَ ژوند تمام انفرادی او اجتماعی معاملاتو باندے محیط او په خپل هدایت او قانون سازئ کښے دین او دنیا دواړو باندے حاوی دے۔ معاشره چونکه دَ افرادو دَ مجموعے نوم دے ، دے دَ پاره اسلام نه دَ اشتراکی معاشرو په شان دَ فرد دَ آزادئ قدروقیمت ختمولو سره په زبردستئی سره آمریت قائمول غواړی ، چه دے سره دَ فرد حیثیت ختم شی او دَ یو مشینی پُرزے نه زیات پاتے نشی ، چه دَ هغے په وجے سره دَ ده ډیر انفرادی صلاحیتونه دباؤ پاتے شی ۔ او نۀ دَ مغربی سرمایه دارانه او سیکولر معاشرے پشان فرد له مکمله آزادی ورکولو سره دَ خپلے ذاتی ترقی دَ پاره معاشرے او اجتماعیت له دَ نقصان رسولو موقعه ورکړے کیږی ، بلکه اسلام دَ دے دواړو نظامونو په مقابله کښے یو دریم معتدل نظام پیش کوی کوم چه

دَ فرد او جماعت تر مینځه یو معتدل توازن قائموی ۔ په دے کښے یو طرفته خو فرد ته جداګانه حیثیت حاصل دے ولے چه دے دَ معاشرے ډیر اهم جُز دے، کوم چه په پوره توګه خپل صلاحیتونه کار کښے دَ راوستو حقدار دے ، او په دے فرد کښے دا احساس رابیدارَوی چه دے دَ خپلو اعمالو ذمه وار دے او دَ الله رب العزت په وړاندے دَ خپل انفرادی ژوند جواب ورکونکے دے ۔ احساس ذمه واریٔ نه پس دا هم یو ضروری امر دے چه دے دِ خپل ایمان په الله او رسول الله ﷺ او آخرت باندے برابر تازه کوی۔ اسلام یو طرفته فرد لره تسلیموی لیکن بل طرفته انفرادی اصلاح سره سره دَ اجتماعی ژوند تعمیر او تشکیل دَ پاره واضحه هدایات ورکوی او په فرد باندے داسے پابندیٔ لګوی چه دَ هغه ذاتی ترقی او مفاد دَ معاشرے دَ پاره نقصان او په اجتماعی ترقی کښے دَ رکاوټ سبب جوړ نشی ۔ ورسره دَ اسلام دَ نظامِ معاشرت سنګ بنیاد نظریه دا ده چه انسانیت دَ آدم علیه السلام اولاد دے۔ دَ رنګ ،ژبے ، حسب او نسب ، قوم او قبیلے ، تفریق او امتیاز او اونچ نیچ (ښکته والے ،پورته والے) پیدا کول غلط دی۔ دا فطری تقسیم په خپلو کښے دَ تعارف دَ پاره دے که چرے څه فرق او امتیاز کیدے شی نو هغه دَ نظریاتو او خیالاتو ، اعمالو او دَ تقویٰ فرق دے څنګه چه دَ الله تعالیٰ ارشاد دے:

﴿اِنَّ اَکۡرَمَکُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ اَتۡقٰکُمۡ﴾[حجرات:۱۳]

" بیشکه په تاسو کښے دَ الله په نزد عزت والا هغه څوک دے چه زیات پرهیزګار وی۔"

دَ اسلامی معاشرے عمارت انسانی مساوات ، اخوت ، اجتماعی عدل ، باهمی امداد ، ایثار او دَ خیر خواهئی جذبه ،دَ ذمه وارئ شعور ، دَ یو بل دَ حقوقو او فرائضو او موقع او محل مناسبت سره دَ ناستے پاستے ، خوراک څکاک ، اغوستو ، تګ راتګ وغیره آدابو غوندے مضبوط بنیادونو باندے قائم اصولی او فطری معاشره ده کومه چه دَ فرد او ملت دَ امن ضامن ده۔

اسلام دَ امن او محبت داعی او دَ صلحے او دوستئی پیغام ورکونکے مذهب دے ۔ دَ ده نظام زندګی دَ امن او انصاف او اخوت او مساوات نه عبارت دے ۔ دَ ده په نزد دَ رنګ او نسل او برادرئ په بنیاد باندے هیڅ تفریق نیشته۔

دَ انسانی مساوات داسے تصور دلته موجود دے چه دَ دنیا په بل هیڅ یو مذهب کښے دَ دے نظیر نه ملاویږی ۔ دَ عزت او شرف حقیقی معیار دَ ده په نظر کښے صرف حسن عمل او اخلاق او کردار دے ۔ دَ ظلم او تشدد او فساد او خونریزی نه دَ ده نفرت دے ۔ دَ انسانیت ناحقه قتل او دَ بشر دَ وینے پامالکولو نه دَ ده لمنه پاکه ده ۔ دا سراسر محبت او آداب ښائی ، دا دَ امن حامی دے او دَ امن وامان تلقین کوی ، دَ ظلم په تیارو کښے دا دَ محبت ډیوه ده او دَ فتنے او تشدد په سیلو کښے دَ امن روښانه شمع ده۔ یو مسلمان دَ خپلو مذهبی تصوراتو او دَ قرآنی تعلیماتو په رنړا کښے دَ ټولو نه زیات امن پسند او نورو دَ پاره دَ امن داعی وی۔

اسلام دَ تمامو انسانانو دَ جان ومال او عزت او آبرو تحفظ ، دَ فتنې او فساد سرکوبی او دَ قیام په لاره کښې موندې کیدونکی رکاوټونه لرې کولو دَ پاره مستقل قوانین وضع کړی دی او دَ انسانیت اصلاح او فلاح دَ پاره ئې دَ ژوند دَ اصولو رهنمائی کړې ده ۔ دَ ده په نظر کښې دَ انسان ځان او دَ ژوند سلامتی یو اهم ترین انسانی حق دې ناحقه قتل خواه که دَ هر انسان وی دَ قرآن په نظر کښې سخت ترینه ګناه ده او ګویا دَ یو انسان قاتل دَ ټول انسانیت قاتل دې:

﴿مَنۡ قَتَلَ نَفۡسًا بِغَيۡرِ نَفۡسٍ اَوۡ فَسَادٍ فِى الۡاَرۡضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيۡعًا﴾ [مائده:۳۲]

"چا چه څوک او وژلو بغیر دَ بدل دَ بل نفس نه یا په زمکه کښې دَ فساد کولو نو ګویا ده ټول خلق اووژل۔"

او داسې قاتل دَ پاره دَ جهنم دَ ابدی سزا اعلان کړې شوې دې۔

﴿ وَمَنۡ يَّقۡتُلۡ مُؤۡمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيۡهَا﴾ [نساء:۹۳]

دَ مالی معاملاتو په سلسله کښې هدایت دې چه دَ چا مال په حرامه او ناجائز طریقه باندې خوړلو کوشش دې اونه کړې شی ۔ دَ باری تعالیٰ حکم دې :

﴿وَلَا تَاۡكُلُوۡۤا اَمۡوَالَكُمۡ بَيۡنَكُمۡ بِالۡبَاطِلِ﴾ [بقره:۱۸۸]

"په خپلو کښې دَ یو بل مال په ناجائزه طریقه باندې مه خورئ"

په قرآن کښې دَ غلا او ډاکې سزا ذکر هم موجود دې دَ پاره دَ دې چه انسانی معاشره دَ بد امنئی ښکار نه شی او خلقو ته دَ ځان او مال

تحفظ حاصل وی۔

اسلام دَ انسان دَ عزت او آبرو هم تحفظ کړے دے او دَ چا عزت او آبرو پامالول ئے کبیره ګناه ګرځولے ده او دَ زنا سخت ترینه سزا مقررؤلو سره دے ته نزدے ورتلو نه هم منع شوے ده۔

﴿وَلَا تَقۡرَبُوۡاالزِّنَا اِنَّهٗ کَانَ فَاحِشَةً﴾[بنی اسرائیل:۳۲]

" او زنا ته نزدے هم ورنشئی بیشکه دا یو بے حیائی ده۔"

دغه شان دَ شرعی ثبوت نه بغیر په یو بے ګناه او پاک لمنه ښځے یا سړی باندے تهمت لګول هم جرم اوګرځولے شو۔"

دَ قیام امن یو بنیادی تقاضا دا هم ده چه دَ انسانانو په مینځ کښے دَ ظلم او بے انصافئی خاتمه دے اوکړے شی ۔ ځکه چه کله ظلم او سرکشی زیاته شی نو بیا دَ دنیا او معاشرے نه امن وامان رخصت شی همدے دَ پاره په شریعت کښے ظلم حرام ګرځولے شوے دے۔

﴿وَیَنۡهٰی عَنِ الۡفَحۡشَآءِ وَالۡمُنۡکَرِ وَالۡبَغۡیِ﴾[نحل:۹۰]

"بیشکه الله تعالیٰ دَ مطلق بدئ او ظلم او سرکشئی نه منع والے کوی۔"

دَ ظلم په مقابله کښے اسلام دَ "عدل" تعلیم ورکړے دے ۔ عدل سره دَ حقوقو پاسداری او تکمیل کیږی۔ دَ عدل حقیقت دا دے چه دَ هر صاحبِ حق حق دے پوره ادا کړے شی ۔ دَ دے په عموم کښے دَ الله حقوق هم داخل دی او هر قسمه انسانی حقوق هم۔ دا مفهوم هم پکښے داخل دے چه هیڅوک دے په هیچا باندے ظلم نه کوی او دا هم چه ظالم دے دَ ظلم نه بند کړے شی او دَ مظلوم حمایت دے اوکړے شی۔

دَ انبیاؤ دَ بعثت او دَ اسمانی کتابونو او صحیفو دَ نزول مقصد هم دا وو چه په معاشره کښې دے انصاف او دَ دے په ذریعه دے امن قائم وی ۔ هر انسانی فرد دے په خپل دائره اختیار کښې انصاف خپل شعار جوړ کړی ۔ دَ قرآن ټول تعلیمات دَ عدل په اصولو باندے مبنی دی ، دَ هر قوم انسانی او سماجی حقوقو تحفظ په همدے لارے سره ممکن دے ۔ په همدے وجه بیشماره آیتونو کښې دَ عدل تعلیم او دَ ظلم مذمت کړے شوے دے۔

دَ معاشرے دَ اصلاح په ضمن کښې دَ انسانی مساواتو دَ تصور ډیر اهمیت دے ۔ هر کله چه دَ انسانانو په مینځ کښې دَ اعلیٰ او ادنیٰ فرق اوکړے شی ، دَ ذات پات او برادرئ نه علاوه دَ رنګ او ژبے په مختلفو خانو کښې انسانان تقسیم کړے شی نو دَ باهمی کشمکش او نفرت او عداوت فضا پیداکیدل لازمی دی ، چه دَ هغے په بنیاد باندے دَ نقضِ امن او عدم تحفظ صورت پیدا کیږی ۔ اسلام دَرنګ او نسل او ژبے او وطن بوتان مات کړل ، دَ انسانانو په مینځ تفریق او جدا والے ئے تباؤ کړو او ټول انسانان ئے دَ اولاد آدم کیدلو په حیثیت سره یو شان اوګرځول او دَ عزت او سر بلندئ معیار ئے تقویٰ او خدا ترسی اوګرځوله۔ نن معاشره بیا دَ ظلم او فساد آماجګاه جوړه شوے ده ، دَ طاقتور زور دے او کمزورے بسه دے ۔ دَ دولت او طاقت په بنیاد باندے یو ملک په بل ملک باندے حمله آور دے ، دامن دعویدار دَ امن اصلی تباه کونکی دی ، دَ صلحے او سلامتیا تش په نوم علم بردار دَ مهلکو وسلو سوداګران دی ، دولت مند دَ غریبو استحصال کوی ۔ دَ امن او دَ

معاشرے دَ اصلاح په نوم باندے بیشماره ادارے او تنظیمونه موجود دی ، لیکن بیا هم دنیا امن دَ پاره بیقراره ده۔

په داسے حالاتو کښے ضرورت دے چه دَ قرآن او صاحبِ قرآن نظامِ امن نه رنړا حاصله کړے شی او دَ اسلام امن پسندانه نظام معاشرت دے دَ لارے مشال جوړ کړے شی ۔ دَ امن دَ تګے دنیا بیقراری هم په هغه لار سره لرے کیدے شی کومے لارے سره چه دنیا دَ ظلم نه وتے وه او دَ اسلام عدل طرفته راګرځیدلے وه ۔ په دے حالاتو کښے دَ مسلمانانو هم ذمه واری ده چه اسلامی نظام معاشرت دے په وسیع پیمانه باندے متعارف کړی او دنیا ته دے دا پیغام ورکړی چه صرف اسلام دَ دنیا دَ موجوده مشکلاتو حل دے ۔ او دَ همدے په اډانړه دنیا دَ امن په لمنه کښے راتلے شی ۔ دے دَ پاره حکم دا دے چه:

﴿اِنَّ اللّٰهَ یَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَاِیْتَاۤیِٔ ذِی الْقُرْبٰی وَیَنْهٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْیِ یَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ﴾ [نحل:۹۰]

" بیشکه الله تعالیٰ دَ عدل ، احسان او خپلوانو ته دَ حق ورکولو حکم کوی او دَ بے حیائی ، منکر او ظلم نه منع کوی او نصیحت کوی تاسو ته دَ پاره دَ دے چه تاسو نصیحت حاصل کړئ"

اوس دَ اسلامی نظام معاشرت اهمیت پیژندلو نه پس دا کتل دی چه هغه کوم اصول او طریقے دی کوم چه اسلام دَ انسانی میل میلاپ او موافق والے پیدا کولو او صحیح معاشره قائمولو دَ پاره مقرروی ۔ دَ معاشرے دا لاندینی ارکان دی:

## خاندان:

دَ اسلامی معاشرے اولین او بنیادی اداره خاندان دے ۔ دَ خاندان بنیاد دَ یو سړی او ښځے په شرعی طریقه باندے دَ نکاح باهمی تعلق سره اینښودے کیږی ۔ دے شرعی ملاپ سره یو نوے نسل په وجود کښے راځی ، بیا دے سره دَ رشتے ، کورنئی او برادرئ تعلقات پیدا شی خوریږی خوریږی یو فراخه معاشرے پورے اورسی ۔ گویا چه دا اداره (خاندان) دَ انسانی تمدن جرړه او تربیت گاه ده ۔ دے دَ پاره اسلام دَ باهمی حقوقو او دَ ښځے خاوند دَ فرائضو ، دَ مور پلار او اولاد دَ حقوقو تاکید کړے دے ۔ دَ معاشرے دَ دے اولنئے ادارے اصلاح دے اوشی او دَ ښه انسانانو یو صحیح معاشره دے په وجود کښے راشی۔

## قرابت:

دَ خاندان نه پس رشته داری ده چه دَ دے دائره کافی فراخه وی۔ کوم چه دَ مور پلار تعلق سره یا رونړو خویندو سره یا دَ سخر گنئی تعلق سره وی هغوی دَ یو بل رشته دار دی ۔ اسلام دے ټولو ته دَ یو بل دَ همدردئ ، مددگارئ ،غمخوارئ او په خپلو کښے دَ یو بل دَ حقونو او فرائضو خیال ساتلو سبق ورکوی ۔

قرآن مجید ځائے په ځائے خپلوانو سره دَ نیک سلوک او صله رحمئی قائمولو تاکید کوی او ورسره دوراثت حق هم ورکوی ۔ لیکن دَ دے مطلب دا نۀ دے چه یو بل سره دَ اسلام خلاف کارونو او

ناجـئـزو ځیـزونـو کښې تـعـاون اوکړی بلکه دَ دې نه مراد هغه تعلق او صله رحمي ده کومه چه دَ عدل او انصاف حد کښې دننه وی۔

## محله ، ګاونډتوب، شهريت:

دَ قـرابـت نـه پـس مـحـله یعنی ګاونډ توب دے ، دَ قرآن کریم تر مـخـه خواه هغه ګاونډی رشته دار وی یا اجنبی ، عارضی یعنی شریک سفر ، درس او جماعت وی یا دوست وی ، دَ ده دَ حقوقو خیال ساتل دی ۔ اسلام ګاونډیانو ته په خپلو کښې دَ همدردئ ، مدد ګارئ او په غم ښادی کښې دَ شـریکیدلو حکم ورکوی دَ پاره دَ دے چه په یو بل باندے اعتماد کولو سره خپل ځان او مال او عزت محفوظ اوګنړی۔

په مسلمان باندے په حیثیت دَ شهری هم څو حقونه او فرائض عـائـد کیـږی۔ هـغـه دا چـه پـه هـر حـالـت کښې دے دَ خپلے معاشرے دَ بهتـرئ فـکـر کـوی ، هـمیشـه دے دَ انسانی فلاح او بهبود او دینداریٔ دَ پـاره سرګرم عمل وی ، انسانی مشکلات ختمولو او دَ امن او سلامتیا فـضـا قائمولو دَ پاره دے کوشش کونکے وی ، په ماشومانو، ضعیفانو او نادارو دے رحم کولو سره دَ هغوی امداد کوی۔

## جومات:

مـعـاشرتی تعلقات مضبوطولو دَ پاره دَجومات حیثیت دَ یوے مستـقـلے ادارے پشان دے او دَ اسلام معاشرتی پروګرام هم دَ جومات په ذریـعـه کـامیـابیـدے شی ۔ پـه دے سلسلـه کښې دَ جوماتونو صحیح

تنظیم ته لوئے اهمیت حاصل دے دَ پاره دَ دے چه مطلوبه نتائج پوره طور سره حاصل شی او دَ جوماتونو په سطح باندے دَ عقائدو او اعمالو اصلاح او دَ معاشرے اصلاح دَ پاره دے دَ تعلیم او تربیت بندوبست وی او خلق دے دَ قرآن او سنت نه خبردار کړے شی ۔ دَدے جماتونو سره سره نورے هم اجتماعی ادارے مثلا مدرسے ، حجرے وغیره داسے نو ځایونه دی چه دَ هغے ډیر اهمیت دے ۔ دے دَ پاره دَ دے ټولو اجتماعی ځایونو دَ حقوقو او آدابو خیال ساتل پکار دی۔

## دَ نبی ﷺ جومات او دَ هغے کردار:

مسجد نبوی ﷺ څمونږ دَ پاره یو بهترینه نمونه ده ۔ هغه دَ مسلمانانو دَ کثیر المقاصد مرکز حیثیت لرلو۔ چونکه جومات دَ عام معاشرتی زندګی دَ کارونو ادا کولو په وجه دَ امتِ مسلمه سیاسی او مذهبی مرکز وی نو څکه نبی کریم ﷺ هم دَ خپلو انفرادی او اجتماعی معاملاتو مرکز جومات جوړ کړے وو ۔ نبی ﷺ دَ ازواجِ مطهراتو حجرے جومات سره بالکل پیوست جوړے کړے وے او دَ بعضو حجرو دروازے ئے جومات طرف ته ایخے وے چه جومات سره ئے براه راست تعلق وی ۔ دَ نبی کریم ﷺ ناسته به جومات کښے وه، باهرنی وفدونه به جومات کښے پاتے کیدل او ملاقات به ئے کولو ۔ دَ تعلیم حلقے په جومات کښے قائمے وے ، وعظ ونصیحت به جومات کښے وو۔ دَ اصحابِ صفه استوګنه یعنی مدرسه صفه دَ جومات په یو ګټ کښے وه ، دَ غنیمت مال او صدقاتِ واجبه ونافله به جومات کښے

جمع کیدل او تقسیمدل، دَ صحابوؓ مجلسونه په جومات کښے کیدل ، دَ اسلام په حمایت او دَ نبی ﷺ په مدح کښے اشعار او نظمونه به دَ دے جومات په منبر وئیلے کیدل ، دَ جهاد دَ پاره دَ تیاری اجتماع به جومات کښے وه او بعض جهادی لوبے او مظاهرے به دَ جومات په صحن کښے کیدے ۔ دَ احد دَجنګ نه بعد سردارانو شپه په جومات کښے تیره کړے وه ۔ دَ فقراء او مسکینانو دَ پاره چنده به په جومات کښے کیده، دَ خلقو تحفے تحایف به جومات کښے وصول کیدل او تقسیمیدل به، قیدیان به دَ جومات په ستونو پورے تړلے کیدل او فیصلے به هم په جومات کښے کیدے ۔ نبی ﷺ به دَ سفر نه په واپسی جومات ته حاضریدو او دوه رکعته نفل به ئے کول نو بیا به کور ته تلو ۔ لنډه دا چه مسجد نبوی ﷺ یو دار العباده ، دار الاصلاح ، دار الندوه (دَ اجتماعی مشورے مرکز) دار الاماره (حکومتی مرکز) ، دار القضاء، دار الافتاء، دار التعلیم،او دار الکفاله وو۔

لهذا مسجد نبوی ﷺ ته کتل پکار دی او خپل جوماتونه دغسے جوړولو سره سره دَ جومات نه دَ معاشرے دَ اصلاح کار اغستل غواړی۔

## تعلیم:

دَ معاشرے سمؤلو ، په هغے کښے دَ اسلامی اقدارو تحفظ او خپل دَ ژوند تجربات نوؤ نسلونو ته منتقل کولو کښے دَ علم او دَ صحیح نظام تعلیم بنیادی اهمیت دے او دا دَ اسلامی معاشرے یو ډیره غټه ستن ده۔ دَ نظام تعلیم په اولنی نصاب کښے دَ قرآن مجید لوستل

ښودل او په خپله ژبه کښې دَ دې معنیٰ او مقصد باندې پو هیدل ډیر ضروري دي ولې چه دَ قرآن او دین تعلیم سره انسان صحیح عقیده، اخلاق او معاشره وغیره حاصلولې شي۔

نو په مختصرو الفاظو کښې معاشره وائی حقوقو او آدابو ته ، او دَ معاشرې اصل اصول دا دې چه دَ الله تعالیٰ دَ بندګانو زړه آزارولو نه دې ځان اوساتلې شي او دَ هغوی حق ادا کولو او دَ هغوی خوشحالولو ، خوشحاله ساتلو او دَ هغوی دَ حق مطابق هغوی ته دَ آرام رسولو پوره کوشش دې اوکړې شي لیکن په دې ضمن کښې دَ شریعت په حدودو کښې اوسیدل او دَ دې خیال ساتل ضروري دي۔

☆☆☆

# دَ اسلام نظام سیاست او ریاست

(Islamic Politics & Statesmanship System)

څنګه چه مونږه مخکښې عرض کړے دے چه اسلام یو مکمل نظامِ حیات دے چه پکښې دَ انسانی ژوند هر اړخ سره متعلق هدایات موجود دی ۔ یعنی دَ ژوند هیڅ یو شعبه دَ اسلام دائرے نه بهر نه ده ، چونکه سیاست او ریاست هم دَ انسانی ژوند یو اهمه حصه ده نو دا هم دَ اسلام په دائره کښې داخله ده او دَ دے په باره کښې هم اسلام کښې واضحه هدایات موجود دی ۔ دَ اسلام او سیاست یو بل سره انختے تعلق دے ۔ اسلام او حکومت او ریاست دوه غبرګ پیدا شوی رونړه دی ۔ په دواړو کښے یو هم دَ بل بغیر درست کیدے نشی ۔ اسلام دَ دین او دنیا په مینځ کښے دَ تفرق قائل نه دے هغه ټول ژوند دَ الله دَ قانون تابع کول غواړی او دے مقصد دَ پاره سیاست هم په اسلامی اصولو باندے مرتب کوی۔

دَ اسلام او سیاست یو بل سره دومره قریبی تعلق دے او دَ دوی په خپلو کښے دومره ژوره وابستګی ده چه که چرے سیاست او ریاست او حکومت دَ اسلام نه بغیر وی نو هغه دَ ظلم او بے انصافئی ذریعه جوړیدلو سره چنګیزیت جوړیږی۔ په قول دَ اقبال:۔

جلال بادشاہی ہو کہ جمہوری تماشا ہو
جدا ہو دیں سیاست سے تو رہ جاتی ہے چنگیزی

کله چه مسلمانانو دَ محمد فاتح په قیادت کښې قسطنطنیه باندې حمله اوکړه نو هغه وخت دَ عیسایانو دوؤ فرقو رومن کیتهولک او پروټسټنټ په مینځ کښې په دې خبره جګړه او مناظره وه چه عیسیٰ علیه السلام په خپل عمر کښې دَ میدې روټۍ خوړلې وه او که نه۔ هغوی په همدې جګړو کښې مصروف وو چه مسلمانانو قسطنطنیه فتح کړه ۔ بیا دَ هغوی ترمینځه خپلو کښې همدغه شان معمولی مسائلو باندې جګړې کیدلې او دواړو طرفته ډیر قتل عام اوشو ۔ که حکومت به دَ رومن کتهولک فرقې وو نو پروټسټنټ به ئې قتلول او که حکومت به دَ پروټسټنټ فرقې وو نو رومن کیتهولک به ئې قتلول۔ بیا عیسایانو دَ دې جګړو ختمولو دَ پاره مذهب او سیاست او حکومت جدا کړل چه حکومت دَ مذهب نه جدا څیز دې او هرې ډلې او مسلک والا دې دَ خپل خپل مذهب او مسلک مطابق ژوند تیروی او اعلان ئې اوکړو چه دَ مذهب تعلق به صرف ګرجې سره وی ۔ حکومت سره دَ مذهب هیڅ تعلق نیشته ۔ ﴿اتو للقیصر ما للقیصر ولله ما لله﴾ دَ حکومت معامله حکومت سره او دَ الله معامله الله سره۔

په دې طریقې سره دَ هغوئ ترمینځه جګړې ختمې شوې او حکومت آزاد شو ۔ نو دَ دې ځائې نه جمهوریت شروع شو دَ سیاست او دین جدا جدا کیدلو تصور په دنیا کښې عام کیدل شروع شو ۔ لیکن مونږه وایو چه دا نظریه او خیال دَ عیسایانو دې که چرې دَ هغوی په دین او مذهب کښې حکومت نه وی نو نه به وی ولې چه دهغوی

پیغمبر عیسیٰ علیه السلام حکومت نه وو کړے۔ زمونږه اسلام کښے سیاست او حکومت هم په مذهب او دین باندے بنا دی ، دَ یو بل نه جدا نه دی ولے چه زمونږه نبی ﷺ حکومت کړے۔ بیا دَ هغوی ﷺ دَ وفات نه پس دَ ټولو نه مخکښے دَ خلافت مسئله امت مسلمه حل کړه او ابوبکر صدیقؓ ئے خپل خلیفه منتخب کړو۔ سره دَ ابو بکر صدیقؓ نه دَ نبی کریم ﷺ اوو(۷) شاګردانو ابوبکر صدیقؓ ، عمر فاروقؓ ، عثمان ذوالنورینؓ،علی المرتضیٰؓ، حسن بن علیؓ ، امیر معاویه بن ابی سفیانؓ او عبد الله بن زبیرؓ حکومت اوکړو۔ او بیا همدا حکومت او خلافت په تابعینو کښے او تبع تابعینو کښے جاری وو۔

دَدے وجے نه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی:

﴿یَکُوْنُ اِثْنَا عَشَرَ اَمِیْرًا﴾ [بخاری:۱۰۷۲/۲]

څما نه پس دولس امیران وی ، او وے فرمائیل :

﴿نُبُوَّةٌ وَّرَحْمَةٌ ثُمَّ خِلاَفَةٌ وَّرَحْمَةٌ﴾ [بزار]

یعنی څما نبوت نه پس به خلافت وی۔

دَ نبی کریم ﷺ نه مخکښے انبیاء کرامو علیهم السلام هم دَ ژوند دَ هرے شعبے دَ اصلاح جدوجهد اوکړو، دَ دے دَ پاره چه دَ الله په زمکه باندے دَ الله دین کامل او دَ هغه قانون نافذ او جاری شی ۔ دَ هغوی دا جدو جهد دَ پوره ژوندَ اصلاح دَ پاره وو۔ دغه پاکو هستو دَ ایمان او دَ توحید عقیدے بیان سره سره په معاشره کښے چه کوم یو منکر او بے اعتدالی ئے لیدلے ده خواه که اخلاقی وه یا معاشی یا

سیاسی دَ هغے په اصلاح ئے توجه ورکړے وه او دَ عقائدو ، اعمالو،اخلاقو، معاملاتو،معاشرت اصلاح سره سره دَ سیاست او ریاست په اصلاح ئے هم ډیر زور ورکړے وه۔

ارشادِ نبوی ﷺ دے چه:

﴿كَانَتْ بَنُوْ اِسْرَائِيْلَ تَسُوْسُهُمُ الْاَنْبِيَآءَ﴾

دَ بنی اسرائیلو سیاست به انبیاوکرامؤ کولو۔

دَ دے په بناء دَ قرآن دَ مطالعے نه معلومیږی چه حضرت داؤد علیه السلام حضرت سلیمان علیه السلام او حضور اکرم ﷺ اسلامی طرز سیاست او خلافت قائم کړو کوم چه دَ هغوی نه پس خلفاء راشدینو رضوان الله علیهم اجمعین په همدغه معیاری شکل کښے دَ انبیاء کرامو علیهم السلام دَ اسوۂ حسنه مطابق جاری اولرلو۔

دلته په دے خبره پو هیدل ضروری دی چه دَ سیاست نه زمونږه مراد موجوده مغربی او جمهوری سیاست نه دے بلکه خالص اسلامی سیاست او ریاست ترے مراد دے۔

## اسلامی سیاست:

دَ سیاست لفظی معنیٰ ده نګرانی او دَ شریعت په اصطلاح کښے سِیاسةُ القَوم نه مراد قوم ته ټول دنیاوی او دینی ضرورت مهیا کول دی ، هغوی دَ مصیبتونو نه بچ کول او دَ هغوی کامرانئی او منفعت دَ پاره ټول تدابیر ، دنیاوی او اخروی سعادت او ښیګړے دَ پاره جدوجهد او مفید وسائل اختیاؤل سیاست دے۔

چونکه سیاست او ریاست دَ دین اسلام اهم جزء دے ، په دے وجه ئے دَ قرآن او سنت ،اسوه حسنه او دَ خلفائے راشدینو په طریقے باندے کول ضروری دی کوم چه دَ صدق او رشتین والی په بنیاد باندے قائم یو اصولی سیاست دے۔ او که چرے سیاست په دینی طریقه باندے نه وی نو دا دین نه دے بلکه بدعت او خباثت پاتے کیږی، څنګه چه په موجوده دور کښے تش په نوم سیاسی پارټو په دروغو ، دهوکے او وقتی مصلحتونو باندے مبنی سیاست شروع کړے دے او دے له ئے دَ اسلامی سیاست نوم ورکړے دے ۔

دَ اسلامی سیاست بنیاد په درے اصولو باندے ایخودے شوے دے ۔ یعنی توحید ، رسالت او خلافت ۔ دَ دے اصولو پیژندلو نه بغیر دَ اسلامی سیاست تفصیلی نظام باندے پو هیدل مشکل دی ۔ دے دَ پاره مخکښے دَ دے مختصر تشریح ضروری ده۔

## توحید او رسالت:

دَ توحید معنیٰ دا ده چه دَ دے دنیا او دَ دے دَ ټولو اوسیدونکو خالق ، پروردګار او مالک یو الله جل شانه دے۔ حکومت او فرمان روائی دَ هغه ده ، هم هغه دَ حکم ورکولو او منع کولو حق لری ، الو هیت ، بندګی او اطاعت او حاکمیت بغیر دَ بل چا دَ شرکت نه صرف هغه دَ پاره دے ، زمونږه دا هستئی دَ کومے په ذریعه چه مونږه موجود یو ، دا جسمانی آلات او طاقتونه کومو سره چه مونږه کار کوؤ ، او هغه اختیارات کوم چه مونږ ته دَ دنیا په موجوداتو باندے حاصل دی ،

په دوی کښې هیڅ یو څیز هم نه زمونږه پیدا کړه دے یا حاصل کړه دے ، او نۀ دَ دے خالقِ دو جهان په عطا والی کښې دَ هغه سره څوک شریک شته ـ دے دَ پاره دَ خپلے هستئی مقصد،دَ خپلو قوتونو مصرف او دَ خپلو اختیاراتو حدود او قوانین مقررول نه خو زمونږه کار دے او نه چا بل چا له په دے کښې دَ دخل ورکولو حق شته ـ دا صرف دَ الله تعالیٰ کار دے کوم چه زمونږه خالق او مونږ ته اختیارات راکونکے دے ـ دَ توحید دا اصول دَ سره دَ انسانی حاکمیت نفی کوی ، خواه که هغه یو انسان وی ،خاندان وی یا یو گروه او طبقه وی ، دَ حاکمیت حق چاته هم نه رسی ، حاکم صرف الله دے او هم دَ هغه حکم قانون دے۔

دَ الله حکم چه دَ چا په ذریعه بندگانو ته رسی هغه ته رسول وائی او دَ هغه ډیوټئی ته رسالت وائی ـ او دَ رسالت په ذریعه مونږ ته دوه څیزونه ملاویږی ـ یو کتاب کوم کښې چه پخپله الله تعالیٰ قانون بیان کړے دے او دویم دَ دغه کتاب مستنده تشریح کوم چه پیغمبر ﷺ دَ الله نمائنده کیدلو په حیثیت سره دَ خپل قول او فعل (احادیثو او سنت) په ذریعه پیش کړے دی ـ دَ همدے دوؤ څیزونو دَ مجموعے نوم په اسلامی اصطلاح کښې ''شریعت'' دے او همدا هغه اساسی دستور دے کوم باندے چه اسلامی ریاست او خلافت قائمیږی۔

## اسلامی ریاست (خلافت)

دَ خلافت مطلب دا دے چه انسان په زمکه باندے دَ الله مامور دے یعنی دَ الله دَ طرفنه دَ ده په ملک کښې ورکړے شوی اختیارات به

دے دَ هغه دَ مرضئی او قانون مطابق استعمالوی۔ اسلام په زمکه باندے انسان لره خلیفه ګرځوی کوم چه په اصل کښے دَ الله اقتدار اعلیٰ تسلیمولو سره به دَ هم دَهغه دَ حاکمیت لاندے خلافت کوی او دَ هغه مقرر کړو قوانینو او حدودو کښے دننه اوسیدلو سره به دَ خلافت نظام چلوی۔

ولے چه دَ نبوت منصب دَ مختلفو اجزاؤ نه مرکب دے ۔ من جمله دَ هغے نه یو جز په وحی او شریعت کښے تشریح او تاسیس دَ قوانینو یعنی قانون وضع کول او دَ هغے دَ وضع او قیام معصومانه او غیر مسؤلانه قوت۔ نو دَ دے جز په اعتبار سره نبوت دَ نبی ﷺ په وفات باندے ختم شوے دے او تر قیامته پورے دَ شریعت او قانون وضع او قیام معامله کامله شوے ده۔

هر کله چه نعمت کامل شو نو بیا کامل څیز له همیشه باقی پاتے کیدل پکار دی ۔ اوس دَ دے په ځائے بل یو څیز (قانون) راتلل به نقص وی نه چه تکمیل ۔ لیکن دَ نبوت منصب دے اصلی جز سره په ډیرو تبعی اجزاؤ باندے مشتمل وو او ضروری وو چه دَ دے دروازه دے همیشه کولاؤ اوسی، او هغه دے خلافت ۔ نو خلفائے راشدینو ؓ او دَ اسلام امراؤ ته چه کوم نیابت اورسیدو په هغے کښے دَ وحی او تشریع قائم مقامی خو نه شوه کیدے لیکن په دے کښے باقی ټول اجزاء او دَ خصائص نبوت نیابت یقینی طور باندے داخل دے۔

دَ نبی کریم ﷺ وجود دَ نبوت سره خلافتِ ارضی ، حکومت او سلطنت ، نظام وقوام ، سیاست ، دَ فوج او حرب قیادت ، فتح و

عمرانِ ممالک وریاست ، مجالس شوریٰ و غیره، دَ حکمرانئی ټول منصبونه ئے ځانله خپل شخصیت کښے دننه لرل ۔ دے وجے نه ټهیک ټهیک همدغه شان په خلافت کښے هم دَ خلفائے راشدینو وجود دَ دے ټولو منصبونو جامع وو۔ هغوی په هم یو وجود کښے دننه صاحبان دَ خلافت هم وو ، صاحبان دَ اجتهاد او قضاء هم او صاحب دَ سیاست او دَ نظمِ احکامِ ریاست هم ۔ او بیا همدا صفات او کمالات په نورو امرائے اسلام کښے هم کیدل پکار دی۔

دَ اسلام نظام ریاست نه خو دَ موجوده غلط مغربی جمهوریت پشان دے او نهٔ دَ بادشاهت او آمریت پشان دے بلکه دا په یو صحیح معتدل او منصفانه شورائی نظامِ خلافت باندے قائم دے ۔ کوم چه دَ یو شورائی نظام لاندے چلیږی۔

مجلسِ شوریٰ دَ اسلامی نظام حکومت یو اهمه ستن ده چه دَ دے نه بغیر خلافت چلیدے نشی۔

﴿وَشَاوِرُهُمْ فِی الْاَمْرِ﴾[العمرآن:۱۵۹]

''او دوی نه په اهمو کارونو کښے مشوره اخله''

او بل ځائے کښے ارشاد دے:﴿وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰی بَیْنَهُمْ﴾ [شوریٰ:۳۸]

''او دَ دوی هر کار په مشوره سره وی''

اسلامی شوریٰ په یو کمیټی باندے مشتمله وی چه دَ هغے ارکان علماء ، صلحاء ، صاحب الرائے ، او دین او دنیا باندے پو هیدونکی خلق وی ۔ دَ الله او رسول ﷺ اقوال ، واضحه احکامات او قوانینو نه

علاوه کوم چه هیڅ یو قانون ساز مجلس بدلولے نشی ۔ دَ دے نه علاوه داسے معاملات کومو کښے چه شریعت هیڅ واضح حکم نه وی ورکړے په داسے تمامو معاملاتو کښے مجلس شوریٰ دَ قرآن او سنت او دَ صحابه کرامؓ او امامانوؒ دَ اقوالو په رنړا کښے قانون جوړولے شی ۔

همدا مجلس دَ امیر انتخاب دَ هغه شرائطو مطابق کولے شی کوم چه دَ یو خلیفه او امیر دَ پاره قرآن او سنت او فقهے ښودلی دی۔ دے سره که چرے دَ دغه وخت مسلمانانو کارونه او دَ خلافت ذمه واریٔ په درست طریقه باندے نه تر سره کیږی او په دینی معاملاتو کښے دَ خرابئی صورت په نظر راشی او امیر دے پو هه کړے شی ، یا که امیر نه نعوذ بالله کفر بواح (څرګند کفر) صادر شی نو مجلس شوریٰ هغه لره دَ عهدے نه لرے کولو حق لری ۔ دَ اسلامی حکومت په امتیازی اصولو کښے یو دا هم قابلِ ذکر دے چه کوم سړے دَ یو حکومتی عهدے طالب یا خواهش مند وی نو دغه سړے دَ دغے عهدے قابل نه ګڼړلے کیږی ۔

ابو موسیٰ اشعریؓ فرمائی: چه څما دَ خاندان دوؤ سړو دَ رسول الله ﷺ نه دَ یوے حکومتی عهدے دَ پاره درخواست اوکړو نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه:

﴿اَنَا وَاللّٰهِ لَا نُوَلِّیْ عَلٰی هٰذَا الْعَمَلِ اَحَدًا سَاَلَهٗ وَلَا اَحَدًا حَرَصَ عَلَیْهِ ﴾ [بخاری ومسلم]

په الله قسم چه مونږه څوک داسے سړی ته حکومتی عهده نه حواله کوؤ کوم چه هغے دَ پاره پخپله طلب ګار او حرص کونکے وی۔“

عام اصول خو همدا دی څنګه چه پورته ذکر شوی دی لیکن که چری څوک مخلص بنده په یو خاص موقعه باندی محسوس کړی چه دا اهم خدمت دَ الله په توفیق سره زه په ښه شان ترسره کولے شم نو هغه دَ پاره دا جائز دی چه هغه خپل ځان پیش کړی او دَ حکومت ذمه وار که چری مطمئن وی نو دغه خدمت ده ته حواله کولے شی۔

همدغه شان یو څیز دا هم دے کوم چه په دے سلسله کښے قابل ذکر دے چه دَ حکومت عهدیدارانو له دَ دے خبرے ممانعت دے چه هغوی دے دَ لویو خلقو غوندے دَ اکرام نه ډکه زندګی تیره کړی بلکه هغوی ته حکم دے چه دَ دوی دَ ژوند معیار دے زیات اوچت نه وی ۔

د دوئم خلیفه حضرت عمر فاروقؓ معمول وو چه کله به هغوی یو عهدیدار دَ عهدے چارج اغستو دَ پاره رخصتولو نو په هغه به ئے پابندی لګوله چه دے به په خپله علاقه کښے تاټ باټ سره نه اوسی،په سورلئی او روټئی کښے دے هم دَ اوچتو خلقو طریقه او فیشن نه اختیاروی ، او که چرے هغوی دَ دے هدایت خلاف ورزی اوکړی نو ناهله به اوګرځولے شی او دَ سزا مستحق به وی"

## دَ اسلامی ریاست او خلافت کښے مقاصد او ذمه وارئی:

قرآن کریم دَ اسلامی ریاست دَ ضرورت او تشکیل مقصد دا خودلے دے چه دَ دے په ذریعه دے دَ الله نازل کرده احکام او قوانین عملا نافذ کړے شی ۔ دَ الله دَ عبادت نظام یعنی نظام صلوة او زکواة دے قائم شی او دَ نیکئی اشاعت او دَ بدئی مخ نیوی دَ پاره دے دَ حکومت قوت

په استعمال کښے راوستے شی ۔ څنګه چه فرمان الهی دے:

﴿اَلَّـذِیْنَ اِنْ مَکَّنّٰهُمْ فِی الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُو الزَّکٰوةَ وَاَمَرُوْ بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهَوْ عَنِ الْمُنْکَرِ﴾ [حج:٤١]

" دا هغه خلق دی چه که چرے مونږ دوئ ته په ملک کښے قدرت ورکړو نو دوی به قائم لری مونځ او ورکوی به زکواة او حکم به کوی دَ نیک کار او منع به کوی دَ بدئی نه"

☆ دَ دے آیت نه معلومیږی چه په اسلام کښے حکومت او اقتدار صرف دے دَ پاره مطلوب دے چه اله پرستئی له دے وَده ورکړے شی ، نیکو کاری دے خوره شی او ترقی دے اوکړی او دَ بدکارئی او بد اخلاقئی خاتمه دے اوشی ۔ او دَ دے نه دا هم معلومه شوه چه دَ اسلامه حکومت دَ ټولو نه لویه ذمه واری دا ده چه دَ دے مقصد حاصلولو دَ پاره کوم انتظامات هم ضروری وی هغه دے تر ممکنه حده پورے په کار راوستے شی مثلا دَ دے مقصد تقاضا چه دَ کوم قسم نظام تعلیم وی هغه تعلیمی نظام دے قائم کړی او همدغه شان په خپلو ټولو کاروایانو کښے دے دَ نصب العین په توګه دا مقصد مخے ته اولری۔ علی هذا القیاس دارشاد او احتساب او امر بالمعروف او نهی عن المنکر محکمه دے قائمه کړی ، په وخت راتللو دے دَ خپل حفاظت دَ پاره او دَ اعلاء کلمة الله دَ پاره مقررو شرائطو سره جهاد کوی ۔

☆ دَ اسلامی ریاست دویم مقصددَ امن او امان او عدل قیام دے ، کوم چه دَ اسلامی ریاست اولینو فرائضو کښے دے ،دَ دے دَ پاره چه دَ

رنګ ، نسل ، ملک یا علاقائیت رشتو نه بالاتر کیدلو سره انسانی مساوات ، عدل او انصاف او دَ اخوت تصور قائم شی او ټولے فیصلے په عدل او انصاف باندے مبنی وی ۔ بل دا چه دَ انصاف داسے انتظام دے وی چه هر یو دَ پاره دَ هغے حاصلو آسان وی څنګه چه رسول الله ﷺ او خلفائے راشدینو رضی به کوم خلق دَ یوے علاقے حاکمان یا قاضیان مقررول نو هغوی ته به ئے یو خاص تاکید دا هم فرمائیلو چه دَ انصاف طالبانو او انصاف غوښتونکو دَ پاره دے ستاسو دروازه هر وخت کولاؤ وی او په دروازه دے څوک دربان هم نه وی ، او انصاف دے بالکل بے خاطره وی ، نه دے دَ تعلق په بنا باندے او نه دے په څه بله وجه چا سره دَ انصاف نه خلاف رعایت اوشی او نه دے دَ مخالفت یا عداوت په وجے سره یا په څه بل سبب سره چا سره څه زیاتے یا بے انصافی اوشی ، ورسره دے دَ حقوقو او فرائضو واضحه تقسیم وی ۔ انسانی وینه دے په هر حالت کښے محترمه وی او بے ځایه دے اونه بهیولے شی ۔ دَ ښځو عصمت دے په هر حال محفوظ وی او هغوی دے بے عزته نه کړے شی ټول دے خپل ځان په امن او حفاظت کښے ګنړی او دَ هغوی ځان او مال او عزت او آبرو دے محفوظه اوسی ۔ مختصر دا چه خلق دے دَ هغوی دَ جائزو حقونو مستحق اوګرځولے شی ۔

☆ دے سره سره اسلامی ریاست یو فلاحی ریاست وی کوم کښے چه دَ ژوند هر اړخ تر نظره لرلے کیږی ۔ دَ اسلامی حکومت حیثیت چونکه یو داسے انتظامی او تولیتی ادارے دے کومه چه په اصل کښے

دَ الله دَ طرفنه دَ هغه دَ ملک او دَ هغه دَ رعیت انتظام کولو ذمه وار ده ۔ دے دَ پاره دَ دے دا هم ذمه واری ده چه دا دے دَ خپلو وسائلو تر حده پورے دَ دے خبرے پوره پوره فکر او کوشش اوکړی چه دَ دے زیر انتظام ټولو بندګانو ته دے (دَ مذهب او ملت دَ تفریق نه بغیر) دَ ژوند ضروریات حاصل وی او په هیڅ یو طبقے باندے دے څه نامناسب بوج پرو نه ځی ۔ دَ مملکت غریب ،نادار ، یتیمان او په معاشی منډه کښے روستو پاتے کیدونکو داد رسی دَ اسلامی ریاست اهمه فریضه ده ۔ په دے سلسله کښے دَ زکواة او صدقاتو وغیره په شکل کښے مال دَ دولت مندو نه حاصلولے شی او دَ حاجت مندو ضرورت دے پوره کولے شی۔ په عهد نبوی ﷺ کښے او دَ خلافت راشدهؓ په مثالی دور کښے چه دَ دے تمامو ذمه وارو دَ ادا کولو څرنګ فکر او کوشش کولے شو دَ هغے تفصیلات دَ سیرت په کتابونو کښے کتلے کیدے شی۔ او دَ خلافت او خلیفه لفظ دا ټولے ذمه وارئ خپل ځان کښے ساتلے دی۔

☆ دَ دے نه علاوه دَ حدودو او تعزیراتو نفاذ هم دَ اسلامی ریاست یوه اهمه فریضه ده چه دَ دے په ذریعه معاشره دَ هغه مضراتو نه محفوظ کولے شی څوک چه تعلیمی ، ترغیبی او اخلاقی ذرائعو سره اصلاح نه قبلوی او دَ قانون خلاف ورزی کوی ۔ داسے خلقو دَ پاره اسلام سزاګانے مقرر کړے دی ۔ په اسلام کښے سزا ګانے درے قسمه دی: (۱) قصاص (۲) حدود (۳) تعزیرات

## دَ مسلمانانو کوتاهي:

غرض دا چه اسلامي نظام خلافت او رياست هغه فطري حکومت دے کوم چه دَ الله واضحه احکامو په رنړا کښے دَ انسانانو دنيوي او اخروي کاميابئي ضامن دے ليکن افسوس چه نن په مسلمانانو باندے دَ غيرو فيصلے حاوي دي، دَ کفر قانون نافذ دے۔ليکن دَ مسلمانانو ايماني غيرت دے چه هډو بيداريږي نۀ ۔ دَ مسلمان اسلام صرف مونځ، روژے ، زکواة او حج باندے منحصر شوے دے او صرف عبادت دَ کاميابئي دَ پاره کافي ګنړلے شوے دے ، حال دا چه دَ الله قانون په خپل ځان باندے حاوي او نافذ کول هډو عبادت نه ګنړلے کيږي او منبر او محراب هم دَ دے غير دَ قانون نه خلاف او دَ الله دَ قانون په حق کښے دَ وئيلو توان نه لري ، حالانکه دَ غير او کفر قانون منل او په دے باندے راضي کيدل دَ ايمان او توحيد دَ تقاضے نه خلاف دي۔

کوم سړے چه کوم غير الله ته (خواه که هغه حکومت وي يا دَ چا شخصيت ) دا حق ورله ورکړي چه هغه کوم څيز لره غواړي حلال ئے اوګرځوي او کوم څيز چه اوغواړي حرام ئے اوګرځوي ، دَ کوم څيز نه چه اوغواړي منع ئے کړي او دَ کوم څيز نه چه اوغواړي اجازت ورکړي نو دا سړے دَ ايمان دائرے نه خارج شو ۔ دَ امر او نهي حق او حاکميت مطلق صرف دَ الله تعالیٰ ذات دَ پاره دے او په دے کښے هيڅوک شريکولے نشي ۔ دغه شان دَ قانون جوړولو حق هم صرف الله تعالیٰ ته دے ۔ څنګه چه دَ باري تعالیٰ ارشاد دے:

﴿اَلاَ لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ﴾[اعراف:٥٤]

''خبردار!ټول مخلوق دَ الله پیدا کړے شوے دے او حکم هم صرف دَ هغه دے ۔ ''

دَ الله په نزد دَ اسلامی قانون او شریعت نه علاوه هیڅ یو بل نظام او قانون خوښ نه دے۔

﴿اِنَّ الدِّیْنَ عِنْدَاللّٰهِ الْاِسْلاَمَ وَمَنْ یَّبْتَغِ غَیْرَ الْاِسْلاَمَ دِیْنًا فَلَنْ یُّقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِی الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِیْنَ﴾[العمران:٨٥]

چا چه دَ اسلام نه سوا بل دین تلاش کړو نو دغه دین به هرګز قبول نه کړے شی او دے به په آخرت کښے دَ نقصان موندونکو نه وی''

دَ بعضو حال خو دا دے او بعضے داسے هم دی چه هغوی دَ اسلام او دَ اسلام دَ نفاذ نوم خو اخلی لیکن هغوی په دے کښے مخلص نه دی پاتے۔ دَ دے دَ نفاذ دَ پاره غیر صحیح لاره ئے اختیار کړے ده یا دَ اسلام حقیقی مفهوم نه بے خبره دی ، څنګه چه بعضے مذهبی سیاستدانان کوم چه دَ اسلامی نفاذ دَ جدوجهد دعویدار دی لیکن جمهوری اسلام او دَ جمهوریت دَ لارے نه دَ اسلام نفاذ غواړی ۔ دا خلق دَ اسلامی سیاست په اصولو باندے سیاست نه کوی اګر چه نوم خو دَ اسلامی سیاست اخلی ، ها دا چه دَ دوی سیاست دَ مغربی طرز دروغژن سیاست دے ، هم هغه طرز حکومت ، طرز سیاست او دَ سړی او ښځے مخلوط نظام کوم چه دَ یهودو او هندوانو طریقه ده ، صرف نوم ئے اسلامی دے خو دَ عامو سیاسیانو نه ئے لږ ډیر شکل او صورت جدا دے او بس۔

حالانکه دَ مغربی جمهوریت اسلام سره هیڅ تعلق نیشته ۔
ارشاد باری تعالیٰ دے چه:

﴿وَاِنۡ تُطِعۡ اَكۡثَرَ مَنۡ فِى الۡاَرۡضِ يُضِلُّوۡكَ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ﴾[انعام:۱۱۶]

"که چرے تا په دنیا کښے دا اکثریت تابعداری اوکړه نو هغوی به تا دَ الله دَ لارے نه بے لارے کړی۔"

همدغه شان وے فرمائیل چه:

﴿وَلٰكِنَّ اَكۡثَرَ النَّاسِ لَا يَعۡلَمُوۡنَ﴾[یوسف:۴۰]

"لیکن اکثر خلق نه پو هیږی ، علم نه لری۔"

الله تعالیٰ دَ اکثریت په باره کښے دا فیصله ورکړه چه دا په بے علمه خلقو باندے مشتمل وی او دَ اکثریت او جمهوریت تابع کیدل گمراهی ده ۔ اوس کوم خلق چه مطلقا په مغربی جمهوریت باندے یقین لری او دا گنړی چه اکثریت ته دَ حاکمیت حق دے یا اقتدار اعلیٰ دَ عوامو حق دے نو هغوی په همدے زمره کښے شاملیږی او دَ هغوی عقیده دَ قرآن مجید دَ دے واضحه حکم سره ټکراویږی چه:

﴿اِنِ الۡحُكۡمُ اِلَّا لِلّٰهِ﴾[یوسف:۴۰]

"دَ حاکمیت او قانون سازئ حق خو صرف دَ الله دَ پاره دے"

واضحه دے وی چه اسلام دَ نظامِ شوریٰ اجازت ورکوی خو په دے کښے حاکمیت صرف دَ الله سبحانه وتعالیٰ وی ۔ اسلام په هیڅ حالت کښے هم دَ عوامو اکثریت ته دَ حاکمیت حق نه ورکوی او نه اسلام نیک او فاجر په یو مقام باندے اودروی ، څنگه چه په مغربی

جمهوریت کښې خر او اس بالکل برابر وی۔

پس هر هغه نظام کوم چه دَ غیر الله حاکمیت طرفته بوتلل کوی هغه خالص کفر دے ولے چه په هغے کښې دَ تشریع او قانون سازئی حق دَ غیر الله لاس ته ځی ۔ کوم شے چه غیر الله حلال اوګرځوی هغے ته دوی حلال وائی او کوم ته چه غیر الله حرام اووائی هغه حرام شی نو دا صریح کفر دے۔

کوم سړے چه په غیر اسلامی قانون یا غیر اسلامی نظام کښې په دا شان ژوند تیروی چه دَ هغه په زړه کښې هیڅ خلش نه پیدا کیږی او په غیر شرعی نظام باندے دے دَ زړه او دماغو په یو ځائے والی سره راضی وی نو دَ دے سړی اسلام سره هیڅ تعلق نیشته او دے په کلمه طیبه باندے هیڅ ایمان نه لری۔

همدغه شان کوم سړے چه په اسلامی نظام کښې خو ژوند تیروی لیکن په زړه کښې دے شرعی قوانین نه خوښوی او شرعی قوانین دَ عقل نه خلاف ګنړی نو دے هم دَ اسلام دائرے نه خارج دے ، کافر ، ظالم او فاسق دے ۔ دَ باری تعالیٰ ارشاد دے:

﴿وَمَنۡ لَّمۡ يَحۡكُمۡ بِمَا اَنۡزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡكَافِرُوۡنَ﴾[مائده:٤٤]

" او کوم خلق چه دَ الله نازل کرده احکامو او قوانینو مطابق فیصلے نه کوی نو دغه خلق کافران دی۔"

﴿وَمَنۡ لَّمۡ يَحۡكُمۡ بِمَا اَنۡزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ﴾[مائده:٤٥]

" څوک چه دَ الله نازل کړی قانون او شریعت باندے فیصلے نه

کوی هغوی ظالمان دی۔“

﴿وَمَنۡ لَّمۡ يَحۡكُمۡ بِمَا اَنۡزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡفَاسِقُوۡنَ﴾[مائده:٤٧]

” ځوک چه دَ الله نازل کړی قانون او شریعت باندے فیصلے نه کوی هغوی فاسقان دی۔“

او بعضے کسان په دے ملک کښے دَ اسلام نفاذ خو غواړی لیکن دَ ماډریټ اسلام نفاذ ، ماډرن او جدید اسلام ۔ دَ دوی په نزد ماډرن اسلام ، دَ اسلام یو نوے ماډل دے کوم چه په خپله لمنه کښے بے انتها وسعت او لا محدود امکانات لری ۔ په حقیقت کښے دوی مکی او مدنی اسلام فرسوده (او بیکاره) ګڼړی او دَ اسلام نوے ایډیشن مسلمانانو ته وړاندے کولو کوشش کوی ۔ دَ دوی په دے جدید اسلام کښے نفس پرستی او خدائے پرستی یو ځائے چلیږی چه

شیطان دے هم خوشحاله وی ، رحمان دے هم خوشحاله وی۔

په دے اسلام کښے سود دَ معیشت لازمی جزء ګرځولے کیږی او رقص وسرور دَ فنونِ لطیفه او ثقافت حصه ګڼړلے کیږی ، بے پردګئی ته دَ جواز سند ملاؤ دے ، دَ سړی او ښځے اختلاط دَ جدید تهذیبی روایاتو تقاضا ګڼړلے کیږی۔ دے نه علاوه هم ګڼړ منکرات او ممنوعات دی چه دَ هغے دَ مشرف با اسلام کولو په دے ماډرن اسلام کښے کافی ګنجائش شته دے۔

دغه شان بعضے تش په نوم مسلمان لبرل سیکولر ذهنیت والا خلق خو په ډاګه اسلامی قوانینو او اقدارو پورے خنداګانے کوی ۔ کله

چـه اسـلامـی نـظـام دَ نـفـاذ او دَ خـلافت خبره راشی نو دے ته فرسوده ، غیرمنصفانه او ظالمانه وائی او دَ دے قوانین او حدود وحشیانه گرځوی ـ حقیقت دا دے چه په خلقو کښے دَ رتئی هومره ایمان هم نیشته او نه دَ دوی اسـلام سـره څـه تـعلق شته ـ دے دوؤ موخر الذکر خلقو له دَ تهولو نـه زیاتـه غـصـه پـه ملا باندے ورځی او وائی چه دا ''ملا ازم'' دے۔ هم هغـه حق پـرست ملا کوم چه په یو نیم زر کالو کښے دَ علم او عمل په اسمان باندے ځلیدونکو ستورو پشان دَ علماؤ ، محدیثینو او مفکرینو پـه فهـمِ دیـن باندے اعتماد کوی او هیچا له دَ کتاب او سنت دَ نصوصو مـن مانی تشریح کولو اجازت نه ورکوی ـ که چرے علماءِ حق نه وے نو نـن بـه دین نه وو ـ هاؤ مونږه منو چه هغه دنیا پرست ملا دَ چا چه حق سره هیڅ کار نه وی سوا دَ خپل مفاد نه ، دَ هغه مونږه هم خلاف یو ، او نهٔ هغوی په عالمانو کښے شمار دی۔

زمـونـږ دَ دے جـمـهـوریـت حـامیـانـو، مـاډریـټ اسلام او سیکولر ذهنیت والؤ ته دا گذارش دے چه دَ خدائے دَ پاره په خپلو ذاتی خواهشاتو او مغربی ترجیحاتو باندے دَ اسلام لیبل مه لګوئ او دَ ترقئی دَ منډے مگرتیا کـولـو کښے دومـره لـرے مـه اوزئ چه صرف ماډرن والے باقی پاتے شی ، دَ مغرب خوشنودی حاصله شی او اسلام (خدائے مه کړه) ختم شی۔

اوس کـه چـرے دا سـوال پیـدا شـی چـه دَ اسلامی سیـاست او ریـاسـت (خـلافت) قائمولو یا حاصلولو صحیح طریقه به څه وی؟ نو دَ دے جـواب دا دے چـه دَ قـرآن او سـنت او سلفو صالحینو دَ طرزِ عمل نه

دوه طریقے معلومے دی۔ یو جهاد چه دَ هغے مثال په مکه کښے دَ اسلامی ریاست او خلافت قیام کوم چه دَ جهاد په ذریعه عمل کښے راغلو ۔ او دویمه لاره په عامو مسلمانانو کښے دَ تعلیم او تربیت او قرآنی درسونو په ذریعه دَ ذهنی انقلاب پیدا کولو نه پس دَ سیرت مطهره په رنړا کښے منظم جدوجهد کوم باندے چه دَ نبی کریمﷺ ژوند گواه دے ۔ چه په مدینه کښے دَ اسلامی خلافت قیام په ذهنی انقلاب او اصلاح سره په وجود کښے راغلے وو۔ دَ دے نه علاوه دَ اسلامی ریاست قائمولو دَ پاره مغربی انتخابات او الیکشن ذریعه گنړل یو غلطی ده۔ ولے چه دا طرز کفری او دَ جمهوریت دے ۔ نه په دے طریقے سره چرے اسلام مخکښے راغلے وو او نهٔ راتلے شی او که چرے راشی هم نو مکمل نظامِ خلافت به نه وی دَ کوم مشاهده چه مونږه بار بار کړے ده۔

## دَ دے دَ پاره طریقه کار:

زمونږه جماعت اشاعت التوحید والسنه دَ سیاست په باره کښے دَ مغرب نه درآمد شوؤ دستوری ،قانونی او جمهوری اصولو په ځائے صرف دَ خاص شرعی سیاست او طرز حکومت او خلافت قائل دے کوم چه دَ قرآن وسنت نه ماخوذ او دَ خلفائے راشدینوؓ او اسلافِ امت دَ روایاتو مطابق وی ۔ دا جماعت دَ نورو پشان صرف دَ څو خبرو او ناتمامو حدودو نافذ کولو یا صرف اقتدار حاصلولو خلافت او دَ اسلام اقامت او نفاذ نه گنړی بلکه زمونږه نظریه دَ شاه ولی اللهؒ دا فلسفه ده چه : ''فَكُّ كُلِّ نِظَامٍ'' یعنی ټول نظام بدلول پکار دی۔

دے دَ پاره مونږ دَ دے تمام دین بیانونکی داعیان او دَ ده دَ نفاذ دَ پاره متحرک یو ۔ مونږه دَ ژوند ټول ډهانچه بدلول غواړو، دَ عقائدو درست والی نه پس معیشت لره هم ، تجارت هم ، معاشرت او اخلاق هم او سیاست لره هم، او دا دَ اسلام په ډهانچه کښے برابرول او په دے کسوټئی باندے چیک کول غواړو۔

دَ ټولو نه مخکښے دَ مسلمانانو عقائدو درست کولو کوشش دے ، تر څو پورے چه عقائد درست نه وی نو په باقی دین باندے دَ عمل یا دعوت څه فائده۔ دَ عقائدو درست والی نه پس دَ مسلمانانو عبادات ، اخلاق ، معاملات او معاشرت باندے زور ورکول ضروری دی دَ دے دَ پاره چه دَ ژوند دا تمامے شعبے درست شی ، دَ دے نه مسلمان خبردار شی او دَ دے ادا کونکی او په دے باندے عمل کونکی شی ۔ کوم ځائے پورے چه دَ اسلامی خلافت او دَ اسلامی نفاذ تعلق دے نو مونږه جماعت دے دَ پاره دَ قرآن او سنت او نهج نبوی ﷺ مطابق کوشش کوی۔

دَ اسلام مزاج، دَ مسلمانانو مخکښنی تاریخ او دَ خپلے زمانے احوالو باندے غور کولو نه پس مونږ ته په دے کښے هیڅ شک او شپه نیشته چه په کومو علاقو کښے مسلمانان دَ الله په فضل سره اکثریت کښے دی او هلته اقتدار دَ مسلمانانو په لاس کښے دے هلته هم په صحیح معنو کښے دَ اسلامی حکومت جوړولو ربښتنئی خواهش لرونکو دَ پاره دَ ټولو نه ړومبے بنیادی کار دا کولو همدا دے چه دَ هغه ځائے دَ مسلمانانو ژوند دے دَ ایمانی او اسلامی جوړولو کوشش اوکړے

شی۔ او دَ ژوند ایمانی او اسلامی جوړولو مطلب او دَ دے معیار دا دے چه دَ دنیا فکر او محبت باندے دَ آخرت فکر او محبت غالب شی او دَ رضائے الهی طلب کولو او دَ آخرت دَ ثواب په طمع کښے دَ نفس خواهشات قربانول دوی دَ پاره اسان شی ، په مسلمانانو کښے چه تر څو پورے په وسیع پیمانه باندے دَ اصلاحی جدوجهد په ذریعه تبدیلی رانشی نو کم از کم زمونږ په دے زمانه کښے دَ هغے ځائے دَ حکومتونو په صحیح معنیٰ کښے اسلامی حکومت جوړیدل به محض یو خوب وی ۔ دا لاره اگرچه بے مزے او دَ یر طلب ده لیکن لاره په حقیقت کښے صرف همدا ده او دے نه سوا کومے لارے چه خلقو مختصر گنړلے دی او وربانڈے روان دی مثلا مغربی جمهوریت وغیره ۔ نو دا په اصل کښے دے منزل ته رسولو والا لارے هرگز نه دی۔

په عقائدو او پاسنو دَ دین شعبو باندے محنت سره سره خلق دے دَ اسلامی قانون فوائدو او اهمیت او دَ کفر دَ قانون نقصاناتو نه خبردار کړے شی۔ په دے ضمن کښے دَ ابتدائی مراحلو په طور باندے هغوی دے په دے باندے اماده کړے شی چه هغه احکام او قوانین چه بغیر دَ حاکم او خلیفه نه دَ عوامو په مابین کښے وی په هغے دے عمل درآمد اوکړی، واړه واړه مقدمات دے په جوماتونو او خپلو محلو کښے دَ عالمانو په نگرانئی کښے دَ قرآن او سنت مطابق حل کړی، ولے چه دَ اسلامی قانون او شریعت تقریبا دوه حصے احکام او دَ هغے نفاذ دَ عوامو په لاس کښے دے چه هغه ته احکام رعیت یا دَ تدبیر منزل

احکام وائی۔ باقی تقریبا یوه حصه احکام کوم چه دَ راعی او حاکم او خلیفه په ذریعه نافذ کیدے شی هغے دَ پاره هم ورسره ورسره جدوجهد کول پکار دی ، او که په دے لاره کښے څوک ظالم رکاوټ جوړیږی نو بیا به هلته دَ جهاد په ذریعه دغه رکاوټ ختمول وی۔ په دے طرز باندے دَ شریعت نفاذ دَ پاره په دے ملک کښے واحد جماعت اشاعت التوحید والسنت کوشان دے ۔ چرته چه دَ دوی اکثریتی علاقے دی هلته دَ قرآن درسونو په ذریعه په خلقو کښے ذهن سازی شوے ده هلته الحمد لله حتی الوسع دَ ابتدائی مراحلو کار شروع دے او دَ دویمے مرحلے یعنی نفاذ دَ پاره په جهاد کښے هم دَ دے جماعت نوم سرفهرست دے۔ دَ کوم مثال چه قبائلی علاقو او ملاکنډ ایجنسئی کښے نفاذ شریعت دَ پاره بے مثاله قربانئے او شهادتونه دی۔

اګرچه دا لاره دَ ازغو ډکه ، دَتکلیفونو او مشکلاتو نه پُر او دَ قربانو ضرور ده خو بار آوره (میوه داره) ده۔ ولے چه په دے دنیا کښے هر یو کار کښے کامیابی قربانئی سره مشروط ده ۔ انشاء الله هغه وخت لرے نه دے چه مونږ به دَ اسلام بهار په خپلو سترګو ووینو ۔ لیکن کامیابئی دَ پاره دے دَ دے لاره شرعی وی ، نه چه دَ سیاسیانو پشان دَ مغربی جمهوریت لاره یا دَ ماډریټ اسلام والو لاره ۔ که چرے دَ دوی اختیار کرده طریقے سره اسلام راتلے نو ډیر مخکښے به راغلے وو ، ولے چه دَ دے خلقو دَ دے جمهوری طریقے اختیارولو پاکستان کښے دَ نیمے صدئی نه زیاته موده تیره شوه ، لیکن مونږه اوسه پورے دلته اسلام

اونه ليدو ۔ حالانکه دَ دوی حکومتونه لاړل ، راغلل ۔زمونږه ګڼ ارکان او علماء په دے لاره کښے شهيدان شو ۔ دَنفاذ شريعت پاداش کښے دَ جيلونو تکليفونه ئے برداشت کړی دی او برداشت کوی ئے۔

الحمد لله دا هم زمونږه کاميابی ده که چرے نن مونږ ته کاميابی ، غنيمت او دنياوی فتوحات ملاؤ نه شو نو شهادت او اخروی فتوحات يقينا حاصل شو ۔ نن کار صرف دَ دنياوی کاميابئی دَ پاره نه بلکه دَ ايمان دَ تقاضے دَ پاره کول پکار دی او په همدے کښے زمونږه عافيت دے۔

که چرے دَ ايمان څه هم حرارت په مونږ کښے موجود وی نو مونږ دَ هغے په مدد سره دَ دے فتنے مقابله کولے شو، او همدا زمونږه ذمه واری او فرض دے ۔ که په دنيا کښے مونږ ته څه ملاؤ شی او که ملاؤ نشی مونږ ته شهادت او دَ آخرت کامبئی ضرور ملاويدے شی ، او که زمونږه څه بچ پاتے شی او که نشی ، زمونږه ايمان باليقين خو محفوظ پاتے کيدے شی ۔ الله تعالیٰ دے مونږ ته دَمکمل دين پوهه ،په دين باندے عمل او مخکښے په خپل ځان او بيا په ملک او په دنيا کښے دَ دے دَ اقامت او نفاذ توفيق او همت راکړی او مونږ ته دے دَ سستيا او تغافل نه نجات راکړی ۔ آمين وما علينا الا البلاغ

☆☆☆

# مراجع


| | |
|---|---|
| اسلام کے بنیادی عقائد | علامہ شبیر احمد عثمانیؒ |
| عقائد الاسلام | شیخ عبد الحق دہلویؒ |
| عقائد الاسلام | مولانا محمد ادریس کاندہلویؒ |
| البصائر | شیخ القرآن مولانا محمد طاہرؒ |
| جواہر التوحید | شیخ القرآن غلام اللہ خانؒ |
| وجود باری تعالیٰ اور توحید | ڈاکٹر غلام مرتضیٰ شہیدؒ |
| القائد فی العقائد | علامہ محمد حسین شاہ نیلویؒ |
| گلدستہ توحید | مولانا سرفراز خان صفدرؒ |
| عقیدہ توحید اور رد شرک | بندہ محمد ایاز |
| اسلام کا اخلاقی نظام | قاری طیبؒ |
| اخلاق و فلسفہ اخلاق | مولانا حفظ الرحمٰن سیوہارویؒ |
| جامع الاخلاق | مولانا عاشق الٰہیؒ |
| تزکیہ نفس اور تہذیب اخلاق | مولانا احتشام الحق کاندہلوی |
| اسلام کا نظام تقسیم دولت | مفتی محمد شفیعؒ |
| اسلام کا اقتصادی نظام | مولانا حفظ الرحمٰن سیوہارویؒ |
| صفائی معاملات | مولانا اشرف علی تھانویؒ |
| اسلامی معاشیات | سید مناظر احسن گیلانی |
| ہمارا معاشی نظام | مفتی تقی عثمانی صاحب |
| اسلام اور جدید معیشت و تجارت | مفتی تقی عثمانی صاحب |

| | |
|---|---|
| یورپ کے تین معاشی نظام | مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب |
| اسلامی معاملات اور اسکی اصطلاحات | بندہ محمد ایاز |
| اسلامی تہذیب | اشرف علی تھانویؒ |
| آداب زندگی | اشرف علی تھانویؒ |
| اسلامی تہذیب وتمدن | قاری طیبؒ |
| فطری حکومت | قاری طیبؒ |
| السیاسۃ الاسلامیہ | مفتی رشید احمد لدھیانویؒ |
| مسئلہ خلافت | مولانا ابوالکلام آزادؒ |
| مسلمانوں کا نظمِ مملکت | مولانا علیم اللہ صدیقیؒ |
| خبرے شل سرئے یو | شیخ علامہ ولی اللہ کابلگرامی |
| اعلام الاعلام بمفہوم الدین والاسلام | شیخ علامہ ولی اللہ کابلگرامی |
| دین وشریعت | مولانا محمد منظور نعمانیؒ |
| تعریف عام بدین الاسلام | شیخ علی طنطاوی دمشقی |

☆☆☆